Vol. 15, no. 3

کابل

وئې وایاست :

۱ :ـ د ژبې سیندو نه ایکل ۲ :ـ دعلم احسان اوور کړه

۳ :ـ اوسنی ادب ٤ :ـ وینا ـ یا ـ خطابه

٥ :ـ په پښتو کښې دنور وژبو د الفاظو قانون

THE LIBRARY OF
CONGRESS
SERIAL RECORD

SEP 20 1945

COPY
INT'L EXCHANGE

۱۷۱

ورکه رڼا

له خواږه خوبه‌را وېښ شوم هلته‌لری څه رڼاوه
خدای خبردی چه ډیوه وه‌او که ستر که دسباوه

پسې ووتم له کوره رانه ور که شو له لاره
گرزیدمه هر طرف‌ته دورك نور لیدو دپاره

چه فکرونه ایسا ریږی هسی شان لوړی ژورې
مخکښې راغلی ورسره هم‌په هوا کښې توری‌لړی

شپه تیاره‌وه په‌اسمان کښې پیداشوی سخت‌طوفان‌و
سخت باران سخته سیلی‌وه ډك‌له‌و همه‌تور جهان و

راسره که څه دعقل او حکمت لږه رڼاوه
هومره ژر له‌لاسه لاړه ته به‌وائی‌چه بریښناوه

په نامه دحقیقت ما لټو له خپله ور که
خپل ځان هم‌را ځنی‌ورك شو خبر نشومه له څر که

څوك چه‌اوزی‌له خپل‌کوره‌دائی‌حال‌دائی‌احوال‌شی
چه‌اسرار دجهان‌غواړی‌ور ته‌پیښ هسی جنجال‌شی

په‌دی‌سیراو سیاحت‌کښې چه‌معلوم‌شوه مشکلات‌و
څو قدمه هغی خواته هرڅه‌ورك‌او ظلمات و

بی حیرته نورڅه نشته پدی لاره کښې هرگوره
که له دې تیاری ځان باسی سکندره‌ا خضر گیوره

کامیابی دې که په کاروی چه کړی فتح هوادونه
ارسطو او افلاطون ته‌پریږده دغه ورك‌فکرونه

(الفت)

(۱۵) کال جوزا ۱۳۲٤ (۳) کڼه

کابل

ادبی، اجتماعی، تاریخی

میاشتنۍ مصوره مجله

چلوونکی : کل پاچا «الفت» دپښتو ټولنې مېښر
او د صحافت مدیر
پته : پښتو ټولنه ، دابن سینا واټ
تلګرافی پته : کابل : پښتوټولنه
ټول لیکونه ع ، ص عبدالحی خان « حبیبی » دپښتو ټولنې کفیل او د ادبیاتو دفاکولتې
رئیس ته کېږی

اشتراک

کابل	۲٤	افغانی
دننه مینه	۲٦	«
دباندی،	۱	سترلنګ پونډ
دښوونځو زده کوونکی ته	۱۰	افغانی

ددې ګڼې لیکونکی

لیك	لیکونکی	مخ
- د ژبې سیندونه لیکل	ښاغلی «حبیبی»	۱
دعلم احسان اوور کړه	« «واسعی» اقتباس	٤
دبلوغ ددوری تاثیر	د « «سعید» «	۹
ډبرینه ښکلا	« « «حبیبی»	۱۱
دشوقین	« محمد اجمل خان	۱۳
څلور ریزی	مرحوم «مخلص»	«
مناسب دی	ښاغلی عبدالهادیخان	۱٤
هغه زه یم	« «عزیزی»	«
نه پوهیږم	« «مفتون»	«
غزل	« «نور»	۱۵
دیوه ناروغ پردیس زلمی دمینی ډکه ناره	« «روښان»	«
ستادلاسه	« «	۱٦
دوطن دمینی لندی	« «انګار»	۱٦
ستا دلاسه	« «بیزار»	«
ناکام مین	« «	۱۷
نوڅه ده؟	له «طلوع» څخه	«
پخه وینا	« «	«
مین مشی	ښاغلی «نور»	۱۸
وایم څه	« «غریب»	«
- غوره سندری		۱۹
- دهلکانو لوبې	ترجمه کوونکی د صحافت څانګه	۲۰
سپین ګل	د «نظامی» ترجمه	«
- څه دی؟	« ښاغلی محمدعمرخان «نعیمی» ترجمه	۲۲
- اې ښځی	« « « « «	«
طبیعی ښکلا	« «پرهیز»	«
دغلا خبری	« «جرار»	۲۳
دالار ...	« «پروانه»	۲٤
ژبنی پوهنی	د « «رشتیا» ترجمه	۲۵
دناول منازل	« « «مفتون» «	۲۷
ادبی سند	«الفت» «	۲۸
وینایا خطابه	« «بینوا»	۲۹
- دادبیاتو په تاریخ کښې دتحریری لهجو مقام	« «تره کی»	۳۱
- په پښتو کښې دنوروژبو دالفاظو قانون	« «رشتین»	۳۲
- دنوروژبو لغات په پښتو کښې څنګه قبول کړو؟	« «پښتون»	۳۵
- دځینو قلمی نسخونوی معلومات		۳٦
د کابل ۱۷۰ ګڼه	ښاغلی «اغزی»	۳۸
څه وکړم چه شاعر نه یم	« «لیونی»	٤۲
له زاخیلی نه تشکر	« «بینوا»	٤۳
انسان څرنګه شاعر کیږی؟	« «نوابی»	٤۵
- دافغانستان پخوانی تاریخ	« «کهزاد»	٤٦
- ټوکی ټکالی	صحافت څانګه	٤۸
- ملی هنداره	ښاغلی «نوری»	
عکسونه (۲) قطعی		

ژبنۍ څېړنې

دژبې سیندونه لیکل

ښاغلی حبیبی :

اکثر خلق چه دپښتو له ژبنیو مباحثو سره دلچسپی لری، وایی : چه باید ددغی ژبی لغات او کلمات ټول شی او په عصری ډول ئې قوامیس و کښل شی

داخبره په لمړی نګاه، ډېره بسیطه او آسانه معلومیږی، خو که سړی د عمل میدان ته داخل شی، نو ډېره ګرانه ده او ډېر لوازم او ضروریات لری، چه د هغو ټولو سره غنډول د کلو کلو کار دی، او هم دیوه سړی له لاسه نه ده پوره.

که مونږ د نورو ژبو تاریخی سیر ته وګورو یا دژبو ژوندانه مراحل ځانته معلوم کړو، نو به دا را ښکاره شی، چه دژبی لغات او کلمات او ټول مواد غونډول څونی ګران کار دی ؟ او څونی وختونه غواړی.

دمثال په ډول زه دلته ددوو شرقی ژبو ته په یوه تاریخی سترګه ګورم : لمړی ژبه عربی ده؛ چه په شرق کښې خورا ډېره خپره ده، او له دوولس سوه کاله را پدی خوا روزله کېږی، او ایشیائی متفرق ملل ئې په چوپړ اخته ده، په دغه دوولس قرنه کښې ددغی ژبی په سوو قوامیس کښل شوی دی، پخپل عربو او نورو افریقائی او ایشیائی مللو په دغه کار کښې ګرانبها آثار کښلی دی، دجوهری لغت او دفیروز آبادی قاموس او دابن منظور افریقی لسان العرب مشهور کتب دی، او داسی نور مشهور قوامیس هم داژبه لری، خودا ټوله کافی ندی، او دمصر او نورو عربی ممالکو پوهان اوس هم په دی فکر کښې دی، چه یو (مجمع اللغة العربیه) بایدوی، او نور عصری قوامیس ولیکی.

دپارسی ژبی دقوامیسو لیکنه هم له ډېره وخته څخه شروع شوې ده، داسدی لغت فرس دپنځمی هجری پېړی لیک دی، او وروسته (السامی فی السامی) او نور د ژبی کوچنی او غټ سیندونه لیکل شوی دی ؛ داسلسله تر اوسه جاری ده، په نږدو کلو کښې فرهنګ نظام په پنځه جلده کښې چاپ شوی دی، او په تهران کښې دسعید نفیسی له خوا یو د ایرة المعارف غوندی لغت هم شروع شوی دی، چه لمړی ټوک ئې ما لیدلی، او دا کتاب علاوه پر عمومی معلوماتو دلغاتو قاموسی ابحاث هم لری.

مقصدمی پدی تذکار کښې داؤ چه دژبو دارتقاء او تکامل سیر په سوو سوو کتابو او څو پېړیو مسلسل جهد هم نه پوره کېږی، او هره زمانه ځان له مقتضیات لری چه ژبه له هغو سره باید ځان برابر کړی، نو ځکه په هره زمانه کښې دژبو نوی نوی قوامیس کښل کېږی، او هر مؤلف غواړی، چه دخپل عصر له احتیاجاتو سره سم دخلقو د استفادې لپاره یو اثر وړاندی کړی.

دپښتو ژبې دلغاتو او کلماتو دټولو او تاریخ هم پخوانی دی، دا احمد شاه بابا په عصر کښې پیر محمد کاکړ په دې خیال یو څه لغات سره غونډ کړل، وروسته هند د بریلی په روهیل کهنډ کښې د مرحوم حافظ رحمت خان په کورنی کښې دا کار شروع شو؛ او دده ځوی الله یار خان بړیڅ په (۱۲۲۸ه) عجایب اللغات و کیښ، چه پښتو لغات ئې دهندی او عربی او پارسی سره یو ځای راوړی دی، او ددې کتاب قلمی نسخه دلندن په موزیم کښې شته، او د شرقی آثارو تر (۳۹۹) نمبر لاندی د هملتون په مجموعه کښې ضبط ده.

تر دې وروسته دوو تنو انګلیسی پوهانو دوه د پښتو سیندونه وکښل، چه هر یو تقریباً لس زره لغات لری، او پخپله ژبه انګلیسی ئې شرح کړی دی، لمړی قاموس دراورټی دی او دوهم د مستر بیلیو دی، چه دواړه تقریباً شپیته کاله د مخه چاپ شوی هم دی، تر دې وروسته د پښتو ژبې یو ورک قاموس د (۱۳۰۳ ش) په حدودو کښې پښتو مرکې په کابل کښې کښلی و، چه د دغه کتاب یوه کوچنی برخه زما څخه قلمی پاته ده، او نوری برخی ئې متأسفانه ورکی شوې، او د علم دښمنانو غلا کړې، او ..... تر دې وروسته یو د پښتو سیند چه تقریباً پنځه زره لغته لری، د کابل په مطبعه کښې د ښاغلی مومند له خوا چاپ شو، او بیا د پښتو ټولنی د لغاتو څانګی د ښاغلی محمد اعظم خان ایازی په مشرتوب د پښتو لس زره لغتونه سره را ټول کړل، او په کوچنی تقطیع ئې چاپ کړل.

ها، یو بل کتاب هم په پښور کښې ښاغلی راحت زاخېلی د پښتو لغاتو په نامه له اردو شرح سره چاپ کړی دی، چه ډېر غنیمت دی، او تقریباً لس زره لغتونه پکښې خوندی شوی دی، چه اکثر ئې دهندی ژبو او پښتو ترمنځ مشترک دی.

که تاسی په غور وګوری، زمونږ ژبه دلغاتو او کلماتو لامله تر نورو شرقی ژبو پاته نده، مګر عربی او پارسی دواړه په سووسو وسیندونه او لغتونه لری، خو زمونږ ژبه بدبختانه دغسی پاته ده، او تر اوسه دغه اته نه دلغتو ناقص کتب پکښې کښل شوی دی، چه هغه هم چاته نرسېږی، ځینی ورک او ځینی چه چاپ شوی دی، هم نایاب دی، که تاسی په بازار کښې وګرزی، په کتب فروشی کښې ضرور د عربی او پارسی دوه درې جلده دلغاتو کتب موندلای شی، مګر د پښتو دا به یو نه وی، درې څلور کاله پخوا چه د پښتو لس زره لغتونه پښتو ټولنی چاپ کړه، هغه هم اوس نه پیدا کېږی، خلق لی به لیه پسی ګرزی!

تاسی به و وایاست: چه دا خود پښتو ټولنی وظیفه ده، نو چه تاسی کار نه کوی، له نورو څخه ګله نشته! مګر دا خبره هم ډېره منطقی نده، ځکه چه د ژبې جامع قوامیس لیکل، د یوه یا دوو دروتنو کار ندی، د هر ځای او هری خوا لغات او کلمات باید بېل خلق او ډلی ټولی کړی، او په یوه مرکز کښې تر تحقیق او مقابلې لاندی ونیسی، څو چه د ژبې فی الجمله مکمل قاموس ترتیب شی.

پښتو ټولنه یوه د لغاتو څانګه لری، چه درې څلور تنه کار پکښې کوی، دوی چه هر څونی کلمات او لغات په دغه خپل محیط کښې ټولولای شی، ټولوی ئې! تر اوسه چه مونږ په دغه خپل چاپېر کښې لاس وپښې وهلی دی، تقریباً د ژبې د شلو تر (۲۵) زرو لغاتو خاوندان شوی وو، مګر له تجربو څخه راښکارېږی، چه دا ژبه خورا ډېر ورک مواد لری، چه ټولول ئې هم آسان کار ندی.

د تېر کال په وروستنیو میاشتو کښې مونږ یو اقدام وکړ، او د پښتو لغاتو د هغو موادو ټولول مو شروع کړه، چه زمونږ څخه نه وه، په درې څلور میاشتی کښې تقریباً زر (۱۰۰۰) داسی لغات لاس ته راغلل، چه مونږ هیڅ نه وه اروېدلی، او نه مو په خپلو ذخایرو کښې لرل.

له دې تجربوی اقدامه نو دا نتیجه اخلو: چه د ښارو په چاپېر کښې لا هم ډېر مواد لرو، چه ضبط شوی ندی، که څه لیری ولاړ شو او دغرو اورغو په کښتو ژورو کښې وګرزو، زه یقین لرم، چه په سل کښې شپیته مواد د ضبط قابل دی، او دا ژبه دستی په دستی تر سلو زرو پوری مستعمل او ژوندی، اما منزوی

لغات لری ، چه را تولول ئې هم ډېره ګرزېدنه او پلټنه غواړی .

دژبې په خصوص کښې زمونږ او ټولو پوهانو آمال ډېر وسیع دی ، اوهم په دغه اومیند ژوند کوو ، چه داژبه باید ژبه کړو ، او ټول د عصری ژوندانه لوازم ورته بشپړ کړو ، پخپله پښتو ټولنه هم ددغه کار لپاره جوړه شوې ده ، اومونږ دخپل قدرت اوتوانه سره بخت یو .

اوس زمونږ دپښتو یو نسبتاً مفصل قاموس په لاس کښې دی ، چه لجنې برخې لې فقط طبع اوچاپ ته منتظری دی ، دا کتاب که چاپ شی ، د پښتو تقریباً پنځه و پښت زره لغات او مصادر او تقریباً لس زره محاورات او مختلف تعابیر پکښې موندل کیږی ، دمصادرو مشهور مشتقات هم ضبط شوی دی ، اود او سنی عرفانی او مدرسی احتیاجاتو لپاره مفید دی .

مګر زمونږ آمال ډېر دی ، اوپه داسی یوه قاموس نه قانع کیږو ، باید ددغه قاموس ترطبع اونشرورسته په یوه بل مهم کار لاس پوری کړو ، اود پښتو لیکوال اومهم خلق دې لوری ته متوجه کړو ، چه دژبې یوغټ اوډېر مفصل قاموس ولیکی . ددې آینده مهم امل اوغټ ا ومیند نقشه زه داسی دتصور او تخیل پر کاغذه انځور کوم :

۱ ـ داغټ قاموس باید د پښتو ټول مستعمل لغات ضبط کړی ، اوداډلی به وي :

(الف) د پښتوخپل سوچه لغات (ب) مفقن لغات او دخپل مواد (ج) د پاړ سو او هندی ژبو سره مشترك لغات (د) دژبې اصطلاحات او محاورات او مخصوص تعابیر او ترمونه (ه) مصادر (و) روابط ، ادات ، حروف ، لواحق ، سوابق (ز) د پښتومخصوص اعلام اونومونه (ح) د پښتو هغه لغات او کلمات چه متروك شوی دی ، او پخوامستعمل وه اونور ، نور . . .

۲ ـ دشرح او تفصیل لا مله باید دا مواد مراعات شی : (الف) دلغاتو حرکات او صوتی خصایص (ب) دلغاتو او کلماتو ګرامری هویت او کیفیت (ج) په ژبه کښې داستعمال مختلف موارد (د) دلغاتو داوښتنی اوتغیراتو مواردد استعمال لامله (ه) محاوروی استعمال د مثاله سره (و) ادبی استعمال له ادبی مثالو سره ، دپخوانو اوستادانو له کلامه (ز) دلغت ریښه معلومول او دمقایسوی فیلالوژی لامله ئې تحقیق ، او که ممکنه وی د کلمې تاریخی تحول دمعنا او لفظ لامله ښوول (ح) مفقن اودخپل کلمات خپل اصل ته رجع کول اودهغو د تحول لاره ښوول ، اودخپل اصل لامله ئې تشریح کول .

(ط) د کلماتو صحیحه اوداسی املا ضبطول چه هغه دویلولامله اسانه وی .

(ی) دکلماتولهجوی اشکال ضبطول ، اومراد فات ښوول . اومعیاری اصل ته رجوع ورکول .

په دې ډول زه د پښتو د آینده بشپړ سیند یوه تقریبی نقشه پښتنو ورونوته وړاندی کوم ، ښا ګی چه دا کار دځینو اسبابو لامله ډېرسخت هم وی ، ځکه زماداعقیده ده ، چه لیکوال ئې باید اقلاً په پاړ سو ، عربی ، اوهم سنسکریت اواو ستا او پهلوی کښې معلومات ولری ، او هم داسی علمی کتب او آثار موجودوی ، چه دلغاتودمقایسوی تطبیقاتوپروخت کار ځینی واخلی ! اوهرلغت په صحیح ډول خپل اصل ته رجع کړی ، اوډېر اوهام چه دپښتو په خصوص کښې موجود شوی دی ، له منځه وباسی !

د پښتو ټولنی اوټولو لیکوالو اوپښتنو او سنی وظیفه داده ، چه ددغه مفصل قاموس لپاره مواد راغونډ کړی ، یعنی دژبې مستعمل اونا مستعمل لغات او کلمات له هرې خوا سره راټول کړی ، او په هره ګوښه او ګوټ کښې پسی وګرزی ، حرکات او معانی ئې ضبط کړی ، وروسته به نوله د غو مو ادو څخه یوعلمی هیئت کارواخیستلای شی ، اووبه کړای شی ، چه پردغویوه مقایسوی کتنه وکړی ، هغه وخت نود پیرمحمد کاکړ یوخولغتونه اودراورتی لغت اود پښتو ټولنی ذخایراودپښتو سیند اودزاخیلی لغات ټول په کار ورځی ، او ددغوخو تنو دمشکور جهد اوسعی نتیجه به هم دمفصل قاموس لیکوال ووینی اوخپلو سابقینوته به دعا کوی ، او د وی به په ښه نامه یادوی !


اجتماعیات

دعلم احسان او ورکړه

پر انسانی ټولنه د آلاتو اغېزه

دفردی او اجتماعی عقل یو په بل متاثر کیدل

دښاغلی «واسعی» اقتباس :

نن ورځ او اوسنی عصر د آلاتو عصر بولی او مناسبه هم ده چه وبلل شی ولی پر اجتماعی ژوندون د آلاتو اغېزه او تاثیر په اوسنی عصر کښې خورا ډېر شویدی او دنن ورځی د څرګند و او واضحو ممیزاتو څخه شمیرل کیږی .

دعمومی وګړودی خبرې ته خورالږ او په ندرت فکر او التفات پېښیږی چه ددوی په روځنی حیات او اجتماعی تطور کښې آلات موثر دی او اغېزه پر کوی ولی دوی ؤ آلات سره معاصر او په یوه عصر کښې دی او داسی نده پېښه چه دوی ناڅاپه دیوه عصره څخه چه د آلاتو او اختراعاتو څخه خالی وی یوه داسی عصر ته چه د آلاتو او اکتشافاتو څخه ډک دی راغلی دی چه دهغه عصر او ددې عصر پر تله او مقایسه سره وکړی بلکه په یوه داسی عصر کښې ژوند کوی چه مخترعات او اکتشافات تر دوی ډومبی او د وړاندی زېږېدلی او ددوی سره سم ژرژر په وده او ترقی ونشونما کښې دی دوی به نه وی مګر آلات به تر دوی وروسته هم پاته وی .

مګر سر بیره پردی بیاهم اوسنی ناڅاپه او چټک اجتماعی تطور دوی د آلاتو او مخترعاتو په تاثیر وپهول او ددوی اغېزی ته ئی فکر شو او ورته ملتفت شوه نود زیاترو کسانو عقیده او نظریه داده چه اوسنی اقتصادی سختی او زحمتونه چه پر نړی تېرېږی علت ئی دادی چه پخوا به کار په لاسو کیده مګر اوس د کار کوونکو لاسو ځای آلاتو او ادواتو ونیوه نو دغه شی یعنی دلاسو بیکاره کیدل او ځای ئې آلاتو او ادواتو نیول د بی کاری سبب وګرزیده او دا ځنی پېښه شوه چه وګړی معطل او لاس تر زنه کسان ډېر شوه او دهغو کسانو دخواری او تنګی سبب وګرزیده چه رزق ئې پر لاس موقوف ؤ او چه لاس به ئی چلیده خوله ئی چلیده نو په نتیجه کښې درانیولو او ابتیاعی قوت دضعف علت وګرزیده نو طبعاً د بازار د سوړوالی او دهرشی د کوټه کیدلو او دنه خرڅیدلو باعث شو او بالاخر سل نوری خرابی او یوه سلسله داسی اسباب ئې میدان ته راویاسته چه د ټولو بیان ندی ممکن بعضو کسانو د آلاتو د وجود

اودهر بد لوتاوان نن ورځ دغومره مهم بللی دی او تردی اندازی ئې موجوده اقتصادیات د آلاتو دلاسه خراب او تراب شمېرلی دی چه پراوسنیو نوو علومو ئې ثبت بد کړی او په بدو نوموئی بللی دی اووائی چه که دغه عصری علوم نه وای پیداشوی مخترعات او آلات به میدان ته نه وای راوتلی .

مگر دا تعلیلات او دا دلایل چه دوی آلات او مخترعات د اقتصادیاتو د خرابوالی علت بللی دی یو سست او ډېر جاهلانه تعلیل دی علم که پخواؤ که اوس دهغه وخته خخه چه انسان یوې په کاڑه لرگی او مچك کوله بیاتر هغه وخته د بر بشناخراغ ورته ولگیده او دخپل انسان ور ورسره ئی درادیو پذریعه دزړه حال ووایه دتمدن دپرمخ تگ یو قوی او مهم عامل دی . نو نن ورځ چه انسان ترخپلو پخوانیو نیکه گانو یو په زره دمختر عاتو او آلاتو خخه خوند او استفاده کوی دا ټول د علم داحسان په برکت اوقوت دی . نو چه انسان او اجتماعی ټولنه دعلم احسانات بد مستعمل کړی ، یا داچه انسان پدې نه پوهیږی چه په خه صورت باید دانسانی ټولنی ټول افراد یو برابر اوعلی السویه استفاده لخنی وکړی دعلم خه گنه ده ؟ او د مختر عاتو او آلاتو کمه گمرهی اونقص دی ؟ علم همیشه دبشریت خیر غوښتونکی او غیرله گټی او ښیگڼی خخه نورخه نه ور زسوی مگر بشریت داخبره پر لخان پخپله په لوی لاس ثابته کړیده او په خپل سوء تصرف او د بد استعمال په واسطه ئې دا پر لخان کو ټلی ده چه دئ ددې خیر اوښیگڼی چه علم ئی وده ته ور رسوی وړ اولایق ؤمستحق ندی .

ددې خبری چه پر نړی اقتصادی فشار خپور او د ټول عالم اقتصادی حالت خراب او لخنی په زحمت دی سبب یا اسباب غیر د آلاتو ددې پر ښته خخه نور اساسی اورئیسی شیان دی چه بحث ئې دلته نه لخائیږی اونه دئ موضوع دفروعاتو خخه دی .

دبغضو مفکرینو د اعقیده او د اسې ئی په خیال ورغلې ده چه داد آلاتو موجوده عصر پر فردې عقلیت باندی بده اغیزه کوی تردې اندازې چه ضعف ور حاصلوی . نو د غو مفکرینو په عقیده داعصر پرفنی نبوغ یوخطر او لو یه تگه نازلوی نو یو د دوی د مثالو نو خخه چه وائی ئې دا دی چه دچاپ او طباعت پذریعه رنگ آمیزی ، د روغنی تصویر فن او نقاشی چه په خورا نفاست به یو مصور او نقاش دلاس او قلم پذریعه اجرا کوله او اعلی اعلی فلمی دنقاشی لوحې او د لاسی تصویر قطعات او تابلوگانی به راوتلی ټولی دکاره وتلی او د افن ئې ؤ واژه او سقوط ئې ور کړ ، د غه رنگه ئې د شمسی تصویر فن هم مړکړ . سره له دې چه طباعتی او لاسی رنگ آمیزی په شکلا او جمال ؤ ښایست کښې خورا ډېر توپیر سره لری . او هم ژردی چه سینمادی دتمثیل فن چه دلاس زحمت دی که هرڅومره په سینما زحمت وخیژی بیاهم د تمثیل لخای نشی وهلای دمیانځه خخه ورك کړی ، دا چه خلق پرسینما گرم را غلی دی او تر تمثیل ئی د سینماننداره خوښه ده او ډېر ورځی علت ئی داندی چه د دوی سینماتر تمثیل خوښه ده او ښه خوند ور کوی بلکه صرف د سینما اختراع یو عجیب شی ور ته ایسی او حیرت ورته وړی دی .

رادیو (او دغه رنگه گراموفون) هم لکه سینما د موسیقی پر دفن دیاره یوخطر او آفت وگرځیده تردی دمیچه د موسیقی پرفن پرده واچوی او غنائی مجالس تر شا لو خاتمه ورکړی او دلیکلو آله د (تیپ مشین) دخط او کتابت کمله ور ټولوی ، او د حساب آله چه جمع ، تفریق ضرب ، تقسیم ، تجذر ، تکعیب ، تربیع ، او نور ډېر حسابی اعمال په کیږی د حسابی عقل دیاره یامرگ دی او یا ئی کمزوره کوی د دغه قبیله خخه د نبوغ او په ټولو فنونو کښې دعبقریت پر ضعیفولو مثالونه وائی بلکه دعقل پر ضعیفولو باندی لاهم مثالونه تیروی ، او دلیل دا راوړی چه آلاتو یوازی دلاس او عقل لخای نکړ اشغال بلکه دعقلی مواهبو لخای ئی هم ونیوه مگر دغو بد و یونکو خخه چه وائی آلاتو بد تاثیر کړیدی ، او پرفنی نبوغ او عقلی مواهبو یوخطر اوتگه نازلوی دا خبره پاته شوېده چه پخپله دغه نبوغ او مواهب چه دوی آلات خطر ورته

بولی لکه دانسان ژوند ، او عقلی حیات ؤ اجتماعی حیات چه تطور کوی دوی هم دغسی تطور کوی او دیوه حاله څخه بل حال ته کېږی . مثلا فنی عقل په هغه ورځ نبوغ وکړ چه درسم او نقاشی په فن کښې غیر دګو تو او قلم ، او د تمثیل په فن کښې غیر دعاطفی او جسمانی هیکل ، او په موسیقی کښې غیر دخپل اواز دنغمو څخه ، او دمحاسبی په فن کښې غیر دعقله څخه بل اسباب نه ؤ . مګر هغه وخت چه دا ممکنه شوه چه ددې مواهبو پر ځای آلات په پوره دقت او امانت بې له هیڅ خطا څخه درېدلای او ددغو اعضاؤ او عواطفو ځای نیولای شی نو قدیم نبوغ ته پدغو مناطقو کښې یوه وظیفه ورپاته نشوه ، او دی ته مجبور شو چه دځان دپاره ځینې نوری لاری وپرانیځی او په هغو کښې نبوغ وکړی او ځان پکښې ښکاره کړی . نو چه دحساب آله دعقل پر ځای ودرېده او دحساب ټول اعمال په قطعی او صحیح صورت په آسانه اجرا شوه او عقل دمحاسبې دزحمت او ستړیا څخه فارغ شو نو تر دې نبوغ نور ولوړو چارو ته اوزګار شو لکه دا نیشتین دنسبت مسئله او لکه دبرق ، او هوائی برق مقناطیسی قوه او جاذبه چه رادیو پر بنا شوه ، یا غیر له دغو څخه نور ډېر مثالونه سره له دې بیا هم دفن او پخوانیو عقلی مواهبو څخه استغنی نده راغلې بلکه استغنی ددې څخه راغلې ده چه په فن کښې دی نوابغ متعدده او ډېر نه وی ، یعنی په هر فن کښې یو نابغه کافی بلل کېږی . اجتماعی ټولنه او س هم دتصویر فن ته ددې دپاره چه دطباعتی تصویر فن تغذیه او ترقی ومومی ضرورت او احتیاج لری دغه رنګه یوه فوق العاده موسیقی ته چه ګرامو فون او رادیو نور زیات رونق په مومی اړه لری . دغه رنګه هر نوعه نبوغ او عقلی موهبې ته چه هر یوه اختراع نشو ونما او تغذیه په ومومی احتیاج او ضرورت همیشه په جامعه او بشری ټولنه کښې واقع دی . بیا نو دا هم باید وویل شی چه پخپله اختراع دنبوغ ثمره او نتیجه ده . آیا دا عجیب او مدهش آلات او مخترعات دیوه داسی نوی نبوغ څخه ندی راوتلی چه هغه تر پخوانیو قسم قسم نبوغونو لوی او عظیم دی آیا تر دی په بل لوی نبوغ کم نبوغ وی چه نړی ئې دبرېښنا په رڼا روښانه کړېده او تر هغه نبوغ به کم نبوغ لوی او عظیم وی چه ددنیا دخور البرو ځایو څخه مونږ ته دستر ګی په رپ کښې خبری او آوازونه او ویناوی رانقلوی ، او هغه نبوغ چه مونږ ئې پر هوا اخیستی یو ؟

علاوه پر اجتماعی حیات دفردی حیات پر هر صنف او هره څانګه باندی د آلاتو اغېزه او تأثیر داسی نه چه یوازی خطر او ضرر ندی او په قطعی صورت دا حکم کوو چه تاوان ئې ندی ور رسولی بلکه بالعکس داسی ښه تاثیر او اغېزه ئې پر کړې ده چه دپخوا انسان په خوب لا هم نده لیدلی د آلاتو ښه تاثیر پر فردی حیات ډېر او زښته ډېر دی او پر اجتماعی حیات ئې ښه تأثیر تر هغه لا ډېر او لوی دی دا تاثیر هغه اجتماعی تطور چه اجتماعی هیئت مخ دهغه پر خوا روان دی چټک او زغرد کوی ، او داسی سرعت او چالاکی ور حاصلوی چه مثال نلری اجتماعی تطور مخ دمللو او ټبرونو دوحدت او یووالی پر خوا روان دی یعنی چه ټوله دځمکی دمخ ټبرونه او اقوام دیوه ملت په بڼه کښې راووزی ، او په یوه قالب کښې توی شی او د آلاتو تأثیر پدغه یوه قالب دتویولو او دټولو مللو څخه دیوه ملت جوړولو خدمت کوی .

دمللو یووالی او وحدت دا غواړی چه قومونه او ټبرونه یو وبل ته په اخلاقو او آدابو کښې تشابه سره پیدا کړی او په عقلیت کښې سره ورته وی ، او په پوهنه کښې سره مساوی او په افکارو او تصوراتو کښې سره یو ، او په عاداتو کښې سره نږدې ، او په نظاماتو کښې توازن سره ولری ، لنده دا چه ټول په یوه قالب کښې ددې دپاره ولوېږی چه دیوه داسی اجتماعی عقلیت تکوین ممکن شی چه دیوی واحدی عاطفی څښتن وی ، او هم ددې دپاره چه دیوه واحد او دټولو مللو دپاره دیوه متحد نظام وضع ممکنه شی او حال دا چه ددې او سنی عصر مخترعات خو ددغه مقصد دپاره چه ملل ټول په یوه قالب کښې توی کړی پوره خدمت کولای شی ، پزیاته بیا مواصلاتی اختراعات ددغه مقصد مهمه برخه پر ځای کوی .

مثلاً د سینما یو فلم راواخله یو فلم په ټوله نړۍ کښې
پور او هر چیری ښکاره کړه شی د زرګونو ملیونو
فرادو په مخیله او دماغ کښې د هری حادثې او فن
ومنظرې، د عاطفی او معرفت په باب کښې یو واحد
صور رسموی او داسی وی لکه د ځمکی د کرې ټول
انسانان چه د ژوند د ننداروڅخه د یوې ننداري په تماشه وی
و هره ورځ نوی شی یکښې ننداره کوی. نو ټوله
به یوه قسم تأثیراتو متأثر کېږی، او یو شانته میلونه
او عواطف ؤ اخلاق که ښه وی که بد، که پاسته وی
که زیږه یکښې تولیدوی. او که بد اخلاق یکښې تولید کړی
اصلاح ئې زمانه کوی، او انسانی فطری میل چه ترقی ته
ئې لری انسان ته دارمویښت او تجربې په واسطه
د صالحی ترقی لار ورښئی.

د بې سیم او هوائې او جوې چټکو مواصلاتو
پذریعه د ډېری معاملی او تجارتی روابط د نړۍ
دوګړو تر میانځ خپاره شې او پدغه ذریعه په اجتماعی
نظاماتو او قوانینو کښې تر ټولو اعلی او افضل نظام چه
د ټولو ملکو د حاله سره څه نه څه مناسبت لری د دوې
ترمیانځ عمومیت پیدا کړی، بلکه ممکنه ده چه یوه ورځ به
د ټولو مللو نظام او قانون په سیاسی، اداری، اقتصادی
حکومتی، ادبی، او په نورو اجتماعې چارو کښې یو
شی او سره متحد وي. پدې خصوص کښې طباعت او
چاپخانه ؤ مطبوعات ډېر مهم رول لوبوی، او په ټولو
مللو کښې علم، پوهنی، آداب، فنون، صنایع دوی
خپروي. د ټولو مللو د کارخانو او فابریکاتو څخه
پر یوه طرز شیان راوتل، او د ټولو هوادونو او ممالکو
د صنعتی تولیداتو یو شانته والی د مللو افراد په کالیو
او د پوښاک په طرز او عاداتو کښې پوره سره
مشابه کړېدی. د نور تفصیل موقع نشته، مونږ د آلاتو
د عصر د تاثیر بیان چه په انسانی ټولنه کښې ئې د دې
د پاره لری چه ټولنه په یوه قالب کښې توی کړی په دغه
مثالو سره وکړی دا د ټولو مللو په یوه قالب کښې
توېول د دې خبری تمهید دی چه د انسانی ټولنې اقوام

د یووالی لاس سره ورکړی (دا به هغه وخت وشی چه د دغه
یووالی — ښېګڼه ښکاره او میدان ته راووزی) او
د یووالی د ښېګڼی ښکاره کېده په انسانی ټولنه کښې
دې خبری ته هڅه پیدا کوی چه دوی دی سره
یو او متحد شي. نو د مللو د وحدت او ورور ګلوی
مسئله فقط د وخت او زمان مسئله ده چه وخت ئې راشی
ضرور به وهم شی، او زما په خیال وخت ئې لیری ندی
او دا مهمه نتیجه ټوله د آلاتو د عصر په برکت حاصلیږی
او د آلاتو د عصر فضیلت بیا ټول علم ته راجع دی. یعنی
که د آلاتو عصر پر نړۍ نه وای راغلې د مللو وحدت به
نه وای حاصل شوی او که د علم احسان او برکت نه وای
د آلاتو عصر به نړۍ نه وای لیدلې. دا ځکه چه علم دی چه
پخپل وجود سره ئې ټول ملل او ټول طبقات روښانه کړی
دی او هم دی دی چه آلات ئې را ایستلی، او د ژوندانه
اسباب ئې اسانه کړی، او د تعلیم وسایل ئې هر فرد ته
نزدې کړي او خپل فضائل او ښېګڼی ئې د روښانه نور
غوندی څرګند کړي او خپل ځان ئې ټولې نړۍ ته یوه
وړیا عطیه ګرزولی دی. او سنی عصر د پخوانیو عصرونو
سره پر تله او مقایسه کړه، وګوره! چه پخوانی ملل
په کمه اندازه یو له بله څخه په معارفو، اخلاقو، تمایلاتو،
عاداتو، دودونو، کالیو او جامو او په نورو شیانو کښې
سره بېل او جلاوه، دا ځکه چه دوی د چټکو مواصلاتو
څخه محروم وه نو ګواکی د دوی ترمیانځ حدود او موانع
موجود وه چه د دوی په تباین او بېلتون کښې ئې مرسته
کوله. پزیاته بیا د دوې په ژبو کښې. مګر اوس خبره
بالعکس ده او د دوې په اتحاد او وحدت کښې مرسته
کېږی او ورځ په ورځ ئې مشابهت سره ډېرېږي.
دا چه وګړو به د دې احسان استعمال په بدصورت
کاوه او په دغه واسطه به په ځینو اوقاتو کښې تاوان
او ضرر ورسیده علت ئې دا دی چه د نفس ادب په انسانی
عقل او اجتماعی عقل کښې همیشه ضعیف وی او انسانی
ټولنه په او سنی عصر کښې چه د ترقی د حیثه څخه لوړه

او هسکه ده غیر له دغه ضعفه څخه بل عیب نلری ولی ټولنه او انسان که پخوانی انسان او ټولنی ته واخیستل شی ډیر هسك اولوړ شوې دی او دعقلی او مادي نقطهٔ نظر دواړو څخه ئی ډیره ترقی کړیده مگر په نفسی ادب کښې لاتر اوسه پوری انسان او ټولنه دواړه ناقص پاته دی دغه نیمگړتیا ددی خبری علت او سر دی چه انسان دعلم داحساناتو قدر لکه ښائی چه په هغه اندازه ندی کړی او هغسی قیمت ئی ندی ورته ایښی لکه ورته مناسب چه وی علم پر انسان او پر ټولنه باندی ددې جهته چه دوی دوه انکار ځنی کوی یا ئې عطایا او لوړ لوړ احسانونه به مستعملوي عتاب او قهر نکوی ، بلکه خپل عمل او کار ته دوام ور کوی چه اخلاق پاسته، او مهذب اوزړونه ؤ ضمیر ونه خبر او تنبیه کاندی ددې مقصد دپاره تجربی او از مویښتونه پوره کفایت کوی ، او انسان ته دخپل نفسی ادب لوړ ولو لار ورښې . د دمخه و پناو و څخه دا څرگنده او ښکاره شوه چه آلات او نور اختراعات او قسم قسم اکتشافات د اجتماعی تطور پر ډگر زښته لوی او عظیم الشانه رولونه لو بوی . تر دې اندازې چه ځینی اوقات داجتماعی تطور مخ دیوې خوا څخه بل طرف ته را گرزوی ، او مجری ئی داسی ور بدله کړی چه ټولنه په هره گړی کښې په جلا بڼه ، او نوی جامه کښې ښکاره کوی . بلکه ځینی اوقات داهم نده نادره چه د اجتماع دودانی بعضی دیوالونه ونړوی او بنادې ورنوي او سر دسره دې جوړه کړی . نو سره له دې چه داحالت دفردی نبوغ او عقلی ممتاز و مواهبو صنعت او عمل دی په عین وخت کښې به دا هم درته واضحه او څرگنده شی چه دافعل او اثر به پر ټولنه هم پدې توگه چه مواد او ادوات بی ورجوړ، او طرز ؤ شکل به ئې ورتوی کړی . او انسانی ټولنه دخپل اجتماعی حالت په استوگنه کښې دفرد دپاره نوی عقلیت جوړوی او دفردی ذهنیت تجدید و کړی ، او دتمایلاتو مخ او توجه پلو ئې ور بدل کړی . نو داسی معلومیږی لکه هغه تفاعل چه دفرد او ټولنی ترمیانځ موجود دی او دیوه څخه پر بل باندی اغیزه کیږی په سر سره پخپله ددوی دخوا یو پر بل نکیږی بلکه دمادی آلاتو او ادواتو په واسطه سره ددوی ترمیانځ جاری دی .

عقل د آلاتو اختراع کوی . او آلات د ټولنی تطور ته تجدد ور حاصلوی .

او پخپله نوې ټولنه بیاهم د افرادو د عقلیت دتطور دپاره خدمت کوی . پدغه صورت سره دفردی عقل او اجتماعی عقل ترمیانځ تفاعل او یوله بله متأثر کیدل لکه د فردی عقلونو او نفوسو ترمیانځ چه دمادی اتصال په واسطه جاری دی لکه دبریښنا موجونه چه کتونکو او اروېدونکو ته حوادث او اشارات را نقل کوی او لکه در ادیو هغه څپې چه دغه انتقالات دلیر ولیرو مسافتو څخه کوی او لکه هوائی او بې سیم تیلفون چه آواز ونه او خبری غوږو ته رسوی جریان لری . او حال داچه د خلقو خو هر څه افاده ؤ استفاده دستر گو او غوږو د خوا څخه ده .

تربیوی

د بلوغ د دوری تاثیر

د کمکیانو په روحی او بدنی اوضاعو کښې

(۲)

اجتماعی غریزه

له عربی څخه د ښاغلی سراج الدینخان

سعید اقتباس

بالغ کمکیان د دې غریزی په لار ښوونی نوی ملګری، نوی د وستان پیدا کوی او له هغو سره یو ځای ګرځی را ګرځی په دهغه وخت کښې ښائی ځینی اخلاقی غلطی و کاندی نو هغه خلق دی چه په دوی باندی ریاست لری، او دهغو ښوونکی او پالونکی یاد ېږی متوجه وی چه دوی په بیځایه او ناوړ و کارواخته نه شی په دغه مرحله کښی کمکیان ځان پوره سړی ګڼی، له طفلانه کار و او طفلانه مخاطبی چه پخوا ورسره کیدی بدوړی د کمکیانو دغه حال د ځان پیژندنی او په ځان دویسا لرنی مقدمه ده په همدغه وخت کښې دحب غلبه او ځان ښینه په دوی کښی پیدا کیږی او سوکه سوکه مخ په وړاندی ځی که په دغه مرحله کښې څوك ورته ووائی چه ته ددې کار وړ نه ئې یا هغه کار ستاله وسی پوره نه دی ډېر پری خوا بدی کیږی او بده اغیزه پراچوی لویان، ښوونکی او پالونکی دی هیڅکله داسی خبری له دوی سره و نه کړی چه هغه ئې د لټی بی همتی اساس و ګرځی بالغ کمکیان لاڅه چه پنځه کلنو و وړ کوته هم داسی خبری کول بی ځایه دی. کمکیان د بلوغ په زمانه کښی نوی امیال نوی شوقونه پیدا کوی او طبیعی علوم تاریخ، شعر، موسیقی، ته ئې ډېر میلان وی د وی په دغه عمر کښې ځان ته مسلك ټاکی او له او سه په هغه لار د رومی چه مسلك ته پری ورنژدی کیږی.

د بالغ اندېښنی:

د بالغانو اندېښنی د کمکی توب د زمانی څخه ډېر فرق او توپیر مومی د دوی اندېښنی په دغه زمانه کښی تر پخوا ډېر منطق ته ورنژدی وی او هیڅکله په خوشی بی د لیلو خبرونه قانع کیږی د وی معانی او مدلولاتو ته ډېر متوجه وی په هر شی کښې غور او فکر کوی.

خیال:

د بالغو کمکیانو په ګوګل کښې ډېر چرتونه او اندېښنې ګرځی را ګرځی او د سین د جیو په شان تل په مدا و جزر کښی وی که دوی په دغه وخت کښې د ادبی ذوق خاوندان وی او ادبی پنګی ولری، ځنی ښه اشعار، حکم، امثلی ئی زده او په زړه وی دوی به و کولی شی چه ځینی ښې قصی ادبی مضامین ولیکی ښوونکو ته په کار دی چه په دغه عمر او لږ څه پخوا تر دی د دوی پدرسی نصاب کښې ادبی مضامین زیات کاندی او دوی دې ته اړ کړی چه په میاشت کښې یوه دوی قصی ولیکی په عین حال کښې دی مراقب وی چه دا قصی په اخلاقی پیرایه کښې وی نثر ئې ساده او د نامانوسو لغاتو په ځای معمول محاور ئې لغات ولری جملی ئې په ښو تشبیهاتو ښایسته شی.

دبلوغ تاثیر د کمکی پر بدن باندی:

که دیوه کمکی بدنی اوضاع لږ څه پخوا تر بلوغه وګورو او بیائی وروسته تر بلوغه سره مقایسه کړو نو خوامخوا به را معلومه شی چه بدنی تشکیلاتو ئې تر پخوا ډېر فرق کړی زړه ئې قوی شوی د وینو په جریان کښې ئې تیزی راغلی سږی ، هډوکی ، ښه ، توری ئې تر پخوا غټ شوی او په تشریحی افرازاتو کښې ئې ښکاره فرق پیدا شوی له یوی خوا د بدنی تشکیلاتو نموګانی ، له بله پلوه د کلکو تاثیراتو او انفعالاتو په اثر به عصبی او هضمی جهازونو ، دوران دم کښې څرګنده تفاوتونه لیدل کیږی.

د روزونکو او ښوونکو وظیفه:

هر کله چه بالغ کمکیان د عمر په دې دوره کړی ډېر جسمانی او عقلانی تبدلاتو ته ورځرمه کیږی د ښوونکو او روزونکو وظیفه هم تر پخوا ډېر غټیږی دوی باید په دی ښه وپوهیږی چه کمکیان په دی بحرانی عمر کښې د ډېرو وظیفو بارنشی وړای باید درسونه ، کورنی وظیفی ئې د اعتدال په صورت کښې وی .

په دې عمر کښې دوی ته تر هر شی ورزش ښه دی خو ورزش دې هم په یوه اندازه وی څرنګه چه د دماغې کارونو ډېر والی د دوی مغزو ته نقصان رسوی دغه رنګه زیات تر اندازی او خورا کلک او زحمت غوښتونکی ورزشونه هم د دوی بدنی اوضاع تر تاثیر لاندی راولی په ونه په وجود په وینو کښې ئې نقصان او کمی راځی .

یو بل ضروری ټکی دادی چه دا راز کمکیانو ته د انفرادی ورزشونو په ځای اجتماعی ورزشونه فائده من دی.

دا رنګ ورزشونه په هغوی کښې اجتماعی او رقابتی غریزی راویښوی خو د هغوی اختیارداران (پالونکی ، ښوونکی) دی ، دې خبری ته ښه پام ولری چه رقابتونه د اعتدال په حال کښې وی او خبره وهغی ژوبلی ته ونه رسیږی پالونکی دې دې خبری ته هم متوجه وی چه په هغو کښې خودبینی پیدا نه شی او په زیار زحمت او نیکو اخلاقو عادت ونیسی که چیری ممکنه وی تر ټولو بهتره داده چه داسی کمکیان دی په میاشت کښې یو ځل نژدی اطرافو ته په سفر ولیږل شی او هلته دیوه مشر تر اداري لاندی هر یو بیل په ځینو منزلی کارونو لکه پخلی ، جارو کول او نورو کارونو ولګول شی مثلاً یو دې نغری جوړ کړی بل دی او به راوړی یو دې بوټی را ټول کاندی څو کسه نور دې خیمه و د روی او هغه دی فرش او جارو کاندی یو خودا کارونه په دوی کښې د ځان ویساینه پیدا کوی او د مسافرت په وخت کښې په خپله د خپل منزلی چارو د عهدی څخه وځی بله دا چه دوی ته دا خبره په عملی ډول ورښئی چه ټول وګړی په اجتماعې ژوند کښې یو د بل مرستی ته اړدی یو سړی چه هر څونه غښتلی او ګرندی وی بیا هم یو اځی د خپلو ټولو ضروریاتو او مایحتاجو له عهدی څخه نه شی وتی - دوی په دغه مسافرتو کښې نوی نومان نوی مصطلحات زده کوی او ډېرونو وچیزو ته ئې پام شی په دی ډول د دوی عقل تکامل کوی .

هوادنی یا کورنی پوهی چه د ننني تعلیم اساس باله شی هغه هم دوی په عملی صورت زده کوی.

ادبیات

اوسنی ادب :

د بېرېنه ښکلا

یا : تاج محل

ښاغلی حبیبی

په تیاره تو ره دنیا کی — د عدم په شاو خوا کی
نه انسان و نه ښکلا وه — نه د حسن تماشا وه ،
نه لاس برد حسن و فن و — څه چه و ، خواهر من و
په هر لوری به تور تم و — نه بشر و ، نه آدم و
نه د ښکلیو ننداره وه — نه د حسن څه جلوه وه

نغری سوړ به د جمال و
پټ د حسن روڼ مثال و

نا ببره یو رڼا شوه — د جمیل جلوه پیدا شوه
پر دنیا د ښکلا لمر شو — ښکلی سمه، لوړه، غر شو
ستورو ښکلی لوړ اسمان کړ — حسن ښکلی ټول جهان کړ
د ښکلا شغلې خپرې شوی — کښته پورته ننداري شوې
ښایسته شوه ټول شیونه — په خندا ښکلی گلونه

هر طرف ښکلی بهار شو
حسن خپور پردې گلزار شو

د ښکلا رڼا شوه ډېره — ځلېد له چار چا پېره

دا جهان ئې آرایش کړ — هر یو شی ئې پیرایش کړ
دجمال ډیوه وه بله — هر څه دې ښایسته کوله
جهان ټول ښکلی زیبا شو — جلوه گاه ددې ښکلا شو

دا نسان چه سترگی پری شوې
« دجمال په ننداري شوی »

په کلو کو ښښ انسان کړ — څو ودان ئې دا جهان کړ
ډېر حسنونه ئې څرگند کړل — ډېر بې خونده ئې په خوند کړه
لاس ئې هسی حسن ساز شو — په لطیف صنعت ممتاز شو
چه ئې جوړه یو بنا کړه — یکښې وضع ده ښکلا کړه
حسن کشف شو د ډېری — چه پرتې وې لرو بری

هسی وضع په ښه چم شوې
چه یو « حسن مجسم » شوې

ازلي حسن تابان شو — ښه مظهر ئې دا انسان شو
په « احسن تقویم » پیدا شو — په پرتو کی د ښکلا شو
لاس ئې وا چاوه تعمیر ته — د جمال وښه تعبیر ته
چه بنا ئې « تاج محل » کړ — ښه سنبال؛ ښه ئې ځلیل کړ
په هنر ، صنعت زیبا شو — د جمال په تجلا شو

ډېرینه ئې بنا شوه
دانسان دلاس ښکلا شوه

دا تعمیر ندی جمال دی — دښکلا زیبا تمثال دی
ډېرین جمال جلوه کا — عالم ټوله ښایسته کا
ټوله حسن ټوله رنگ دی — ورته مات فن دفرنگ دی
دلته عشق جلوه گری کا — دانسان لاس ساحری کا
د « جهان » دتعمیر « شاه » دی — د « ممتاز » مخ جلوه گاه دی

ډېرینه ناوې خاندی
ښایست ځل کا ، لاندی باندی

دلته سترگی اریانیږی — په دیدن ئې نه مړیږی
دکوم حسن جلوه گاه دی ؟ — چه ښایسته تر مهر وماه دی ؟
دا مد فن د عشق وفن دی — د عشاقو دا وطن دی
لمر سپوږمی ئې سیلانی دی — ورته ډوب په اریانی دی ؛
چه دا څه شرقی جمال دی ؟ — که ژوندی ښکلی تمثال دی ؟

« دعشاقو هدیره ده
ځکه داسی ښایسته ده ! »

(آگره ۸ حمل ۱۳۲٤)

د شوقین زړه تخیلات

له ا کوړه خټك څخه د ناظم بزم ادب
ښاغلی محمد اجمل خان منشی فاضل را لیږنه

زړه گی بې قراره دی له شوقه ار مانونه
ستر گی می د طمعی په کوڅه کی شوه فرشونه

نا لیدلې مینه ده د یار سود می په نه کیږی
خیال می جوړوی په تصور کې تصویرونه

دا غمجن لیکر ډېر په دیدن پسی لیوا له دی
کله به ښکاره شی د بی مخوشنه خا لو نه

هغه خماری ستر گی دیارمی را ښکاره نشوې
ستر گی ستر گی شوه لکه نرگس زماهدو نه

خط نه نیم د بدن وا یی علمه د او گړی
خکل می په سر ستر گو گرل دیار دلاس خطونه

مینه په زما د خپل مین اشنا ماتیږې نن
لیر لیر باندی گورمه زه لیکه دا حرفونه

دا لیونی زړه لکه بلبل ئې ثنا خوان شی
کوم لحای چه غوړیږی د پښتو ادب گلونه

خدایه زما مینه د هغو تر زړگی بو زې ته
رو نوته ښکاره کړې دا زماز دزړه زخمونه

مینه کې یې خطه د اجمل خټك سلام وایه
لولی چه ښا غلی پښتا نه د غه بیتونه

څلو ریزی.

په خواری کښې تل پر لحان گا له زحمت
چه خپل ور ور ته لا و نکړی شکایت

څه یه در نکړی نور هم در خبروی
زمانه کښې خو ندی نشی د چایت

❀ ❀ ❀

دا کوم وخت به کړی د خوار و طن خدمت
چه له خو به تر غرمې نشوی او چت

نور هم دا سی کړی که مونږه آ غا گان
یه دې راز و دا نو و خپل مملکت

❀ ❀ ❀

زمانه کښې ډېر مونده شی په ښه سا ت
خطا مه شه د هر تگ اشنا یه سا ت

که دی خه لر ل په شپه او ورځ د رلحی
چه څه نه و یښی تېر ښزی به یه تراټ

❀ ❀ ❀

ته چه لحان بولې یه خپل افرار کښې هیڅ
هسې نه چه ئې یه هره لا ر کښې هیڅ

د د نیا یه کا ر تر ډېرو ئی تېره
دا منو چه ئې د دین یه کا ر کښې هیڅ

❀ ❀ ❀

لحان ته بولی د بل سرې سپینې مباح
څه مر دار گڼې حلال لحینې مباح

کړه ښکاره که دې مینه لی کوم کتاب
چه هغه کښې وی د ور ور و یښی مباح

❀ ❀ ❀

ولې هسې ئې د کبر پر آس سپور
چه غریب دی پروچ دا گټ کړ را نسکور

د رو یو د غوښت له یا ره ئې نکوې
لکه مرگ چه دی د پلار وی باندی یو ر

❀ ❀ ❀

که هرخو مره حا صلی مخکی لرې
او بهیږی باندی آ رتسی و لی

وبې نه خوری گټه خو چه په ډېر زیار
تل را نه ولی پر لحان باندی خو لی

(مرحوم مخلص)

مناسب دی

ښاغلی عبدالهادی خان د کوټ

چه مین ستا په رخسار شم مناسب دی — که ملنګ ستاد دربار شم مناسب دی
چه دی سپور په سرو لبانو سور پیزوان که — که ستی په سور انګار شم مناسب دی
چه دی جال د تورو زلفو په مخ خپور که — که بندی په دغه تار شم مناسب دی
د سینی چمن دی نه وی ګلان سپړی — که بلبل د دې ګلزار شم مناسب دی
که د استاد درګاه خاوری می په سرشی — که د ټول جهان سردار شم مناسب دی
چه ریبار دی هر ساعت د مخ دیدن که — که قربان دې د ریبار شم مناسب دی
چه د استا زیب و زینت په علم دی — که د علم خریدار شم مناسب دی
زه غریب عبدالهادی په سرومال خپل — د وطن که خدمتګار شم مناسب دی

که عاشق یې په دلبر خپل — ځار قربان کړه ور نه سر خپل
که دی روح غواړی چه را که — ور ته و نیسه ځګر خپل
که دی مال او دولت غواړی — ترې قربان که سیم و زر خپل
که په ستر ګو دی قدم زدی — فرش د لاری که نظر خپل
داد عشق مقتضا ده — شه ملنګ د یار د در خپل
د مجنون په شان صادق شه — په لیلا لره نظر خپل
ای پښتونه که عاشق ئی — د وطن په بحر و بر خپل
زار قربان شه د دې خاورو — پر وا مه لره د سر خپل

هغه زه یم

ښاغلی عبدالنبی «عزیزی»
د احمد شاه بابا د لیسې متعلم:

چه د یار پر مخ شیدا وی هغه زه یم — په نړۍ کښې چه رسوا وی هغه زه یم
چه پتنګ غوندی پتنګ وی له ژوندونه — شیه او ورځ چه په ژړا وی هغه زه یم
د ردو غم چه سندری وائی په عالم کښې — چه د ردمن پردی دنیا وی هغه زه یم
د هجران غم چه پر سر انبار انبار وی — په دی غم چه مبتلا وی هغه زه یم
چه لاله رنګی د عشق داغ پر زړګی وی — چه اخته ستا په سودا وی هغه زه یم
چه دی مینه محبت لری په زړه کښې — ستا د دید چه هواخواوی هغه زه یم

«عزیزی» ستا محبت می سینه چاک کړه
چور پر ګل چه تل بورا وی هغه زه یم

نه پوهېږم

ښاغلی «مفتون»

د جنون پر ما اثر دی نه پوهېږم — که مې زړه وړی دلبر دی نه پوهېږم
یا پر ما شوی جادو د محبت دی — یا چا کړی څه منتر دی نه پوهېږم
دا کیمیا ده که منطق که فلسفه ده — که د عشق لوی دفتر دی نه پوهېږم
دا پر ما د چا د مینی اور بلېږی — که ستم د ستمګر دی نه پوهېږم
د لیلی وصل که غواړی ځان مجنون کړه — ما زده کړی دا هنر دی نه پوهېږم
محبت او عشق د ښکلو زه مفتون کړم — او که غوڅ مې د زړه سر دی نه پوهېږم

غزل

ښاغلی عبدالجلیل (تور)

ته په ما به دا جفا کوې تر کومه — مخ به پټ ماته به شا کوې تر کومه
توري زلفې به دی سپینې تر پنبه شی — په دې زلفو استغنا کوې تر کومه
دځوانی وخت به دې تېر شی نازنینې — په ځوانی به دې ویسا کوې تر کومه
توري خاورې دلحد به دې بستر شی — اتکا په متکا کوې تر کومه
چه مدام پلو په مخ له ماته گرزې — ځورول به ته زما کوې تر کومه
خدای دپاره توردی وسوبې له اوره — خپل نظر به په بل خوا کوې تر کومه

دیوه ناروغ پردیس زلمی دمینی ډکه ناره

ښاغلی محمد خالد «روښان» د
ادبیاتو د فاکولتې متعلم...

د سهار وژمې ! داته د کمې خوائې ؟ — چه زما ددی زخمی زړگی دوائی !
بیلتانه په تېری تو ری زه ټپی کړم — اې خوږی وږمی ته ما لره شفائی

ستا شیرینه وږمه ! هر چېرته گذر دی
راته واچه گران هیواد کښې څه خبر دی

نا اشنا وطن کښې پروت یم مرم له غمه — رڼائی راڅخه ورک ناست په تور تمه
یار اشنا می دلته نشته یم بیکسه — ورځی شپی دی چه په هجر تېرومه

باده ! ستا که دوطن خوا ته سفر دی
راته واچه گران هیواد کښې څه خبر دی

چه د گران وطن ژوندون زما یادیږی — مرضی زړگی زما راته نو لېږی
دغه ښه دعشرت ډک ښار به زه څه کړم — که می پښی دمېنی دښتو ته رسیږی

زما اوس دغه پردو ښار کښې مقر دی
راته واچه گران هیواد کښې څه خبر دی

زه د گران هیواد آزاد توتی وم ، ولی — اوس وزرونه می دی مات؟ بندی یم ولی ؟
چه به ما په هوسائی هر چېرته گشت کړ — دپردو قفس کې اوس خوندی یم ولی؟

دغه ټول می دمرض باده ! ثمر دی
راته واچه گران هیواد کښې څه خبری

د پردو په منځ کښې پروت یم غنی خدایه ! — سمه لار ده رانه ور که رهنمایه !
پری پوهیږم چه وطن کې زه جوړیږم — په دی ښار کې ځان ته مرگ وینم له ورایه

وږمه ! زرشه چه می زړه تو کرتو کر دی
راته واچه گران هیواد کښې څه خبر دی

ستادلاسه

ښاغلی محمد خالد روښان
دادبیاتو دفاکولتی متعلم

زه په مینه مبتلا شوم ستادلاسه
لیونی سر په صحرا شوم ستادلاسه

یا به زه وم چه چرچی می کړی چمن کې
یا یم اوس مخ په بیدیا شوم ستادلاسه

دیار انو په ټولی کې به خوښ ناست وم
نن د ټولو نه جلا شوم ستادلاسه

یا وم زه چه به پر نور و خندیدلم
خندنی وړ د خندا شوم ستادلاسه

زه دمینی په سیندنه وم لاهو شوی
گرد ابو سره اشنا شوم ستادلاسه

چه می سیوری در قیب واهه په تیر
تری کوونکی درجا شوم ستادلاسه

کړم داخل تا په مجمع د عاشقانو
بیا دوچار په سل جفا شوم ستادلاسه

پر منصور خوار به می ټوکی مسخری کړی
اوس د دار په سر بالا شوم ستادلاسه

مینی ستا زه خندنی دعالمو کړم
هم اخته په سل بلا شوم ستادلاسه

دخدای پاردی که به نور کوی ظلمونه
هوکی نور نو زه تالا شوم ستادلاسه

ییو فا ظالم! مرم دی له بیلتونه
زیا تیگی نو زه فنا شوم ستادلاسه

په زهیر صورت دتا په در ملنگ یم
دمرگی په تمنا شوم ستادلاسه

گرزیدم به زه په ټوله خوله چمن کې
شگفته گل دلالا شوم ستادلاسه

دطوطی په څیر به ماخوږی نغمی وی
بلبل وار نن په ژړا شوم ستادلاسه

زما په مینه نه انسان خبر نه جن و
په تمام جهان رسوا شوم ستادلاسه

روښان ځان باله بډای دجانان خواکی
په غنا چه بینوا شوم ستادلاسه

دوطن ذمینی لنډی

ښاغلی محمد سردار «انگار»
متعلم فاکولتهٔ ادبیات پښتو

داخپل اغزی به پری ورنکړم
که د نیا گل دپاچاهی پری را کوینه

دوطن خاورو نه می جار کړی
پکار می نه دی دپردی وطن گلونه

په ځان می نوی روح راننووت
چه می آواز د آزدی ترغوږه شنه

ځان به د ستا پرمخ قربان کړم
لکه پتنگ چه د ډیوی په مینه مرینه

ځان به په تور و وینو رنگ کړم
یا به درنگ کړم یا به توری خاوری خورمه

دوطن باد را باندی راغی
روح می تازه شورانه ټول ئې کړل غمونه

ستادلاسه

ښاغلی م.ا. بیزار

پری دوشومه بیمار ستادلاسه
نن می نشته هیڅ قرار ستادلاسه

بی دا ستا دمخ وگل ته که نظر کړم
وی دوزخ راته گلزار ستادلاسه

په جفا به خوبان هیڅ کله زیب نه کا
شکایت به کړم هزار ستادلاسه

ټول عالم به لیونی راته ناری کا
ځکه شومه بی وقار ستادلاسه

لیونی نه یم منصور غوندی پوهیږم
وبه خیږمه په دار ستادلاسه

که می وپښتی طبیب چه درد د څه دی
ټول اسرار به کړم اظهار ستادلاسه

طبیبان شولو ناکام زما علاج کی
له بالین می کړل کنار ستادلاسه

دمجنون په څیر رسوا شومه په جهان کی
درقیب شوم طعنه سار ستادلاسه

نور به نه کړم اشنائی زه دخوبانو
دگلر خو شوم «بیزار» ستادلاسه

ناکام مین

محمدالله «بیزار» دادبیاتودفاکولتی متعلم

دریغه درومم له دنیا ډك په ارمان
سوړ جهان دی دچانه کیږی گذران

په زړگی یمه بیمار دا رومی نشته
د گلر خو طمع نه کړم دپرسان

په نصیب کی می لیکلی ناکامی وه
نو به څه له کړمه خو شی آه افغان

دبلبل غوندی کامیاب نشوم دیدن کی
سو رانگار کی می قدرت کړه آشیان

نور د ژوند طمع می نشته په دنیا کی
جوړ به نشم که حکیم می شی لقمان

اې گل رخی دخدای پاردی پس له مرگه
په مزار باندې می پاشه سره گلان

رهسپاری کړی «بیزار» په تورو خاورو
دا د عشق په کامیابی یمه حیران

نو څه ده ؟

ښاغلی (رشاد)

کار د فکر رسائی نه ده ، نو څه ده
د زړه چاره شیدائی نه ده ، نو څه ده

چه پتن ئې برابر شمع ته راووست
داد عشق رهنمائی نه ده ، نو څه ده

چه خاچونی ئې په دام د مینی اړ کړ
د گلو نو زیبا ئې نه ده ، نو څه ده

دومری ډیری مینی مه ځایوه زړه کښې
که مال ئې جدائې نه ده ، نو څه ده

چه له غمه سره غبرگه ده زوو کړی
په جهان کښې آشنایی نه ده ، نو څه ده

بیوفا محبوبان ډیردی مینی پریږدی
شیدایی ئې رسوائی نه ده ، نو څه ده

چه هیڅ رامه قفس نکړه تر بیلتو نه
دغه زر که صحرائی نه ده ، نو څه ده

چه عنقائې و عالم ته کړ څرگنده
له عالمه تنهایی نه ده ، نو څه ده

هر پلووته چه گورم مخ ئې وینم
محبوبه می هر ځایی نه ده ، نو څه ده

په هرلعل کښې چه وینی دیار شو نډې
داد زړونو بینایی نه ده ، نو څه ده

چه په بزم کښې دمینی گوښی کیږی
دناصح خود نمایی نه ده ، نو څه ده

چه گو گل له معنی ډك لری خو له پټه
دغو ټیو خو بایی نه ده ، نو څه ده

چه په سر دیار رضا پلوری (رشاده) ؟
د عشاقو کمایی نه ده ، نو څه ده

(طلوع)

پخه وینا

ښاغلی (رشاد)

په جهان کښې چه ښادی غواړی غم مومی
ما ډیر ولیدل چه ډیر غواړی کم مومی

دحیوان او به په هر تورتم کښې نشته
یو سړی به وی چه هغه تورتم مومی

بو یه پښې ئې د تنا کو گنجینه شی
که څوك غواړی چه رښتینی همدم مومی

مړ او توب نشته دیا کانو په صحبت کښې
طراوت مومی گلان چه شبنم مومی

په زړ تیا کښې هر څوك خپله شکسته شی
هرو پښته چه حرارت مومی خم مومی

هر ژوندی په سړ یتوب سره سړی شی
بدن ها له ژوندون مومی چه دم مومی

چه هیڅ راز ئې دالفت پکښې ونه موند
غزالان چه سړی و وینی رم مومی

سکور بې اوره نه سپینیږی ایری گوره
کې پر یو للوته او به دزمزم مومی

که څه سوی لری دستی مال ئې ښه دی
ټپ روغتیا مومی چه کله ملهم مومی

دتادیب په تو دو او ښکو کښې اصلاح شته
تخم هاله زر غونیږی چه نم مومی

کجاوې دمینی ورو ورو ځی (رشاده)
چه پرلار باندی به گوندی محرم مومی

(ط)

مین مشي

ښاغلی عبدالجلیل (تور)

په خوبانو ددې د هر مین مشي
هیڅ په ټیغ دعاشقۍ ئې خوږمن مشي

لکه زه چه ئې غمجن کړم په ځوانۍ کښې
په ځوانۍ کښې زما په شانې غمجن مشي

لکه سکورهسی تك تورشوم عاشقی کښې
په سره اور د عاشقۍ لوغړن مشي

په زړګی کښې ئې دغم ډیوه بلېږی
هیڅ خبر ته په اسرار د مین مشي

په آرزو د مرګ رنځو ریمه له غمه
زما په شانی ار مانجن د کفن مشي

سپین بشر به دی د (تور) په شانې تورشی
ته د تور په شانی تور اودردمن مشي

وایم څه

ښاغلی لعل محمد خان (غریب)

د ګلرخو له بیلتونه وایم څه
له داهسی جګر خونه وایم څه

په اشنا پسی له ډیری ګریانیو
د سرو او ښکوله جیحونه وایم څه

هغه شپه چه یار زما همکنارنه وی
د هغې شپې له شبخونه وایم څه

ددلبرو چه وصال را مونده نه شی
نو د هجر له تاخونه وایم څه

د لیلې د محبت د عشق له سوزه
له ذلیل ، خواره مجنونه وایم څه

چه دیار دمینی داغ زما پرزړه دی
له پټ داغ اندرونه وایم څه

په یوه کاته چه یار له مازړه یووړ
د سیاه چشمو له افسونه وایم څه

د هجران غمونه ډېر چه پر دنیادی
بې فائدې به له وصلونه وایم څه

چه پرما (غریب) بې یاره څه تیریږی
له هغه تریخه ژوند و نه وایم څه

غوره سندری

(۱)

څو به خوری پردی مالونه په ستم
یوه ورځ به دی په نس کښې شی اړم

دمظلوم دمال روټی خپله بوټی خوری
مشه، هیڅ په داخوراک خوښ وخرم

زمانی دی ډېر مزری، هسی خوار کړی
چه وهلی اوس پیشو ته نشی دم

چېری نشی د هاتی تر پښو لاندې
په عاجز مچ و مېږی مه ږده قدم

د یوه تن اندامونه دی بېشکه
لوی هلك بنی ادم په صورت سم

ته هم هیڅ له پرښتی زو کړی نه ئی
چه چار پای بولی دانوربنی ادم

آدم زاددی دیوی ونی ښاخونه
چېر ته ته ښاخ دزعفران شوی نور شړشم

آئینه د زنګون و نیسه و مخ ته
پکښې وګوره احوال د جام جم

د انصاف ورو ښنائی و ته را ووزه
پر ېږده زیست دخود بینی په تور تم

که امسائی دموسی بولی وګړی
ښائی نن ساعت حمیده ستا قلم

(عبدالحمید مهمند)

(۲)

دګل پا نه دخزان له غمه ریږ دی
بی خبره د باد نوم ورباندی کېږ دی

د اد مځکی مخ مخونه دی د کښلیو
روندنه دی په ادب په ځمکه پښې ږدی

څوك دیارو ښه دیدن ته انتظار دی
څوك له یاره سره وصل غیږ په غیږ دی

په یوه خاطر دد وومینو ځای نشی
چه دغم کډه پری راشی هوس لیږ دی

واصلان که آهن کوټ تر ځان چاپیر کړی
جدا ئې به ئی بی غمه کله پر یږ دی

دیونس درنځ علاج هر ګوره ګران دی
څوك چه څه ملهم په زړه ږدی ریږدی ریږدی

(یونس)

(۳)

ته چه قصد د یار پر زلفو کړی شماله
خبر وا خله دپریشانو زړ وله حاله

غم د هجر می سیزی په ګلستان کښې
جنت و ما ته دوزخ دی بی وصاله

پرا فتاب دمخ یې شپه د زلفو راغله
خدای دې بدر کړه ز ما ابر و هلاله

پر پرها رمی مالګی مه پاشه نا صحه
هیڅ ثواب دی پکښې نشته بی وباله

سر و مال د پیر محمد ه څخه وا خله
دد یدن سو دا ئی ته وکړه د لا له

(پیر محمد کاکړ)

دنورو ادب :

دهلکانو لوبی

دهندشاعرتاگور :

دد ریاب په غاړه هلکان په لوبو سرگرم دی .
دې آسمان ددوی په سر باندی سیوری کړی .
ددریاب دشنو اوبو له خولې ځگونه بادیږی او ناڅی
د دریاب په غاړه هلکان په لوبو سرگرم دی له شگو څخه
کورونه جوړوی له پاڼونه کشتی سازوی او دریاب ته
ئی غورځوی شین او بی بایان دریاب ئی کشتی تښتوی او ځی .
ددې جهان په ساحل کښې هلکان پخپلو لوبو
سرگرم دی .
دوی آب بازی او لامبونه ده زده کړی په اوبو
کښې دامونه نه شی غوړولی ؛
غواصان په مرغلر ویسی غوټی وهی سوداگر
خپلی ډکی کښتی چلوی ؛
هلکان ددریاب په غاړه صدفونه لټوی او دشگو
برجونه پری ښایسته کوی ؛
مرغلری نه غواړی او په اوبو کښې ددام غوړولو
په چل نه پوهیږی .
دریاب ځگونه کوی او خاندی .
لوی لوی موجونه هلکانو ته سندری وائی لکه
چه خپلو میندوو ورته دځانگو ځنگولو په وخت کښې ویلی .
دریاب د هلکانو په لوبو پوری زړه تړلی
او ملگر تیاور سره کوی ددی جهان په ساحل کښې
هلکان په لوبو سرگرم دی .
له دې آسمان لاندی کښتی دد ریاب تل ته
پریووزی دمرگ فاصدان په هوا دکښې پرواز کوی
هلکان پخپلو لوبو سرگرم دی .
ددې جهان په ساحل کښې دهلکانو لوبو هر
چیرته یو خوندور شوراچولی دی .

(ترجمه کوونکی دصحافت څانگه)

* * *

له خارجی آثارو څخه

سپین گل

د «نظامی» ترجمه

یو سپین گل چه دنورو گلانو په منځ کښې داسی
ځلیده لکه ستوری چه په آسمان کښې ځلیږی او دټولو
گلانو څخه ښکلی او ښایسته و ؛ دا گل دیوه بلبل خوښ شو
او ډیره مینه ئې پری راغله .
په پسرلی کښې چه د گلانو جشن و ، بینوا او بیوزلی
بلبل هغه گل ولید او دښکلیتوب په ننداره شو ، بلبل چه لکه
شاعر په خلقت کښې ئې عشق مرکوز دی ، پردې ښکلی
گل مین شو او خپل زړه ئې پری بایلوده ،
یوه ورځ چه دپسرلی اخرنی ورځ وه ، په ډیر
جرئت دهغه گل په څنگ کښې پریوه ونه کښیناست
او دده دښکلیتوب او لطافت تعریف ئې شروع کړ ، په
عین حال کښې ئې اجازه وغوښته چه خپل احساسات
او عشق ښکاره کړی .
گل په ډیر تکبر وویل ؛

« اې کوچنیه بلبله ! زه چه ستا خوږ آواز په
باغ کښې اروم بدرا باندی نه لگی . »
مگر زه هیڅکله تا ته اجازه نکوم چه زما په مقابل
کښې چه دونه ښکلیتوب لرم دعشق خبری وکړی ، زه
یو پیوندی او ښکلی گل یم ، چه باغوان زما شادابی ته
انتظار لری ، چه بیا می دباغ خاوند کره یو سی ، او د
هغه کور زما په وجود زینت ومومی ، یا می ښکلی نجلی پخپل
سر او سینه وټومبی .
نور گلونه هم پدې باغ کښې ډیر دی دهغوی په
څنگ کښې کښینه او دخپل عشق درد ، دهغوی غوږ
ته ورسوه
ددې ځواب په اوریدو بلبل ډیر متأثر شو او دخپل
کوچنیتوب او حقارت څخه ډیر خجل شو ، ده وغوښتل
چه چوب کښینې او نور آواز ، ونه باسی ، مگر دده زړه

د دې تصمیم متابعت ونکړ او دعشق احساس ئې لاهم شدید شو .

په پای کښې بې طاقته شو ، او دهغه گل څخه لیرې دیوه ونې پر لښته کښیناست ، دخپلې حنجرې څخه ئې داسې حزین آوازونه وویستل چه ټول گلونه حتی باغوان هم متأثر شو ، او دائې ویل :

« اې سپینه گله ! زه پوهېږم چه ما غندی یو حقیر بلبل ستا دښایست او محبت وړ نه دی ، مگر زه په نورو بلبلانو یو مزیت لرم ، چه زما زړه تر اوسه پورې پر نورو گلانو نه دی مین او نه زما آه دبلې محبوبې دلارې بدرگه شوی ، زه خپل ځان ستا مینې ته سپارم ، او لکه پروانه ستا فدا کاریم ، خپل د زړه په وینو ستا ریښې او به کوم او د خپلو سترگو په اوښکو ستا پاڼې پا کوم ، که ستا اغزی زما په زړه چوخ شی ، آه و فریاد نه کوم ، که ته پیوندی گل ئې ، او ټولو سترگې ستا لورته دی ، زه هم د روزگار د بدایعو څخه یو مخلوق او په ټولو مخلوقاتو کښې په خوښ آوازی معروف او د نورو بلبلانو څخه په لوی والی مشهوریم .

زما عزیزه ! دا آواز ساتونکی ما شینونه چه په باغ کښې نصب شویدی ، دې د پاره دی چه زه خپل آواز و باسم او دوی ئې قید کړی ، او په هغه مجلل کور کښې چه ته غواړی د باغوان په واسطه استو گنه وکړی او هغه ښایسته کړی ، زما طبیعی آواز د گرافون له ټیکلی وار وی ، او په هغه اندازه چه ستا د ښکلیتوب او لطافت څخه خلك محظوظه کیږی ، زما د آواز دا روید و څخه هم خوند واخلی .

اې سپینه گله ! ته چه د صورت له حیثه پر نورو گلانو مزیت لری ، د تشخیص له حیثه هم پر دوی د مزیت خاوند ئې ، ځکه ته کولای شی چه زما د آواز د تاثیره تشخیص وکړی او پوه شی ، چه زه تر آخره پورې ستا وفادار مین یم ، راشه ته هم فدا کار شه او زما عشق ومنه . »

بلبل د اخبری وکړی او ولاړ . بیا یو دوه ورځ بعد راغی چه د خپلې وینا تاثیر ووینی .

سپین گل په ډېره غصه او تکبر ورته وویل :

« چا تا ته اجازه درکړی وه چه ته د غو مره هر هر څه ووایه او دومره شور وکړه ؟ که لس کاله نور هم شور او فغان وکړی ، هیڅ تاثیر پر ما باندی نه کوی زما زړه لکه تیږه کلك دی ، باید چه ته زما د مینې څخه صرف نظر وکړی ، زما پر ویلو باندی ښه غوږ ونیسه او زما عشق هیر کړه . »

بیوزلی بلبل په ژړا پیل وکړ ، او په ځواب کښې ئې وویل : « دا ډېر د تأسف ځای دی چه عشق هېڅکله هېریدونکی شی نه دی ، که زما آواز او وینا ستا په غوږ ښه ونه لگیده ، خپل لوی والی دلاسه څخه مه باسه او زما گناه وبخښه او پخپل زړه کښې زما کینه مه ساته ...

که ته زما څخه بېجهته خپه شوې زه ټول عمر په روحی اضطراباتو اخته کیږم . »

هر څه ئې چه د ځواب انتظارو کېښ ، د سپین گل له خوائی هیڅ ځواب وا نورید .

❀ ❀ ❀

سپین گل غټ او ترو تازه شو ، باغوان ورته د خریداری په سترگه وکتل او قصد ئې وکړ چه سبا هغه وشکوی او د باغ د خاوند کور ته ئې یوسی .

مین بلبل د باغوان قصد نه خبر شو ، او هغه شپه چه له سپوږمۍ ۱٤ شپه وه د گل دونی په یوه لښته کښیناست او تر سهاره پورې ئې دلچسپه آوازونه وایستل او مؤثری ناري وکړی ، سبائی د بلبل دستونی یو ځا څکی وینه د گل پر سپینه پاڼه وڅڅیده ، او لمر وخوت .

باغوان باغ ته راغی ، او ښکلی سپین گل ئې وښکاوه او ډېر په تعجب شو چه د گل سپین پاڼه ئې په وینه سره ولیده .

هغه پاڼه چه په وینه سره شوې وه ، د نورو پاڼو زیبائی او ښکلیتوب ئې ډېری کړی و ، باغوان د نور گلانو په منځ کښې ده ته ځای ورکړ ، او د باغ د خاوند کور ته ئې ولیږه .

څنگه چه سپین گل پیش بینی کړی وه څه موده ئې په ښکلی گلدان او مجلل کور کښې تیر کړه ، او کله به ئې د ښکلو نجونو په سر او سینې هم ځای ونیو ، ورو سته تر څو مودې ئې هغه ښکلی رنگ او زیبائی له لاسه ولاړه پاڼې ئې وچی شوې ، او ښکلی توب ئې پای ته ورسید .

نور په ۲۲ مخ کښې

دتاگورله آثارو څخه

څه دی ؟

مترجم ښاغلی محمد عمر نعیمی
داد بیاتو دفا کولتی متعلم

څه دی او څه شی دی ؟ چه دا د عسلو مچی له خپلو ځالو څخه دباندی را باسی ، دا گلان څه خارجی او پټ اثر لری؟ دد وی په ریږدېدونکو وزرو کښې داڅه شور ماشوردی ؟ څرنگه به دوی خپلی لاری و خپلو خونو او ځالو ته و مومی ، چېری چه عسل برېښی او پراته دی .

❀ ❀ ❀

اې ښځې !

ستاد گلانو ټوکری ډېره درنه ده ، ستاوری ستړی دی ، له کمی لبری مځکی څخه را غلی ئې او غواړی چه څه وگټی ؟ لار او زده ده او مځکه لمر توده کړېده .

وگوره خلیج ډېر ژور اوډك دی او اوبه ئی تکی توری ښکاری لکه د کارگه سترگی ، د دریاب غاړی ایربی دی او په شنو وښوشنی او زرغونی دی . خپلی ستړی او ستومانه پښی په او بو کښې کړه . دغر مې بحری وږمه به ستاد سر وېښتان در ږمنځ کړی کوتری به غرمه خپلی للو ستاد بیدیدو دپاره سر کړی ، پاڼی به خپل پټ رازونه له سیورو سره را کښته کړی څه پروا لری که ساعتونه تېر اولمر ډوب شی . زما کور هغه خواهلته چه د حنادگلو نو ځنگل دی واقع دی زه به ستار هېری و کړم ، ستاد بیدیدو دپاره به کټ تیار کړم او څراغ به درته ولگوم ، سهار به هغه وخت تاله خوبه پاڅوم چه مرغان د خوبه راپاڅېږی او شیدې دغو او څخه اوشل کېږی .

طبیعی ښکلا

ښاغلی «پرهېز»

دجمعې دورځې به مازیگر زه او ملگری مې دگرزېدلو دپاره دکلی نه دباندې و وتلو ، مخ په قبله دغره خواته راهی شو ، دپسرلی خوږی وږمې دعطر وبویونه هرې خواته وړل اوراوړل ، دآسمان لمنې شنې وې ، هوا پاکه او خوشبو یه وه ، د پسرلی وږمې په ټولو کائناتو دناز لاسونه راښکل ، دپسرلی دمگی په خپلو پستو گوتو دمځکی دلوټو او ځامنو سنگارونه جوړ کړی و ، ډاگونه او غرونه شنه و ، دغر ولمنی دارغوانو په سر ولالونو ډکې وې ، هرې خواته چه به مو سترگی آړولی بې له ښکلا او تجمله به مو څه نه لیده زه او ملگرې مې خورا ډېر و گرځیدلو لږه لږه ستومانتیامو حسوله مگرز ړه مونه کیده چه کلی خواته بېرته وگرځو ؛ ماښام دبېرته راگرځیدلو په وخت کښې د کوچیانو په کېږدیو وربرابر شو ، کوچیانی

پاته د ۲۱ مخ»

نورد ده د لیدلو څخه هیڅ څوك نه محظوظ کیده ، او د کور خاوند دخپلی خونی څخه دباندې واچاوه با دد ده په پاڼو په کوڅو کښې لوبې کولی !

دې خود خوا او متکبر گل ته په دې وخت کښې دهغه بېوزلې بلبل په یاد شو چه څه ښه وخت ئې دلاسه ورکړې او اوس په څه غم اخته شویدی .

مگر هغه مین بلبل په دې وخت کښې هم حاضرو او د گل وچی پاڼی ئې یوه یوه په مښو که نیوله او خپلی ځالی ته ئې وړه دا به څه عجیب کیفیت وی چه دا بېوزلی بلبل یوازی پخپله ځاله کښې ناست وی او هغه پخپلو وینو سره پاڼه چه تر هغه وخته پوری خپل رنگ دلاسه نه وه ور کړی ، دخپل زړه لاندې قراره ونیسی .

مېرمنې او پېغلې دخپلو کېږدیو یه مخکښې نا ستې وې اورونه ئې بل و ، ښه کېه گونډه وه، چادو دی یخو له ګوچا کتو باندې کړې وه، نارینه کوچیان یکو رو کښې نه و ، ملګری مې تسږی و ، د یو ې کېږ دی ، د مېرمنې نه مو او به و غوښتلې

یوې غښتلې اوښایسته پېغلې چه طبیعی غرورا وروحی نجابت او عفت ئې دبادامی سترګو او ګلابی رنګ نه دورایه پرېښده په ډېر احترام او درنښت (مګر په بې پروائی) سره داوبوډك جام راووړ ، ملګری مې لاوبه نه وې چښلې چه شینو مېږی راوستلی نورنارینه هم یویو را پیدا کېدل ، دمېږو او ، وزو او ازونو یوې خواته ، دمرغومو او ، وروبلې د دې نه یوه عجیبه هنګامه جوړه کړه چه سړی خیال کاوه چه زه ګوندی په یوه لویه ورا کښې ولاړیم ، وری او مرغومی ئې په کوډلو کښې حصار کړی و، مېرمنې او پېغلې په لوشلو بوختې شوې ... خوك غږ کوی مندری مو ولوشله؟ خوك وائی بدری راوله ، خوك وائی بغدادی ونیسه خوك ناري وهی چه کوتره ....

نده لوشلې شوې د دې چیغو او غږونونه دومره را ته معلومه شوه ، چه دوی خپلې هرې مېږې ته بېل بېل نومونه لری ، که رښتیا عرض و کړم دې پر کیفه ژوند بیخی راته زړه ویووړ ، داسې مې جا جل چه زه ګوندې په یوه بله دنیا کښې ولاړیم لکه چه دا ژوند د ښار او کلیو د ژوندنه ډېر توپیر لری ، یدې ځای کښې هیڅ ظاهر دا ری او تصنع نه وه ، خبری او حرکات .... تول بې ساخته و دپېغلو او مېرمنو ښکلاهم طبیعی وه ، هیڅ یو ، ګانه په چاپر نه نه وه دلته پوډر اولب سرین او نور د سینګار شیونه خوك نه پېژنی، شو ندی ئې بی د لب سرین نه دلالو په شان سرې وې نخو ئې بی دیو ډرو لکه دخور لسمې شپې سپوږمۍ سپین اووړانګن و ، ستر ګی ئې بې رنجو او کجلو توري اوښایسته وې.... نارینه ئې هم سپین سپیڅلی ایسپدل ، داساده اوبی تکلفه ژوند او دا سپیڅلی اوضاع ګانې مې بیخی ډېرې خوښې شوی .

لنده ئې داچه دوروا و دمېږودی آ و ازونو او د کېږدیو دې اورونو او دې سپیڅلو اوضاع ګانو په غوږو وهلم چه دغه دی دنیکمرغی ژوند او دغه ده طبیعی ښکلا !؟

دغلا خبری

ښاغلی غلام رحمن خان (جرار)

قراره شومه ده، ممکنا تو دسکوت توده بر ستن په لحان خوره کړې ده مګر کله کله لحای په لحای دسپیو یو غپ هم خېژې، ستوري یوبل ته ستر ګکونه وهی

سکوت محض دی؟ چو په چو پیاده ؟ !!

یو په زړه ویشتلی مین دتصور دقاصد په خوله خپل اشنا ته د پرهرزلی زړه حال احوال استوي، او بیا ده ته دخپلې لیلی دناامیدی لحوابونه را وړي .

ده داسمان تول ستوري وشمېرل ډېرې او ښکې ئې توی کړی ډېر اوسیلی ئې وکړه مګر زړه ئې صبر نشو په دې خاموشانه دنیا کښې چه یو عالم سام او دروند و الی پروت دی ، خوارمین خپل سر په لاس کښې اخلی او د دیدن په طمع دلیلی پالنګ ته نژدې کېږي !!

په دی درنده شپه کښې چه یوه طبیعی وېره او ترس مو جوددی اودد یدن موانع زښت ډېر دی دعشق او محبت متروکی داسی تیز کړی چه هد ویه یوه ئې هم پروانشته رښتیا والی:

چه په مینه کښې له سر اوخانه تیر شی
دازړورمین دیار په دیدن سیر شی
هیڅ پروا دمرګ وبند ورسره نه وی
چه په مرشی پابه ومری یا به ګیر شی

دی دوصال اود یدن په فلاور و خوت او پوره ئې تسخیر کړه ولی خوك دی چه اوس به ددیدن واجه وکړی؟؟ غواړی چه دمطلوب په کتو خپله تند ، ما ته کړې وزی ستر ګی دوصال په نعمت دکی کړی خپل شجاعانه امتحان ورکړی ولی دایو هم نه کېږی لحکه چه دانعمت په زور نه حاصلیږی داد متوقوت نه غواړی! داخه غواړی ؟؟

نرمی او لطافت عذر وزاری بخت او طالع. دی یو قدم اخلی اوبل زړی ولی په ډېر احتیاط دنور یه ۲۴ مخ،

دالار ...

ښاغلی م. شفیع پروانه :

لویه خدایه !.. دالار څومره اوږده ده ؟!..

دشپی دسپوږمی اوستورو په رڼا اودورځی دلمر دپلو شي په مرسته، دې بیپایانه لار کښې دهغه زړه په شان چه دامیند په سیوری پرمخ ځی، روان یم ..

دناامیندی په تیارو کښې دآرزو ډیوه بلوم او په طوفانو کښې له خپلې ارادې نه مرسته غواړم وروسته چه می ویر له جده زیات شی خپلو احساساتو ته، پناه وړم.. اودې بیپایانه لار کښې رهی یم ... او په وروځان سره وایم :

لویه خدایه !...دالار څومره اوږده ده ؟!..

دالار زما ستر گو ته ډیره لنډه ښکاری مگر کله چه پرې کوم ئې خپل قدمونه ډیرمټ اولار راته ډیره اوږده څرگندیږی ... ناامیندی می رېږدوی ... نو بیا خپل عشق ته نشوه ور کوم ... ځکه چه عشق یوه جاودانی قوه او یو آسمانی سوغات دی خو چه بیا ناطاقته شم نو وایم :

لویه خدایه !.. دالار څومره اوږده ده ؟!..

خپل عصری اوله برمه ډک ژوندمی پرېښود. او یوازی هغه شی چه په دې لار کښې راسره ملگری دی یو سوزونکی عشق دی... دا بار هم زما ترقوت درو ند دی... خدای زده چه ترمزله پورې ئې رسولی شم که یه دپښوستو مانتیا حسوم او بیوا که زگیروی کوم چه:

لویه خدایه!...دالار څومره اوږده ده ؟! ....

« پاته د ۲۳ مخ »

تردی چه د لیلی پا لنگ ته ودرید !

څه گوری ؟؟ !

دگلو گیډی دزړه آرزو منگری څخی د مښکو کارخانه دامید نښه.

په دی یو جهان آرزو کښې د رښتنی مینی نښی او آثار دی چه څرگندیږی او دلیلی خماری ستر گی بیزته کیږی گوری چه د دیدن او وصال ملنگ ولاړ دی !

څه غواړی؟ ؟

د دیدن خیر !!

دغه دی چه دغلا خبری شروع شوی !!

په نیولی آواز :-

دا څوک ئی ؟

دازه !

آخر؟؟!

زه یم ستا د دیدار آروزمند.

که څوک راشی ؟؟

نو څه !! ؟

مړ به شی !

خیر دی !

خدای دی نه کړی !

آمین !

رازه کښینه!!

وگوری چه دی وخت کښې د (رازه کښینه) جمله څومره تاثیر اچوی په دی جمله کښې څومره خوند پروت دی دا جمله څومره قیمت لری چه په دی وخت کښې ئې دمینی په لنبه سوې مین اوری رښتیا داده چه خوږی خوږی جملی پیدا کیږی او بیا چه دغه خوږې جملې په خوږه وخت کښې د خوږې لیلی د خوږې خولې نه واورېدلی شی نو د هغو قیمت هغه پېژنی چه دمینی په عالم کښې شپې ورځی سبا کوی.

دگلو د اوژه اثر :

ژبني پوهني

(۸)

اشتقاق سفکسونه

دښاغلي رښتيا ترجمه :

اشتقاق دبيان دعلم هغه لاره ده چه دهغه په موجب که د کومي کلمې په آخر کښې يو سفکس اضافه شي بله نوې کلمه ځني جوړه شي. مثلاً لويښت، لويول د «لوی» دستي مشتقات بلل کيږي.

سفکس : سفکسونه هغه اختتاميې دي چه د کلمي د بيخ پر معنی اثر اچوي لکه د «يز» خاتمه چه د کال څخه «کليز» جوړ شي يا لکه د «لمرختيز» او «لمرلويديز» «شپږايکيز» او نورو کلمو په آخر کښې چه راځي او معنائي اړوي.

اکثر سفکسونه د اسمونو په آخر کښې علاوه کيږي مگر ځيني نورشته چه د صفاتو او افعالو او د مفعول او ظروفو پر اسمونو هم اضافه کيږي.

د افعالو سفکسونه

کله کله پر افعالو داسي اجزا علاوه کيږي چه په فعل کښې د ډېر والي يا لږوالي او نورو مفهوم پيدا کوي (په فرانسوي کښې د فعل په آخر کښې راځي ځکه ئې نو سفکس بولي مگر په فارسي کښې په سر کښې راځي لکه بازداشتن برگرداندن چه دانو تر پريفکس لاندي راتلای شي)

د ظروفو سفکسونه

په فرانسوي کښې د ظروفو په آخر کښې عموماً Ment راځي چه د «بودن» د حالت معنی افاده کوي.

د لويوالي، کوچنيوالي او سپکوالي سفکسونه

ځيني سفکسونه د لويولو او لوی ښوولو د پاره وي مثلاً AGNE چه لويوالي افاده کوي لکه په دې کلمه کښې : Moutagne چه Mont د غره په معنا او Agne د لوی معنا لري. او نور بيا دي چه کوچنيوالي ښيي، د دې د پاره په فرانسوي کښې مهمه علامې Ette او on دي چه د Maison (کور) maisonnette او د Ane (خر) Anon راځي - (په پښتو کښې (ټي) راځي لکه «هلکوټي، باغگوټي، سړوټي» يا نور ...)

يو بل قسم د تخفيف، تحقير او سپکوالي د پاره راځي لکه په فرانسوي کښې چه د اعلامه لري مثلاً د ليکونکي Ecrivassier, Ecrivain راځي.

د کلمو کورنۍ

د کلماتو فاميل يا کورنۍ د ټولو هغو کلمو مجموعه ده چه يوه ريښه ولري.

لکه د وقت - د کلمې څخه دا کلمې پيدا شوي دي! موقوت - موقت - موقته - موقتي وقته فوقته ميقات او نور... واقعاً دا ټولي کلمې يو فاميلي او کورني وضعيت لري او ټولي د (وقت) د سيلاب له رويه تشخيص او جلا کيږي او دغه جزء د ټول مشترکه (ريښه) شمېرل کيږي او د مخصوصو تعديلاتو سره بيا هم په ټولو کښې د (وقت) فکر چه د ټولو اساسي فکر په يوشان هغه افاده کوي ذهن ته راځي.

سته (بیخ)

که لحینی لغات چه له یوې کورنۍ څخه وی او د اساسی جزء په قسمت کښې سره اختلاف ولری علت به ئې داوی چه لحینی لغات مستقیماً د لاتین او یونانی څخه اخیست شوی دی او لحینی هم دفرانسوی لهمنل شوو لغتو څخه مشتق دی ،لهدې کبله نو اساسی جزء (سته) که په لمړۍ ډله کښې لاتین یا یونانی وی او که په دو هم ډله کښې پخپله فرانسوی وی کهڅه هم دافرانسوی اصلاً له لاتینی او یونانی څخه اخیست شوی وی ،فرق کوی .

❀ ❀ ❀ ❀

داشتقاق علم Etymologie

اتیمو لوژی هغه علم دی چه دهغه پهذریعه د کلما تو منشأ لټول کېږی چه مثلاً دا کلمهلهلاتینی څخهراغلی یا لهیونانی څخه اویا کومی بلی خارجی ژبی څخه او نور ...

کوم وخت چه د کلمو په تدقیق کښې هغهاجزا چه دترکیب یااشتقاق پصورت علاوه شوې دی لیری کړو نو بسیطی کلمې پاته شی،

ددې بسیطو کلمو یو شمېر له خارجه ژبو څخه اخیستی شوی وی ، اکثره علمی کلمې د عالمانه تشکیل پصورت له یونانی ژبی څخهاستعارهشوی وی مگر د فرانسوی لغتو اساسی تهداب لاتینی لغتونه تشکیلوی .

مرادف

مرادف هغه مختلفی کلمې دی چه تقریباً یو م معنا افاده کوی مثلاً ډوډۍ ، تیکله ، مړۍ ، یا نور په هیڅ یوه ژبه کښې داسی لغتونه نشته چه کاملا په یوه معنا وی . کلمې به په عام تعبیر مرادفی وی مگر کوم وخت چه وغواړو د هری یوې مخصوصه باریکی بیان کړو دامعنوی اشتراك له منځه لحی . مثلاً که یورته درې مثالونه تر نظرلاندې ونیسو ښایی چه هر لغت به حتمی یوه مخصوصه باریکی لهلحانه سره لری چه پخپل خپل لحای کښې به ښهمناسب وی مگر ددې استعمال لهامله بههغهبار یکی له منځه تللی وی او اوس به دتولو معنا یوه ښکاری .

نقیض (د کلماتو ضد) Antonymes

نقیض یاضد هغې کلمې ته وایی چه د بلې کلمې برعکس معناور کړی.لکه« جگړه » چهد « روغی »نقیض دی

شبیه (قریب المخرجی او قریب الاملا کلمی) Paronymes

شبیه هغه کلمې دی چه بې له دې څخه چه بالکل یه یوه شکل ولیکل شی او یاوویل شی نوردهبرشباهتونه یوله بلهسره ولری نو که شباهتونه دا ملادلحاظهوی او که د تلفظ له حیثه لکه شول او سول منسوب او منصوب ، منزجر اومنضجر او نور....

دغټو توروا ستعمال

پهاروپائی ژبو کښې چه توری لیکی د وه رازهئې لیکی : غټ ، واړه - داغټوالی اووړو کوالی نهیوازی دتورو په لیکلو کښې بلکه په شکل کښې ئې هم موجود دی او دژبی لهاصل سره ئې یوځای وده کړې ده مثلاً A(الف) پهدوه شکله لیکل کېږی A-a چهداغټ توری داستعمال دپاره خاص موردلری(نور په ۲۷ مخ)

ادبي کتنې

دناول منازل

(۱) تمهید (۲) واقعات (۳) جوش یاتحریك
(٤) تعویق (٥) عروج (٦) انکشاف (۷) خاتمه

دیلاټ دارتقاء په دوران کښې ناول ضرورخو منزله طی کوی او دا منازل یاحالتونه وروسته دتلاطم اوتنوع نه په ناول کښې روح اودژوند آثار پیدا کوی او دناول لوستونکی دلچسپی هم مضبوطیږی چه په ناول کښې دژوند علامې اوجل وبل موجودوی. او په هر ناول کښې چه د ژونداو ژوندانه څه مدوجزر موجود وی درتبې په لحاظ ډېرلوړ تصور یږی.

ناول دژوند یوه خاکه ده ـ اولکه چه د انسانی ژوند دری مرحلې دی همدارنګه دناول له یاره هم ددریو مدارجو یعنی دابتدا ، دواقعاتو او دخاتمې طی کول ضروری دی.

(۱) تمهید: دناول دتمهید مختلفې طریقې دی چه دناول نګار پرخوښه توقف لری ـ دشکسپیر طریقه داده چه له اوله دقصې اشخاص د لوستونکی مخی ته دروی او ددواړو تعارف سره کوی بیاپرقصه شروع کوی ـ کله کله داسی هم کیږی چه دتمهید سره غیر ګ دقصې شروع وشی ـ لکه د تینی سن مشهوره قصه «اینك آردن».

دقصې تمهید هغه مقام دی چه یدی کښې دناول نګارانو دقابلیت اندازه کیږی ـ کوم اثر چه ناول نګار د قصې په شروع کښې پرلوستونکو باندی اچوی هغه د کامیابی ذریعه شی ـ تمهید بایدچه لنډاو دفنی اصولو سره سم وی چه لوستونکو اره دانتظار په سبب زحمت پیش نشی اوراتلونکو واقعاتو ته چه اصلی مقصد تصور یږی زر وصل شی.

(۲) واقعات: دتمهید د خلاصید وسره متصل باید چه واقعات شروع شی او دیلاټ شروع هم له دغه ځایه کیږی ، دامقام دناول نګارا ود مصنوعاتو تمایش ګاه ده او ښوونکی ئې پخپله ناول نګار دی چه لوستونکو اره دخپلو مصنوعاتو سیل اوتماشه ښکاروی. اوښائې چه یدې کښې هرشی د فرائینو او دلایلو په ګڼو ښایسته وی ـ استی ون سن وائی چه پداسی وخت کښې دقصې اشخاص بالکل هیر شی، د قصې له عنوانه لری شو او د واقعاتو په ګرډ بائیو (ګرداوو) کښې غوټی وهو ـ یدې وخت کښې ناول نګار اره ښائی چه خیلې قصې نه در ښتیا جامې ورو اغوندی او د فطرت د دایرې څخه بهر قدم کښېږدی.

(۳) جوش یاتحریك دقصې او زد والی چه تر یوه حده ورسی نوناول نګار له ښائی چه د دلچسپی

(پاته د ۲٦ مخ)

او دخاصو اسمو اویا دجملو په شروع او یا مصرعو په سر کښې اویا تر شارحی(:) وروسته چه دبل سړی کلمې اقتباسوی لمړی توری ئې غټ راوړه کیږی.

همدا ډول داروپائی ژبو رسم الخط دوه قسمه دی تحریری او کتابی یا مخصوص د طبع توری ـ چه دا هم دلحانه غټاو واړه لری نو ګویا دیورتودوو قسمو له رویه ټول څلور ډوله لری ددې څلورو هر یوه اروپائی شکل او رسم الخط a (وړ، تحریری) A (غټ تحریری) 2 (وړ ـ کتابی) A (غټ کتابی)

(دغټو تورو استعمال دجملې اوخاصو اسماؤ او نورو په سر کښې ډېرګټور دی او ددې دپاره چه سړی پوه شی چه داعلیحده جمله ده اوکه دا خاص اسم دی ډېره مرسته کوی ، مګریه شرقی ژبو کښې داترتیب نشته که تردې وروسته وشی نو د لیکلو اوویلو د آسانولو دپاره ښه کمك کوی) (نوربیا)

له پاره دمتضاد وعناصرو کشمکش لوستونکی ته وړاندی کړی - نو پدې حال کښې خاموشی به شور وشر اوسکون به په اضطراب سره بدل شی - او دا ارتعاش او حرکت پخپله دلوستونکی په احساسا تو کښې دمد و جزر کیفیت پیدا کوی - او لوستونکی دمحبت ، غم غصی ، خوف ، شجاعت ، رشک ، انتقام ، همدردی ، ندامت ، مسرت اودنو روشیانو څخه متأثر شی - دا ارتعاش دناول په مړ جسد کښې روح وراچوی - په کوم ناول کښې چه پورتنی محرکات موجود نه و هغه لکه بی روحه تصویر داسی وی - دهمدی لامله فرانسوی ناول نگار بالزاك وائی د دنیا ټولو ناول نگارانو ته به معلومه وی چه کومه قصه چه دظاهری یا باطنی تحریك باعث نه وی هغه له عالی ادبیاتو څخه نه گڼله کېږی - گویا له دې حیثه افسانه او شعر دواړه مشترك دی ځکه چه دا ثر نه والی شعر او افسانه د واړه د اعتبار د پایې څخه غورځوی -

(٤) تعویق: هر کله چه کشمکش او دمحرکاتو اجتماع انتهائی عروج ته نزدی شی نو ناول نگار لره ښائی چه دناول گړندی تگ اورفتار سوکه کړی - ځکه چه پدې وخت کښې دلوستونکی حواس تار په تار او اصل مقصد ورځنی ورك شی او داصل مدعا لارښوونکی پخپله ناول نگار دی نو باید چه لوستونکی ته ښه ښوونه وکړی -

(٥) انتها: دتعویق له تاوکړو مقاماتو څخه وتلی قصه هغه مقام ته رسېږی چه اوج ترقی ورته ویل کېږی او څه وخت چه دی مقام ته رسېږی دناول نگار ټول ذهنی مخلوقات پر لوستونکی باندې ظاهر شی - دې ته ځکه اوج ویل کېږی چه دهغو متضادو عناصر و کشمکش چه دقصې له اوله شروع شوی وو په همدې وخت کښې انتها ته رسېږی او په همدی ځای کښې ئې عروج خاتمه مومی.

لکه چه لوستونکی په تدریج سره دې مقام ته خیژوی نو ناول نگار لره ښائی چه په همدې تدریج سره ئې بېرته راکوز کړی.

(٦) انکشاف: له عروج نه وروسته دطلسما تو کمه مانۍ چه ناول نگار دخپلې چالاکی په زور درولی وه هغه ټول وران اوړنگ شی بهتره داده چه پر لوستونکی باندی نتیجې منکشفی کړی او سوکه سوکه ئې دخاتمې ولورته بوزی - .

(٧) خاتمه : خاتمه عموماً دهغو احوالو تابع وی چه تېر شوی وی - ناول دوه ډوله دی « حزنیه » او « طربیه » مگر ضروری نده چه د هرې قصې خاتمه غم وه « حزنیه » اودهرې قصې خاتمه خوشحالتیا وه « طربیه » وبلل شی .

ډېر ځله پېښېږی چه سړی دغمونو څخه ډك یو ناول لولی او خاتمه ئې هم فرحت بخش وی مگر دی ته « حزنیه » ویل کېږی دریم قسم قصه چه نن صبا په یورپ خصوصاً په فرانس کښې ډېر فن کارانه تصور کېږی داده چه دقصې خاتمه مبهمه او نامعلومه پرېږدی او هر سړی دخاتمې په باب کښې ځانله توجیهات کوی - داردو ژبې ناول نگارانو هم دې قسمو ته اوس پیل کړی دی اودناول درفتار مختلفې خاکې وړاندی کېږی

ادبی سند

ښاغلی زاخېلیه !

دکابل مجلې په (١٧٠) گڼه کښې چه تاپه تېره گڼه یو ښه تحقیقی او تنقیدی مضمون لیکلی و ، هلته دادبیاتو له کلیشې لاندې شعر (دپسرلی پیغام) ښه ډېر ستایل شوی و ، مگر وروسته ترستاینې دی ویلی و : خونه یو هېږم د (زیړی گلو سراغ له) مصرع د « زیړی گلو » ترکیب د مطبعې سهوه ده که کوم په محاوره صحیح تاویل هم لری ؟

داترکیب لکه چه تاته نا اشنا او له محاوری یا گرامر څخه مخالف ښکاره شوی و ځینو نورو ته هم دژبې له قانونه مخالف ایسېدلی و ، مگر دا ترکیب په پښتو ادب کښې موجود دی لکه پدې لنډی کښې :

په لویو غرو دخدای نظر دی
په سر ئې واوری په لمن زېړی گلونه

❀ ❀ ❀

نو دا ترکیب دمطبعی سهوه مه بوله او غلط هم ورته مه وایه ځکه چه ادبی سند لری . (الفت)

ادبي فنون:

وینا یا خطابه

(۲)

لیکونکی ښاغلی بینوا

روم او خطابه: څنګه چه د سیسرون په قول د سوفیسطایانو سټه له سیسل څخه اېښو ولې شوې وه او بیا د سوفیسطائی عقیدې په اثر یا د دې عقیدې پر خلاف منطق منځ ته راغله او خطابه د منطق مهم رکن وباله شو نو لیری به نه وی چه ووایو د خطابی د علم د وضع باعث روم یا رومیان دی ، مګر البته په علمی حیث د خطابی فن یونانیانو تر هر چا دمخه تدوین کړی دی - او وروسته د سیاسی شخړو په واسطه په روم کښې هم دې فن شهرت وموند او د روم کوم وینا کوونکی چه د ذکر وړ دی دادی.

۱ - کانون - چه مهم نقاد دی (۲۳۲ - ۱۷٤) تر میلاد دمخه .

۲ - ژول قیصر - (۱۰۱ - ٤٤) تر میلاد دمخه چه د روم مشهور سردارو .

۳ - سیسرون - چه امام الخطبا باله شوی دی په (۱۰٦ - ٤۳ ق م) چه له هره حیثه د روم له اولو درجو وینا کوونکو څخه ګڼل شوی دی .

د دې دریم خطیب درې ډوله خطابې ډیری مشهوری دی چه نومونه ئې دادی .

لمړی کاتیلی نر ، دوهم ورین ، دریم فیلی پیك .

لمړی خطابې ئې د رومی سردار پر خلاف ویلې وی چه هغه غوښته د روم جمهوریت له منځه ورك کړی خو سیسرون چه خپلی څلور وینا وی د سنا په مجلس او نورو عمومی مجلسو کښې وکړی هغه سردار په نفی بلد محکوم شو او سیسرون ته د سنا له خوا « دوطن پلار » لقب ورکړه شو .

دوهم ډول خطابې ئې د سیسیل د جزیرې د یو مستبد او یاغی حاکم پر خلاف کړی وې چه تر محاکمې دمخه فرار شو .

دریم ډول خطابې ئې د آنتوان پر ضد چه د روم مشهور سردارو پر خلاف کړې وې ، او د ده ټولی وینا وی په فرانسوی ترجمه او طبع شوی دی .

عرب او خطابه: په عربو کښې تر اسلام یو سلو پنځوس کاله دمخه د وینا تاریخ شروع کېږی ، تر دې تاریخ پخوا څه په لاس کښې نشته . د دې دورې په خطابو کښې اکثراً دا موضوعونه بیا نیدل :

وجنګ ته ګمارل - د خون اخستلو ترغیب د جنګ پروخت - د اولسو په منځ کښې روغه کول ، ویاړنه او مباهات - د نمایندګانو په واسطه د مقصد څرګندول - د ښوکارو توصیه او له بدو ځان ژغورل دوا ده پروخت د زوم او ناوی ستایل او نور داسی . . . .

د عربو وینا کوونکی: د عربو د خطبا وزړونه لوی او صورتاً هم قوی خلك وه ، ځانونه ئې پاك او ستره ساتل شاوخوا ئې ډیرنه کتل - او څه چه ئې ویل هغه ئې کول - د خطبو پروخت ئې مخصوص خویونه درلودل مثلا : دواده په خطبو کښې به ئې په ولاړی په لوړ ځای او یا داوښ پر شا وینا کوله او دا د دې دپاره چه ټول خلك ئې زغ وا روی او د ده د لاس او سر ښورول او حرکتونه په ستر ګو وو ینی ، لویه لنګوټه به ئې تړلې وه ، پر لکړه یا نیزه یا لندی به ئې تکیه کوله او کله به ئې هغه ښورو له او اشاره به ئې په کوله .

د عربو د دې دورې خطیبان ډېر وه چه د پخوانیو پخوانیو خطیبانو څخه ئې د لوی زوی کعب وچه د رسول کریم اوم نیکه دی او په عربو کښې ئې د کنانه طایفه خصوصاً او نور عرب عموماً ښې لاری ته را بلل - دې سړی په عربو کښې دومره اهمیت وموند چه د ده مرګ ئې د تاریخ مبداء وګرزوله او تر عام الفیل پوری د تاریخ مبداء وه

د عربو د جاهلیت دو خت بل مشهور خطیب قس بن ساعده و ، داسې ی هم تو لو عربو په فصاحت او بلاغته اوحکمت اوموعظه منلی و ، او دده نطق او ذکاجوړ متل گرزېدلی و ـ که څه هم ترا سلام د مخه و ، خومو حد او دقیامت پر ورځ ئې ایمان در لود ـ اوتول عرب ئې له بت پرستی څخه منع کول او دلوی خدای عبادت ته ئې را بلل . والی چه دی لمړی سړی دی چه پر لوړه وخوت او په خطبه کښې ئې د (مابعد) کلمه استعمال کړه . اودوینا په وخت کښې به ئې پرتوره یالکړه تکیه کړې وه . او دفصاحت دا اصل چه « البینته علی من ادعی والیمین علی من انکر » هم د ده له وینا وخخه دی رسول کریم تر بعثته دمخه یوه ورځ دده وینا اروېد لې ده اوخوښه کړې ئې وه ـ دی تر بعثته لنډ دمخه وفات شوی دی او دده ډېره مشهوره وینا هغه وینا ده چه عکاظ په بازار کښې ویلې ده او هغه داده :

« ایها الناس : اسمعو اوعوا ، من عاش مات ، ومن مات فات ، و کل ماهو آت آت : لیل داج ونهار ساج ، وسماء ذات ابراج ، ونجوم تمز هر ، وبحار تمز خر ـ و جبال مرساة ، و ارض مدحاة ، وانهار مجراة ـ ان فی السماء لخبراً ، وان فی الارض لعبراً ، مابال الناس یذهبون و لایرجعون ـ ارضو و اقاموا ؟ ام ترکو افناموا ؟ یقسم قس بالله قسما لاائم فیه : ان الله دیناً هو ارضی لکم وافضل من دینکم الذی انتم الیه ، انکم لتأتون من الامر منکر آ ـ »

ترجمه : ای خلکو ! و اروی ، او ښه ئې زړه ته تېره کړی ، ـ څوك چه پر دنیا اوسی مری ـ اوخوك چه مړ شو ور کېږی ـ هرڅه چه راځی ، راځی ! ـ شپه تیاره ورځ رڼا ـ آسمان له پر جو سره ستوری لګېږي ، در یابونه مستی کوی ـ غرونه ټینګ دی او مځکه غوړولی شوې ده ـ او ولې بهېږی ـ نور رښتیا چه په اسمان کښې دلیل او خبر او په مځکه کښې عبرت شته ، دا څه کیفیت دی چه خلك ځی او بېر ته نه را ګرځی ـ ؟ ایا خوښ دی چه هلته اوسی ؟ او که پر ښود شوی دی نوبیده دی ؟ « قس » په خدای سره قسم خوری چه په دې کښې هیڅ ګناه نسته چه داوی خدای دین ستا سی تر او سنی دین ښه اوهم سناسی خوښېږی ـ نور ښتیا چه تاسی یو منکر او بد کارته رهی یاست ! ! »

د دې دورې بل مهم او مشهور خطیب اکثم بن صیفی دی دې خطیب د کسری انوشیروان په مقابل کښې خطبه ویلې ده چه د کسری داعجاب سبب شوله ، او ده ته ئې وویل :

« که په عربو کښې بې تا څوك نه وای ، یوازی ته کافی وی » او هغه ډېره ښه خطبه چه ئې کسری ته ویلی ده داده : « ان افضل الاشیأ اعالیها ـ و اعلی الرجال ملوکهم و افضل الملوك اعمها نفعاً و افضل الخطبا اصدقها ـ الصدق منجاة ـ و الکذب مهواة ـ آفة الرأی الهوی ـ و العجز مفتاح الفقر شر البلاد بلادلا امیر بها ـ الصمت حکم و قلیل فاعله ، البلاغة الایجاز ـ من شد دنضر ـ ومن تراخی تالف . »

ترجمه :

« بهترین دشیانو عالیترین د هغو دی ـ عالیترین د خلکو پاچهان دی او بهترین د پاچهانو هغه دی چه نفع ئې عامه وی ، بهترین د خطیبانو هغه دی چه رښتیا وائی رښتیا ویل دنجات سبب دی دروا غ ویل مهواة دی درأی آفت هوا اوهوس دی ـ عجز دفقر کلی ده ، په ښار و کښې هغه ښار بد دی چه امیر نه لری ـ پټه خوله حکمت دی اوپټ خولی لنډی ، بلاغته ایجاز دی هر څوك چه شدت کوی د خلکو نفرت د بروی . او څوك چه مهربانی کوی خلك پر ځان راټولوی ـ »

دا خطبه او نوری خطبی ئې د خطابی جنبه چندانی نلری بلکه لنډی لنډی جملی دی چه په مختلفو چارو کښې دیند او موعظی به رنګ ویلی شوی دی .

تر اسلام وروسته :

په عربو کښې تر اسلام وروسته وینا ډېره لوړه موقع وموند له اونوی سبکونه او خصوصیات پکښې پیدا شوه مثلاً دجمعی اختر و او حج خطبی ـ سیاسی دخلافت او سلطنت دټینګولو دپاره وینا وی پکښې داخلی شوی دوینا واوخطبو (نور په ۳۱ مخ کښې)

دادبیاتو په تاریخ کښې

دتحریری لهجو مقام

ښاغلی محمد قدیر خان تره کی:

ددنیا په ټولو ممالکو کښې ملی ژبی څه نه څه لهجوي فرقونه لری چه باید دادبیاتو دتاریخ په لیکلو کښې له دقت لاندی ونیول شی لهجه په هره ژبه کښې دحنجرې دفرق او تفاوت په اثر دا جتماعی ژوند دوضعیت له کبله او دخلقو دبدیعی میلان په سبب بیلیږی همدغه سبب دی چه په ځینو داسی ملتو کښې چه د اقوامو او قبایلو ترمینځ دتګ راتګ لیاری ګرانی او مشکلی وي هماغومره ئې دلهجو تفاوت هم زیات وی او د همدی لامله دلهجو دنزدی والی او لری والی درجه د مسافی په اندازه او طبیعی موانعو اړه لری که د یو څو قبیلو ترمینځ مسافه لږه وی او طبیعی عوایق په مینځ کښې نه وی، لهجی اکثراً یو له بله نزدی وی او که مسافه یا موانع زیات ولهجی هم هغومره تفاوت لري،

داد لهجو تفاوت ترهغه وخته ادامه لری چه دتګ راتګ وسایل او حمل ونقل زیات شی او داختلاط او امتزاج په اثر کښې تدریجاً وحدت ته ورسیږی.

څوك چه وائي ښارونه اولیاری په لهجو کښې وحدت پیدا کوی سبب ئې دادی چه ښارونه دلیدو کتو مرکزونه او دمفاهمی او ګډون ځایونه دی اولیاری ښارونو ته درسیدلو وسایل دی،

له دغو پورتنیو لطالعاتو څخه په صراحت معلومیږی چه په هر مملکت او هر ملت کښې په یوه ملی ژبه کښې مختلفی لهجی وی مګر دادبیاتو دمورخ وظیفه داده چه داد بیاتو په تاریخ کښې چه دی ئی لیکی ټولو ملی لهجو ته اعتبار ورکړی او دهری یوی لهجی خصوصیت وښئی. تکامل او تحولات ئې په واضح ډول څرګند کړی او هغه تاثیرات چه یوه لهجه ئې په بلی لری ښکاره کاندی.

که داد بیاتو په تاریخ کښې دژبی دټولو لهجو اساسی خطوط تعین شی او ددوی متقابل تاثیرات یو له بله وښودل شی نو دیوی قبیلی نفوذ، دذوق قدرت، دلهجی ملاحت او په سوونو راجتماعی تاثیرات چه په بله قبیله ئی لری ښکاره کیږی او داخبره په هر لحاظ خصوصاً دقبایلو داجتماعی حیات او طرز تفکر په لحاظ ډیره مفیده ده.

دادبیاتو تاریخونه چه دمقایسی په ډول دژبی دمختلفو لهجو دنمونو ښودلو په صورت لیکل کیږي دښی لهجی دساتنی او دغیر

(نور په ۳۲ مخ)

(پاته د ۳۰ مخ)

شروع کول په حمد او ثنا سره شوه ـ دقران کریم آیاتونه تضمین شوه او مرسته ځنې واخستله شوه. همداشان دلنډ والی او اوږد والی له حیثه ـ د دې دوری خطبا دومره ډیر دی چه په هیڅ عصر کښې دومره نه وه خو دلته ئې څو مشهوره خطیبان راوړو، لمړي چه ترټولو خطیبانو ئې اوله درجه وړې ده رسول کریم (ص) دی چه هیڅوك دده درجی ته نه ورسیدلی او دومره بلیغی او فصیحی او جاذبی وینا وی ئې کولی چه ټول خلك به دده په وینا مینان کیدل او دهر چا دا زړه غوښته چه دده وینا وار وی یا اقلاً د وی خبری ور سره وکړی حتی مخالفینو هم دده وینا وی ار ویدلی او ویل به ئې چه «محمد دخبرو سحرلری!»

دوهم خطیب علی کرم الله وجهه دی چه امام الخطبا باله شوی دی او دسید رضی نهج بلاغة ددې خبری شاهد دی نور مشهور خطیبان سحبان، ائل، زیاد بن ابیه حجاج بن یوسف ثقفی ـ خالد بن ولید ـ طارق او نور چه خطبی ئې په کتابو کښې ذکر شوی دی.

آشور او خطابه: کوم بل ملت چه دخطابې آثار ځنې څرګند شوی دی دآشور ملت دی چه دد وی دنیکه ګانو له پخوانیو نوشتو څخه چه په میخې خط لیکلی پاته شویدی او هغه هم غالباً ددوی دارباب الانواعو او پاچهانو قولونه دی چه وعظ او آداب ئې ښودلی دی.

«نور بیا»

پښتو
پلټنه
څېړنه

په پښتو کښې د نوروژبو د الفاظو قانون

ښاغلی «رښتین»

هره ژبه خامخا ځینی خارجی الفاظو ته احتیاج لری او په هره یوه ژبه کښې څه نه څه دخیل کلمات استعمالیږی. په پښتو کښې هم د دغسی کلمو استعمال شته او موجود دی.

مگر هر کله چه استعمالول او راوړل ئی په پښتو کښې ضرور دیو قانون او اساس تابع باله کیږی؛ له دی کبله غواړو چه په دی مقاله کښې د خارجی او دخیلو الفاظو د استعمال قانون ته اشاره وکړو، او په دی صورت د پښتو ژبی په یو مهم گرامری بحث څه نه څه رڼا واچوو.

❀ ❀ ❀

دا ښکاره ده چه پښتو ژبه له ښه مرغه یوه قانونی او اساسی ژبه ده، سربېره په دې په پوره اندازه د تحلیل قوه هم لری. نو په دې واسطه درست خارجی کلمات چه په پښتو کښې داخلیږی؛ هغه په خپل قالب کښې اچوی او دخیلو قوانینو تر اثر لاندی ئې راولی. او س په ور وسته ډول په پښتو کښې د خارجی الفاظو قاعدی ښوول کیږی:

تذکیر او تانیث:

۱ - هغه عربی الفاظ او مصدر ونه یا فارسی الفاظ چه په اخر کښې ئې (الف یا ه، و، ی) یا (ع، او ح) چه وړاندی ترې (الف، واو، ی) وی؛ راغلی وی؛ هغه په پښتو کښې اکثر مؤنث گڼل کیږی او د مؤنثونو مونو په شان استعمالیږی لکه:

الف
- مثال - استعمال
- اشتها - اشتهامی بنده ده
- التجا - تاته می التجاده
- ابتدا - اوس لا د کار ابتدا ده

ه
- مناظره - مناظره په علم کښې ښه ده
- مفاهمه - مفاهمه موسره وکړه
- توجه - په دې کار کښې ستا توجه ضرور ده

مثال - استعمال

ع، چه وړاندی ترې (الف، و، ضمه، ی) راغلی وی
- اطلاع - اطلاع راغلی ده.
- موضوع - دا ډېره مهمه موضوع ده.
- توقع - ډېره توقع لرم.
- ترفیع - حمید ترفیع وکړه.

«پاته د ۳۱ مخ»

فصیحو لهجو دور کیدو دپاره یا په بل تعبیر د طبیعی انتخاب او بقای اصلح دپاره یولوی خدمت بلل کیږی ځکه چه کوم شی چه مونږ دپخوانیو له ذوق، هیجانا تو او عمیقو افکارو سره پوره اشنا کوی هغه دادبیانو تاریخ دی، نو که دادبیاتو تاریخ دا وظیفه په ښه ډول انجام کړه موفق بلل کیږی او که نه نو ناکام ورته ویل کیږی د پښتو د ادبیاتو په تاریخ کښې ادبی مورخ د لهجو په نسبت همدغه وظیفه لری او بس.

ح، چه وړاندی تري (الف، و، ضمه، ی) راغلی وی

اصلاح - ددوی ترمینځ اصلاح وشوه.
تفریح - په سر کښې تفریح ښه ده.

	مثال	استعمال
و	گفتگو --	گفتگو ئی سره وکړه.
	جستجو --	جستجو ښه ده.
ی معروف	دوستی --	زمونږ دوستی کلکه ده
	مثنوی --	دا مثنوی لویه ده
	رباعی --	دا رباعی ښه رباعی ده

نوټ: الف او ه خو په پښتو کښې اصلاً دتانیث علامې دی.

او (ع، ح) لکه چه له حلقی حروفو څخه دی او پخپله په پښتو کښې نه ویل کیږی: بلکه وړاندی حروف ئې چه (الف، و، ی) دی، ویلی شی، نو له دې کبله دغسی نومونه مونث باله کیږی.

۲- هغه الفاظ او کلمی چه په صحیحو حروفو ختوم وی هغه مذکر نومونه دی او د مذکرو نومو په شان استعمالیږی. لکه:

مثال --	استعمال
اعتدال --	په هر کار کښې اعتدال ښه دی
مجلس --	مجلس اوس شروع شوی دی
تعصب --	تعصب ډیر بد کار دی

۳- ټول عربی فارسی مذکر صفات چه په صحیح حرف ختوم وی، په اخر کښې د (ه) په زیاتو لومړ نث کیږی لکه:

مذکر --	مونث
عاقل	عاقله
عالم --	عالمه
مالدار -	مالداره
خدمت گار -	خدمت گاره

نوټ: کله دیو مذکر صفت په اخر کښې هم (سوتی ه) راوړل کیږی، مگر دا قسم (ه) دفتحی د اظهار د پاره راځی لکه بد کاره سړی دی - تیز فکره هلک دی.

دجمع کولو صورت:

٤- هغه عربی الفاظ او مصادر چه په اخر کښې (جلی ه) لری دپښتو دمؤنثو نومو په شان (ه) ئې په مجهوله (ې) بدلیږی او جمع لحنی جوړیږی. لکه:

مفرد --	جمع
مناظره -	مناظرې
معامله --	معاملې
رفعه --	رفعې

٥- هغه عربی مصدرونه چه په اخر کښې ئې مفتوح (ع، ح) وی؛ هغه هم په آخر کښې د (ی) په زیاتوالی جمع کیږی، چه څوک ئې په معروفه او څوک ئې په مجهوله (ی) وایی. مگر دا دول جمعی غالبا په مجردو مصادرو کښې راځی لکه:

مفرد --	جمع
ربع --	ربعې
قبح --	قبحی
طمع-	طمعی
ذبح -	ذبحی

٦- هغه عربی نومونه او مصدرونه چه په اخر کښې ئې الف وی دپښتو دمؤنثو نومو په شان د (گانی) په زیاتوالی جمع کیږی. لکه:

مفرد - جمع
التجا - التجا گانی
ابتدا - ابتدا گانی
اقتدا - اقتدا گانی

ضمیمه: ۱- هغه نومونه چه په (ع، ح) ختوم وی، او وړاندی تري (ی، و، ضمه، الف) راغلی وی نو هغه هم د (گانی) په راوړلو جمع کیږی لکه:

مفرد - جمع
ترفیع - ترفیع گانی
موضوع - موضوع گانی
تنازع - تنازع گانی
اطلاع - اطلاع گانی
تفریح - تفریح گانی

۲- دارنگ هغه نومونه چه په (و، ی) ختوم وی هغه هم په گانی جمع کیږی لکه: ارزو - ارزوگانی
رباعی - رباعی گانی
مثنوی - مثنوی گانی

۷ هغه ټول عربی او فارسی نومونه چه په صحیح حرف مختوم وی؛ که چیری ذیروح یاد ذیروحو صفات وی د(ان)په راوړلو ، او که ذیروح نه وی د(ونه) زیاتو لو جمع کیږی لکه : ـ

ذیروح	مفرد ـ جمع قاتل ـ قاتلان عالم ـ عالمان فاضل ـ فاضلان
غیر ذیروح	مثال ـ مثالونه اختلاف ـ اختلافونه علم ـ علمونه قلمدان ـ قلمدانونه میز ـ میزونه

حالات او حکمونه :

۸ ـ که چیری عربی مصادر اونومونه دعربی جمعی په صورت استعمال شی ، او دجمعیت معنی یکښې وی نود اسی جمعی دپښتو د مذکر وجمعو حکم لری ، یعنی صفات ، افعال اوروابط لې دجمع مذکر په ډول راځی لکه :

مثال ـ	استعمال
واقعات	ډیرواقعات پیش شوی دی .
موضوعات ـ	ډیر موضوعات فیصله شول .
مساجد ـ	زاړه مساجدبیا جوړ شول .
انعامات ـ	انعامات ئې ورکړل .
مجالس ـ	مونږ داسی ډیر مجالس لیدلی دی .

۹ ـ ټولی عربی جمعی که چیری ، دماضی ، متعدی فعل فاعل یامنادی واقع شی یادار تباط داداتو سره راشی نو په دې ټولو صورتو ئې په اخر کښې مجهول واو راوړل کیږی . یعنی په عربی جمعو کښې په فاعلی ، ندائی وارتباطو حالاتو کښې واو زیاتیږی لکه :

فاعلی حالت	حوادث نواو واقعاتو وریږولم . ډیرو عرایضو ستړی کړم .
ندائی حالت	ای فاضلانو عالمانو! ای قاتلانو ! تاسی به دقیامت په ورځ څه جواب وائی .
ارتباطی حالت	په موضوعاتو باندی غورکول په کاردی . مطالبو او مقاصدوته فکر کول ضروردی . له طلاعاتو څخه لحان خبروا، ضرور دی . دعالمانو قدر یکاردی .

۱۰ ـ هغه مفرد مؤنث عربی او نور نومونه چه په آخر کښې ئې (ه)یا (ع ، ح) چه مفتوح وی راغلی وی ؛ نو په فاعلی ، ندائی ، ارتباطی حالاتو کښې ئې (ه) اوفتحه په(ی) بدلیږی . مثالونه ئې دا دی :

فاعلی حالت	مباحثی ستړی کړم فتحی خوشحاله کړ .
ندائی حالت	ای فتحی تل اوسی
ارتباطی حالت	له مناظری څخه لاس واخله . دتر کیبی حکومت دفتحی په وخت کښې خوشحالی ډیره وی .

۱۱ ـ که چیری دهغو عربی نومویه اول کښې چه په صحیح حرف مختوم وی ، (بې ، له ، نا)راشی نو په آخر کښې ئې که چیری (نه ، څخه) نه وی (ه)راوړل کیږی لکه :

بې مطلبه کارڅه یکار دی ـ له حاله خبر نه ئی ـ نافکره سړی دی ، اوداسی نور... مگر (نا)په عمل کښې ضعیف دی او په هرکښې دغه عمل نشی کولای لکه :ـ ډیر نافراریم .

د نوروژبو لغات په پښتو کښې

څنګه قبول کړو ؟

دښاغلی محمد رسول خان پښتون له قلمه :

تر دغه عنوان لاندی مودتیری میاشتی په مجله کښې دښاغلی خبرلوڅ مضمون ولوست زه په دغه باره کښې یوه لنډ رایه لرم لیکم ئې :

زه د دغه طرفدار نه یم چه څوك دبل چاپر زامنو دځانه نومان ږدی واقعاً دا کار دفطرت دی چه په زوره پردې راولی او بیائې خپلوی مګر که سړی ښه دقیق شی تر څو چه هغه پردی دخپلوی رنګ قبول نکړی او دقوم دصوت او خاصو لهجو په قالب کښې تنزل پرځان نه منی او دنوی ژبی هر ډول قوماندې ته اطاعت ونکړی خوشی په خوشی نه خپلیږی . نو هر کله چه خپل وبلل شوه هغو ته بیا دضرر په سترګه نه کتل کیږی او نه بیاور ته باید ضرر ورسولای شی کله چه ډیر حروف زمونږ او دنوروژبو تر منځ مشترك دی چه پدغه مشترکو حروفو سره مختلف قومونه ږغیږی او دیوه ډول حروفو څخه کار اخلی چه په هغو کښې فرقونه نشته دامتیاز وړ فرقونه ډیر ځله په ترکیب کښې دهغو الفاظو دی چه د محیط مقتضا او جسمی ساختمان سره او دهرچا دمفاهمو دوسائلو سره سم ئې اختلاف موندلی. او یا یوه ژبه په جلا ، جلا صوتونه او اواز سره استعمالوی (ماته دعلم دپلوه ښه نه ده معلوم) خو ګواکی مظاهره داسی راته ښکاری چه دحروفو ترکیب داواززاده دمحیط داقتضا او دجسم دجوړښت تابع دی .

ددغه قراره څخه مهم ممیزات دژبی او قومیت دپیژندلو شاهد باید ادا او لهجه وبلله شی چنانچه یو پاړسیوان او پښتون چه دواړه فاړسو وایی مونږ یو هېدلای شو چه کوم یو پښتون او کوم یو پاړسیوان دی . نو څرنګه چه د دغی لاری څخه دژبی وحیثیت ته صدمه نشی متوجه کېدلای نو مونږ به څه شی مجبور کړی یو چه دبل چاپر زامنو بیله ضرورت په تکلیف سره نو مونه ږدوا ویا به داسی بدنیته کیږو چه څوك به د کوره څخه شړو .

غرض دا چه هر څه شیان چه زمونږ دژبی نفوذ پرځان منی مونږ باید ورور ته کلك نکړو . یو بله خبره می هم دذهن ته راځی چه دژبو ترمنځ هم لکه چه یو نسبت پروت دی څه رنګه چه پښتو دارو پائی ژبو سره مناسبت لری هغه مناسبت مثلاً په عربی کښې نشته او پردی ډیر کلمات شته دی چه یو پښتون ئې ښه ادا کولای شی او ویوه عرب ته هغه زور غواړی . په هر حال هغه کلمات چه ادائی پرژبه درنه نوی او ذوق له هغو څخه بدنه وړی بله به داوی چه اړه په ونه لرو چه دا کار فطرت وکړی او دژبی نفوذ په طبیعي ډول سره پرجاری کاندی دغه رنګه ښائی چه لیکوال هم دا طریقه منلی او واکثریت ته خضوع وکړی .

د ځينو قلمي نسخو نوي معلومات

ښاغلي فتح محمد خان خټك (ايم ، اي ، ايل ، ايل ، بي) چه د مرحوم خوشحال خان خټك له ټبره څخه دي ، په يوه مکتوب کښې مونږ ته ځيني نوي معلومات د پښتو د ځينو قلمي نسخو په خصوص کښې ليکلي دي ، ځکه چه د پښتانه شعراء دلمړي جلد د طبع پروخت زمونږ سره دغه معلومات نه وه ، نوئې په ډېر تشکر دلته نشر کوو ، چه د پښتو ادب د پلټونکيو لپاره حاضر وي ، او له ښاغلي خټك څخه د دې ادبي کومك تشکر کوو :

ښاغلي خټك ليکي .. « زه د خوشحال خان خټك نوسي يم ، او ما سره څه پخواني کتابونه هم شته ، اگرچه د زمانې دلاسه ډېر زيات خوتلف شو ، مگر چه څه هم پاتي ، هغه ما څه قدر محفوظ کړل ډېر کتابونه پادري هيوز ځمادنيکه نه اخستي و ، او د خوشحال خان دړومبنۍ چاپي نسخې نه معلومېږي لکه چه په کښې ليکلي دي چه « د قلمي نسخې نه چه په قبضه د افضل خان خټك وه » افضل خان ځماد والد والدو ، تاسو پخپل کتاب پښتانه شعراء کښې ليکلي دي ، چه مونږ ته د کامگار نوم صرف د پادري هيوز د درې پدلو راسي معلوم دي ، کامگار خان ولد نامدار خان ځما په ليکونو کښې و ، او ما سره د هغه مکمل قلمي ديوان شته ، دا ديوان چاپل چاليکلي دي ، ځکه چه د هغه په آخر کښې دا الفاظ دي :

« سن ز رسل پنځه شپېته و چه رحلت وکړ کامگار
پس له ده نه په درې کاله پلار د ده فوت شو نامدار »

« تمت کتاب ديوان کامگار خان خټك ، ولد نامدار خان در دور پادشاه جمجاه ملايك سپاه تيمور شاه پادشاه ، روز يکشنبه ماه محرم الحرام سنه ۱۱۸۹ »

کامگار هم دا کوډې باشنده و ، ځکه چه دي وائي :

زه کامگار د سراي په کاڼيو ډېر مين تر ملك د شام يم

سراي دا کوړۀ خټك نوم دي ، هم دغه شان د ديوان عبدالقادر خان ، او ديوان هجري ، او ديوان کاظم خان شيدا قلمي نسخې لماشته ، او اعثم کوفي پښتو ترجمه د افضل خان خټك هم لرم ، تاسو پخپل پښتانه شعراء کښې فرمايلي دي ، چه « دا نه معلومېږي چه دا ترجمه د فارسي او که له عربي ځيني شوې ده » د پښتو دا ترجمه له فارسي ځيني شوې ده ، ځکه چه د کتاب په آخر کښې يو خوابيات دي ، او هغه دا سي شروع کېږي :

په مدد د پاك سبحان په اقبال د عاليشان
چه تاريخ اعثم کوفي په پښتو شوله فارسي

معلومېږي ، چه تاسو سره د کاظم خان قلمي ديوان نسخه شته ، ځماډېر خواهش دي ، چه دا کتاب بمعۀ مقدمه چاپ کړم ، د ديوان له نسخې يو دوه بيتونه واوري :

راشه گوره د کاکل سياه مستي
يو قدم په لاري تلي نشي بې دوشه
که په کور کښې يو خس نلري غم مکړه
قريه سوز آتش به مري ستا په حرم کښې
التفات ئې ستر گي هومره راته نکا
لکه شوخ آهو چه وگوري په رم کي

ع،ج سر د ار قیض محمد خان داعلیحضرت سفیر کبیر په انقره کښې او دچین وزیر مختار دافغانستان او چین
د دوستۍ د معاهدې په وخت کښې

د کابل ۱۷۰ گڼه

ښاغلی اغزی

دښاغلی زاخیلی مقالې مانه هم جرأت را کړ، چه د کابل مجله د تنقید په ستر گو ور گورم او کوم ځای چه خه ولری گوته ور ته ونیسم.

دمخه چه به می د گوتمندی ځای په دی مجله کښې وموند په پټو ستر گو به تر تیر شوم، له دوو جهتو یو خو دهغه چا د تریو تندی او بیځایه فهر خخه بیر یدم چه د دوی لیکنی ته به گوته نیول کیدله او بل می دا زړه ته نه تیر یدله چه د کابل په مجله کښې به داسی ور پرانیتل شی او په تیره بیا ر خپل ځان به تنقید قبلوی.

او س چه دا ور پرانیتل شو او داسی مضامین منل کیږی نو ماهم (۱۷۰) گڼه راو اخیستله گور م لې او د هغی په خوا وشا کښې دانظریه لرم:

دا گڼه په مجموعی حیث ډیره ښه ده، او په خوراغتو گامو د پښتو د خدمت او نهضت لور ته روانه ده. قطع ئی هم ښه او حجم ئی هم د وخت د اقتضا سره برابر دی، حروف ئی هم ښکلی او سم دی، مگر طباعتی غلطی ډیری لری یو ازی دا گڼه نه، بلکه له هغه وخته خخه چه پښتو شوی ده په هره شماره کښې ډیر ې مهمی غلطی په مطبعه کښې پیښیږی، حتی کله دا غلطی دومره غټی وی چه په لمړی نظر دمقالې لیکو نکی ته راجع کیږی، مثلاً دهمدې گڼې دالاندینی خو طباعتی غلطی چه د اصلاح وړ دی دمثال په ډول راوړم:

۱:- دوفایې په دوهم مخ کښې درحمان بابا د انتخابی شعر دلمړی بیت دوهمه مصراع نا قصه لیکلې شوې یو «د» پاته دی باید داسی وای:

«چه تو ښه ده د عقبا»

۲: دمقالو دفهرست عنوان داسی لیکل شوی دی، «ددې لیکونکی» شاید د صحافت د خانگی مقصد به داسی و: «ددې گڼې لیکونکی!»

۳:- دفهرست په پای کښې «عسونه» لیکل شوی دی، معنائې نشوه راته معلومه، ممکن ده یا کوم نوی لغت وی او یا به مطبعه کښې به لې نوی لغت لحینی جوړ کړی وی مگر دقطعو د کلمې خخه اتکل کیږی چه «عکسونه» به وی.

٤: په سر مقاله کښې چه د ژبو د مشتر کو کلماتو په شاو خوا کښې خبری شوی وی په دوهم مخ دوهم ستون په ۲٤ لیکه کښې د «ډیری» توری غلط سم لې «ډیر» دی. دهمدې مقالې په دریمه صفحه لمړی ستون او خلورمه لیکه کښې د «شته» توری غلط او سم لې «سته» دی په سین سره.

هو، دا راته معلومه ده چه پښتو ټولنی «شته» فیصله کړی او منلی دی مگر خبره دلته ده چه په دی ځای کښې بحث د «س،ت» په طبیعت کښې دی، چه د پښتو هستېدل او د پارسی «هست» او د انگلیسی Stay او نور هم ورسره راوړه شوی دی، په دې ځای کښې د لیکونکی مقصد په «س،ت» بشپړیږی، نو که مطبعې لاس یکښې وهلی وی هغه دې نکتې ته ملتفت شوی نه دی او که پخپله لیکونکی لیکلی وی دا خو ئې لا بله....

دغه ځای دی چه طباعتی داسی غلطی د لیکو نکی رنگ بدوی.

٥: دپنځمی صفحې دلمړی ستون په پاورقی کښې

باید «دوه‌سترگی» «دوې‌سترگی» وی ، که څه هم «دوه‌سترگی» محاوره‌شته‌مگر دجمع مؤنث په‌لحاظ باید «دوې سترگی»ولیکلی شی ، احتمال لری داهم دمطبعې غلطی وی .

٦: د پسرلی واده د نظم په اتمه لیکه کښې «رالوېږی»غلط‌ممکن‌چه«رالونېږی»وی‌داهم دمطبعې مهربانی ده(٨)مخ .

٧: دپسرلی‌د چاربیتی په شپا ډسمه لیکه کښې «کر کڼونه»عجبه کلمه چاپ شوې ده؟ چه‌د بیت قافیه او معنائې هم‌ورسره ورانه کړې‌ده. بیت دادی :

گل په وربل سنبل په څڼو وهی- که‌د مین زړه په‌دکر کڼونه وهی- خیر مطبعه خو بیاهم انصاف لری . په«لونېږی» کښې ئې«نون»کم کړی‌و ، دلته ئې «ن،ه»اضافه کړی‌دی .

٨: په ١١ مخ د غزل په پنځم بیت کښې : «سترگه‌را کږې کړی»څنگه ترکیب دی ؟ د سترگی د کلمې «ی»په«ه»بدله شوې‌ده ،داهم‌په‌مطبعه کښې.

٩: په ١٣ مخ ١١لیکه کښې «ځان»خان شوی دی داسی :«خبرنه‌وم زه‌له‌خانه !»

١٠:- د١٣مخ‌په‌آخر بند کښې «تېر»او«بېر» سره تېر بېر شوی‌دی .

١١:- په٢١ مخ ٢ستون دآخرله‌خوا په‌دو همه لیکه کښې د«نوای‌عشقه!ته‌چه‌زماشهی...»په‌جمله کښې «ته»معنانه‌ښندی،احتمال لری چه «تا»وی‌یانوری داسی غلطی چه‌دلته‌ئې نورراوړل بې‌فایدې دی ، داپورته طباعتی غلطی هم تنها دنمونې دپاره ذکر شوې که‌ټولی طباعتی غلطی راوړی شی ښایی چه په‌یوه مقاله کښې به‌ځای نشی اویابه د مجلی نیمی په ډک‌شی. نو که د صحافت څانگه مطبعې ته ویلای شی ورته ودې وایی چه‌ددې مجلې په‌تصحیح کښې لږ قدر ته کوښښ اوتوجه وکړی چه‌ویونکی‌په‌اشتباه کښې ونه‌لوېږی . او که مطبعې ته‌څه‌نشی‌ویلای‌اقلاً خودی دیوې مجلې غلطی په‌بله‌مجله‌کښې راوړی .

❀ ❀ ❀

راغلو معنوی‌خواته : زه دزاخیلی په شان نه غواړم چه سرتریایه پرټولو مقالو تبصره وکړم. فقط د هغو مقالو په‌شاوخوا کښې څه‌لیکم چه څه‌گوته ورته نیول کېږی :

١:- د«برابرنه‌دی»ترعنوان لاندی په‌ادبی جامه کښې یوه اجتماعی موضوع راغلې ده په دې مقاله کښې څه‌دگوتی نیولوځای‌نشته یوازی‌غواړم‌دتبصرې په‌توگه یوه جمله پرې اضافه کړم ، کوم‌ځای کښې چه وایی : «...یوه‌جامعه هم‌څوتنه لری‌چه‌د هغو په بینائی یوې اوبلی خواته حرکت کوی‌اولکه‌سترگی داسی گڼل کېږی !»

دلته داقید زیاتول غواړم‌چه :

هو،مگرچه‌داسترگی‌ړندې‌نه‌وی‌یاپه‌ویښو بیدی نه‌وی

٢ : دبلوغ دد ورې تأثیر یوه تربیوی مقاله ده چه دعربی څخه اقتباس شوې .

ددې مقالې په دوهم مخ دوهم ستون ١٧ لیکه کښې‌چه دجنسی غریزې په بیان کښې‌وائی چه دبلوغ په وخت په لمړی‌ځل(په اکثرو کښې)نجونی له‌سړو څخه او هلکان له ښځو څخه ترهېږی نو یو له بله په څنگ گرځی مخ پټاوی او حیائې په‌طبیعی ډول‌یعنی په غیرارا دی صورت ډېره‌وی - »دلته‌فقط دومره خبره شته چه البته دابه شرقی کیفیت وی ، په غرب کښې خو «مخ پټاوی »بیخی نشته ، حیاکه وی لابه وی !

❀ ❀ ❀

٣ : دپسرلی‌واده چه په‌مستزاد ډول یونظم‌ترې جوړ کړی شوی دی زمانظر ډېرجلب کړ - په دې نظم کښې«میرمن مځکه »ناوې ده ،«پسرلی آغا» ئې مېړه دی ودوی ئې ، دې ناوی زرغون کمیس اغوستی چه په گلانو روغ شوی دی‌اوتپاك دعا شقانو را ولی‌مگر په‌دې مصرع کښې چه :

« پسرلی آغائې‌غواړی ورته لمرمر که کېږی »

دلمر مرکه کېدل یوعجیب تعبیردی . لمړی خو داچه مرکه یوه سړی ته نه وایی دېښتنو په اصطلاح مرکه باید ډېرخلك وی ، یوه سړی ته (مرکاو)وائی ، نوباید ډېر لمرونه وی چه مرکه ترې جوړه شی

اوبل داچه که وویل چه د مرکې فعل یوه سړی ته هم راجع کېږی اودلته دفعل په صورت راغلی نو بیا لمرخو یوازی په پسرلی کښې نه وی - په و وړی اومنی ئې چاته و دوی ؟

هغه وخت به نو پسرلی مځکی ته طلاق ور کوی او ووړی ،منی به ئې په نکاح کوی ، ددې میر منی به دعدې ورځی څو وی ؟ او دا به څنګه شهی وی او څنګه به د رحمت په او بو پریوله کېږی چه په کال کښې څلور واره ودېږې او څلور مېړونه به کوی؟

٤ : په ۹ مخ کښې له پښتون ږغ څخه یوه چار بیته رانقل شوې چه ظاهراً ډېره روانه ، دلچسپه او خوږه ښکار ېږی او حقیقتا هم که ئې شاعر لږ څه قدر معنوی خواته هم توجه کړې وای اولکه چه الفاظ ئې ډېر ښکلی سره غونډ کړی دی معنوی حسن او خوږ والی ئې ور ډېر کړی وای دملی ادب بهترینه نمونه وه - مګر متأسفانه داسی ښکار ېږی چه شاعر ئې ډېر بې پروا او ژرویونکی دی . نو که لږ د خپلو اشعار و معنوی ښکلاته هم توجه و کړی په دې لار کښې به ترهرچا دمخه شی - مثلاً د دې چار بیتی شلم بیت چه وائی :

ستا اننګی دتندی خال به ښه وی
که دالاله دځمکی شال به ښه وی

په دې بیت کښې شاید اننګی له لاله سره تشبیه شوی وی چه د وا ړه سره دی مګر دتندی خال او دځمکی شال څنګه سره راځی ؟

او که داسی نه وی نو څنګه ده ؟

ایا دځمکی شال له اننګو سره اولاله دتندی دخال سره تشبیه شوی دی ؟

دتندی خال شین اولاله سور دی ؟ !

یا په درویشتم بیت کښې دغرو دسر بریښناد محبوبې دخولې د خندا سره مشابهه شوې ده ، ښه بریښنا خوخندا شوه مګر غر او خوله څه تناسب سره لری؟ که ئې نه لری نود (غرو) کلمی را وړلو ته څه ضرورت ؟ ! یاداسی نور ....

❀ ❀ ❀ ❀

٥ : په ۱۲ مخ کښې د(مینی ددنیا) اوم بیت چه وائی :

داڅه کیف ونه پوهېږم - دازما په زېګېدا کښې کور کېهول می واړه خوښ و ،زه هم خپله په خندا کښې اول خو دا چه هیڅ وړ و کی ماشوم د خپلو زېږېدو په کیف نه پوهېږی او په هغه وخت کښې چه نوی دنیاته راځی او له احساساتو سره نوی مخامخ کېږی په(کیف) نه پوهېږی بل دا چه(زېګېدا) ناسم او (زېږېدا)ئې سم دی .

دریم داچه په دوهمه مصرع کښې وائی:

(زه هم خپله په خندا) داله واقعی امر څخه لیری خبره ده . ځکه چه ووړ ماشوم دزېږېدو پر وخت لمړی ځل ژاړی او په دغه وخت کښې به دې ښاغلی شاعر هم ژړلی وی ،نو نه یم خبر چه ده نه څنګه خندا ورغلی ده؟

❀ ❀ ❀ ❀

٦ : په ١٤ مخ کښې د(پاڅېدم)دینځم ،دوولسم اودیرلسم بیت قافیه دنور و بیتو سره مخالفه ده یعنی نور بیتونه په مجهوله(ې) تمامیږی او دادرې بیتونه په معروفه (ی) تمام شوی دی .اودا اختلاف دقافیې عیب دی .

❀ ❀ ❀ ❀

٧ : په همدی ١٤ مخ کښې(په مضمون پسی ځی) یونظم خپور شوی دی چه ډېر خوند ور او نسبتاً پوخ دی او دا امید کاوه شی چه شاعر به ئې ترڅه مدې وروسته دیښتو ښه شاعر شی - په دې نظم کښې فقط همدغه بیت چه عنوان ترې و تلی دی د ګوتی نیولو وړدی اوهغه داسی چه دی وائی :

(مینان ووتل بید یاته په مضمون پسی ځی) ځکه چه دمینانو وتل په مضمون پسی یو ښکلی عبارت نه دی- که دمینانو پرځای شاعران یابل څوك چه له مضمون سره ئې مناسبت درلودای راوړه شوی وای ډېر به وړ او مناسب و ،او یادمضمون پرځای کومه بله جمله چه دمینانو سره وړ وای راغلې وای ښه به و.

❀ ❀ ❀ ❀

٨ : - دوه مرغی مضمون چه په ۲۰ مخ کښې نشر شوی دی څوشیان لری ، یوخودا چه دامضمون دکابل دمجلې په پخوانیو ګڼو کښې په پارسی اوبیا په انیس کښې په پارسی نشر شوی دی ، چه ګو یادلته دریم تکرار دی . او بل داچه (دوه مرغی)

باید « دوې مرغی » لیکلی شوی وای ، ځکه مرغی کلمهٔ مونث ده او « دوې » هم باید د مؤنث په صورت را وړه شی ، لکه دوې ښځې ، دوې خولی دوې چوکی ـ که څه هم دا به محاوره وی مگر ددې دپاره چه د مؤنث او مذکر فرق و شی دا به ښه وی چه « دوې مرغی » ولیکلی شی . نود « دوه » کلمه به مذکر ته پاته شی . او څنگه چه دا فرق مهم دی نود پښتو ټولنی په تصویب کښې د « لږ او به » پر ځای « لږی او به » تصویب شوی وې ، که څه هم « لږ او به » محاوره هم شته .

❀ ❀ ❀ ❀

۹ : همداشان په ۲۱ مخ کښې « د شاعر دعا » په انیس کښې د گیتان جلی په کتاب کښې نشر شوې ده او هم ورو ستی جمله ئې چه دلته داسی را غلی « اې خدایا ! زما وطن ویښ کړې ! » اصلاً داسی ده :

« اې خدایه ! زما وطن د آزادی په هغه فردوس کښې ویښ کړې ! » د گیتان جلی ۸۹ مخ دی وکتل شی ،

❀ ❀ ❀ ❀

۱۰ : په همدغه ۲۱ مخ کښې چه کومه ترجمه د « پسرلی شو » تر عنوان لاندی نشر شوې ده په ٦ لیکه کښې لیکی چه ! « پسرلی راغی ، ځکه نو دهری چینې او والی له خولې جوش او خروش را وزی ! » د چینی خوله خولا یو څه درسته ده مگر د والې خوله په دغه مفهوم غیر مستعمل ښکاری .

❀ ❀ ❀ ❀

۱۱ : وینا ـ یا ـ خطابه چه په ۲۳ مخ کښې نشر شوې ده ښه مضمون دی ، مگر دو مره خبره شته چه ایا وینا د خطابی په معناده که دبیان ؟ یو وخت ما د پښتو ټولنی دیو فاضل څخه ار و ېدلی وه چه وینا دبیان په معنا راځی .

۱۲ : ـ د کوچنیانو سندری می په ٤٥ مخ کښې ولوستلې خو یوه نشوم چه دا ترجمه په نظم وه که په نثر ؟ که په نظم ده نو تاسی ئې دلمړی بند اول دوه بیتونه سره برابر کړی او که په نثر دی نو د انور بیا ولی مقفی غوندی ښکاری ؟

داخوئې یوه اوبله دا چه ایا ار وپائی اشعار زمونږ د اطفالو له روحیا تو سره سم دی ؟

او دامریکا یا اروپا شاعر چه د خپلو کوچنیانو د روح پاللو د پاره تخیل کوی ایا د پښتنو د کوچنیانو د روح سره توافق لری ؟ او که په زوره غواړو چه خپل واړه دهغو په تخیل وپالو ؟

اروپائی شاعران خپلو وړوته کږدی نه ستایی او نه خوند ور کوی ، نو بهتره به دا وی چه پښتنو وړوته پر پښتنی روح پښتو سندری جوړی کړه شی او د لیکونکی د مقالې له پایه همدا ښکاری چه دی پښتانه ادیبان دې خواته را بول .

❀ ❀ ❀ ❀

۱۳ : ـ د کیسې او نکلو نه تر عنوان لاندی خورا درد منه قصه لیکلې شوې ده ، چه په ویلو ئی باید سړی متأثر شی مگر متأسفانه پخپله د قصې پهلوانان متأثر نه دی ښودلی شوی : ـ

تاسی گوری ، ـ د سړی یوزوی په اور کښې سوی او بل ئې حلال شوی په وینو لژند پروت دی او د بل ئې ترځیگر دوك ختلی په داسی حال کښې داسړی خپلی ښځی ته وایی :

« فلانی ! را شه چه عجبه ټوکه دروښیم ! »

(٤٨ مخ دوهم ستون ۱۰ لیکه)

ایا یوه پلار ته د درو وړو زامنو مرگ څه ټوکه ښکاری ؟ ؟

مگر پخپله لیکونکی دا سی سخت زړه ولری ؟ ددې قصې په حقیقت او نه حقیقت می غرض نشته .

۱٤ : په دې مجله کښې بله خبره داده چه « ټوکې ټکالی » نشته او ښایی چه ځینی لوستونکی به ښه علاقه ورسره لری .

یا دا چه په هغه بله مجله کښې ښاغلی زاخیلی ته د خندا عوض ، قهر ورغلی و نو د زاخیلی قهر ټوکې خوړلی وې ؟ نو رمونو پر خدای سپارم او زه به نو ددې مقالې د نشر تر وخته پوری به خپل ټټر د سپر په شان سخت کړم چه د لیکونکو د تعصب او قهر د غشو طاقت راوړی ، که څوك خوابدی نشو پر بلی شمارې به هم خپله نظر په ولیکم ـ په ډېره مینه ـ

څه وکړم چه شاعر نه یم

له قندهاره دښاغلی لیونی استولی

دشعر قریحه بیخی لوی نعمت دی اودالوی نعمت هم لوی خدای وهرچاته نه دی ورکړی . زه یقین لرم لکه چه بډائی په ډېر عقل پوری اړه نلری شاعری هم په ډېر علم پوری نه ده او هیڅکله ظاهری شیان په معنی کښې دشعر مقام ته نشی رسېدلای .

هو، په ثروت اودولت سره سخاوت ، مروت ، فتوت ، مړانه ، بخښښونه ، نورښه ښه کارونه کېږی اماهر بډای او دولتمن نوچېری دا کارونه کولای شی ؟ مگر شاعر داسی نه دی . هرڅه چه وائی دځان دپاره ئی نه وائی بلکه دتمام جهان دپاره ئی وائی او فیض ئی عام وی نو باید چه زه ووایم «څه وکړم چه شاعر نه یم» ښه اوس چه شاعر نه یم ایا شاعران ماته داحق راکوی چه زه هم څه څه پدې باب کښې ولیکم که یه ؟ په هرحال سره داخو ثابته ده چه ژبه اودژبې ادبیات او محاسن یاعکس د هغه یوازی د شاعرانو ندی بلکه هرسړی ترخپلی اندازی پوری حق لری چه څه ووائی نودغه دی چه قلم می راواخیست اودا څو کرښې مې د کابل دمجلې دپاره ولیکلی .

خدای دی وکړی چه لکه ښاغلی ترین بمبارد نشم ولی په یاد می دی چه پروسږکال دانیس په اخبار کښې ښاغلی ترین دغسی یو څه ویلی واماداد باؤ دخواداسی حال پرجوړ شوچه خدای دې هرمسلمان ځنی وساتی . په هغو وختو کښې هم ماد ښاغلی ترین دموضوع سره سم څه یاد داشت کړی و اما رشتیا داده چه وېرېدم .

خیر اوس دومری وایم چه که دانصاف په سترگه وگوروایا ښاغلی ترین دهغو مره بمبارد وړو؟ آیاد ښاغلی «حبیبی» دلیل چه د خوشحال خان د ناوړو خبرو طرفداری ئې کړې وه او ویلی ئی و، چه (این گناهی ست که درشهر شمانیز کنند) منطقی او صحیح دی ؟ ایا که د ترین په ښار کښې یوه گناه عامه هم وی نو دخوشحال خان په ښار کښې هغه گناه روا کېږی ؟ او گناه نه ده ؟ ایا زمونږ دادباؤ انصاف اومنطق باید چه دغسی وی؟ توکل پرخدای دی زه خو خپل عرض کوم . انشا الله چه هوښیار ادیبان اودمرکز شاعران په لیونی باندی غرض نه کوی اوکارنه په لری .

د کابل دمجلی په یوه گڼه کښې (د پروسږکال داسد دمیاشتی) مې دالفت یوه غزل ولیدله چه ویلی ئې و (ددنیاغل مې مه گڼه دگلو غلاپسی ځم) بیا په بله گڼه کښې ښاغلی «خبرلوڅ» اعتراض کړی و ، چه غلا خو غلاده که دگلو وی که ددنیاوی څه فرق کوی ؟ رشتیا هم داده چه داسی ناوړې خبرې ولی زمونږ په ادبیاتو کښې ځای ونیسی ؟ ایا که دغه بیت دالفت په غزل کښې نه وای یا بل ښه بیت ئی دهغه په عوض وراچولای وای تردغه ښه نه و ؟

ښاغلی لوستونکی که د کابل د مجلې (دسږکال دجدی دمیاشتی) د (۱۶۶) گڼی ۱۹ مخ وگوری ور معلومېږی چه الفت نه په ښکاره سره بلکه داشاری په ډول دښاغلې خبرلوڅ جواب ئی ویلی دی څنگه : (چه یوخوارمین چه بی له مینی اومحبته ئی نور هیڅ نلرل او محبوبه ئې دگلو په دسته خوشحالېدله او گل هم چا په پور او پکرنه ورکاوه مجبورشو چه دگلو غلاته ملاو تړی نوولاړ او درشتیانی غله سره په باغ کښې ونیول شو که څه هم دواړه غله دی مگر هغه څوك چه ددواړو په حال ښه خبر دی ښائی چه یوه ته عفوه اوبل ته قهر وکړی) یاره که دما څخه څوك پوښتنه وکړی زه خو پر دی خبره باندی دالفت طرفدار نه یم او نه داخیالی قصه دلیکلو وړ بولم او نه دا دټنبلی سبق لایق دی چه وعاشقانو ته څوك ورکړی بلکه دغسی کسان دعاشقانو په ډله کښې شرعا اواصولانه شمېرل کېږی . دعشق لوړ مقام چېری غلاچېری ؟ دادبیات خوا پاکی بڼ چېری دا دکړوړو بوټی چېری ؟

رشتیا داده چه د کابل په مجله کښې مې دغسی مضمونونه نه دی خوښ ، په پای کښې نو د ښاغلو لوستونکو په تېره بیادالفت اوښاغلی حبیبی څخه انصاف غواړم چه په ښه ژبه مې دی پوه کړی . جواب دی راکړی اما لکه پر ښاغلی ترین باندی چه بلوا شوېده « نور په ۴۳ مخ »

له زاخیلی نه تشکر

ښاغلی بینوا

ښاغلی الفته !

دشیطان غوږونه دی کاڼه وی، په دی میاشتو کښې د کابل دمجلې څخه جوړه «څرګنده خزانه» جوړه شوې ده !

که دځینو پردیو خوښوونکو زلمیانو په څېر (چه پر دې ترخپل ښه ورته ایسی) له حقیقته سترګی پټی نکړم نو په پوره ډاډ ویلای شم چه د کابل مجلې اوس دخپل هغه مرام په تعقیبولو لاس پوری کړی دی چه کوم ددې مجلې دپښتنی روح سره ښائیده او ښائی چه ددې مجلې په پښتو کولو کښې هم دا مقصد و.

دپښتنو په هواد کښې دپښتو دزاړه اونوی ادب دژوندی کولو او پاڅولو اوڅرګندولو دپاره همدا یوه مجله شته اوبس،

دطلوع افغان په یوه پاڼه کښې به څه ځای شی داتحاد مشرقی دا خبار به چه په هفته کښې یو وار خپرېږی څه له لاسه وشی اتفاق اسلام، ستوری، اتحاد خان آباد، وړانګه اونورخوکورټ په دی خوا کښې زغېږی هم نه اصلاح اوانیس لا کله کله څه نه څه زغ پورته کوی مګر هغه هم د کابل د مجلې لیکو تکو په مرسته،

لنډه ئې داچه ددې مهم اوملی اوډېر لوی خدمت دپاره همدا د کابل دمجلې څو پاڼی دی چه دپښتو او پښتنو ورته سترګی دی او له ښه مرغه دپښتو دادب برجسته پالونکی اوپوهان هم اکثره ددې مجلې شاوخوا راغونډ دی ځکه نو باید دا مجله دملی ژبی له خدمته ستومانه نشی اوهر کله داوس په شان یاتر اوس لاهم ښه دژبی پر هر ګوټ رڼاواچوی.

لکه چه ومی ویل د دې مجلی پښتو کیده د پښتو دخدمت دپاره وه اوله هغه وخته چه پښتو شوی ده دملی ژبی دپرمخ تګ دپاره ئې ډېری لاری صافی کړی دی محسوس اوغیر محسوس خدمتونه ئې شروع کړې او پای ته رسولی دی دپښتو دادب راز راز مشکلی غوټی ئې پرانیتلی دی دپخوانی اوا وسنی ادب ښکلی ښکلی نمونی ئې سره راوړی دی ښه ښه مضامین ئې د څېړلو دپاره منځ ته راا چولی او نوی موضوعات ئې پیدا کړی دی چه یو له هغو څخه په دی څو ورو ستیو میاشتو کښې پخپله دمجلې پر مضامینو تنقید کول دی اوڅنګه چه تنقید په دی وطن کښې ډېر لږ په ښه سترګه لیدل کیږی اودتنقید منلو ته که څه هم حق

«پاته د ٤٢ مخ»

ښکنځل دې نه راته کوی
که خبره په نرمی قراری نه وی
نصیحت که په سو ټووی خوغلط

❀ ❀ ❀

څه وکم یو بل شی هم راپه یاد شو، الفت ددغې مجلې په ١٧ مخ کښې وائی:

چه واړه ئې غولوی په هغه دغه
که په بر ېتولاس وهی هم صغیران دی

❀ ❀ ❀

دلته دصغیر نسبت ودغسې سړی ته چه خلق غولوی دبلاغت داصولو سره به سم نه وی ولی چه صغیر خو کورټ بیګناه وی او دا لوی ګناه کار نو څه نسبت ورسره لری؟ نو که دصغیر پر ځای ناځوانان یادغسی بل شی ولیکل شی ایا تردغه به ښه نه وی؟ مثلاً:

چه واړه ئې غولوی په هغه دغه
که په بر ېتولاس وهی هم ناځوانان دی

❀ ❀ ❀

په ١٤ مخ کښې دښاغلی سیدبهاءالدین خان دغه بیت می نشو خوښ چه وائی:

که وصال مې دې نصیب نشو ژوندون کښې
ګوندی ګل شم چه لایق ستادمزار شم

❀ ❀ ❀

دا څنګه عاشق دی چه دمعشوق مرګ غواړی اوبیا وځان ته دګل نسبت ور کوی

وی څوك تن نه‌ږدی نوله‌دی کبله د کابل دمجلې دا اقدام یومهم اقدام دی اوباید دډیر احترام په‌سترګه ورته وکتل شی او هم دی خدای وکی چه‌وروورو ددی تنقید ونولمنه‌لویه‌شی اودوطن د نوروروز نامو اوجریدونو اقص‌یاښه‌والی‌هم بی‌له کوم تعصبه څرګندشی اوهم خدای‌دی دهغه‌چا پر زړه درحم اوبه‌تیری کی چه دا تنقید پروا ردیږی یعنی نا حقه‌ترله‌ونه وزی .

په۱۶۹ ګڼه کښې‌ما «دهو تکو په دوره کښې پښتو » تر عنوان لا ندی مقاله و لیکله په ۱۷۰ ګڼه کښې ښاغلی زاخیلی د هغی مقالی دوو ځا یوته ګوته نیولی‌ده یوداچه وایی د هو دمیر و یس خان په باب کښې داجمله چه(بیا له همداسی مورو پلار څخه ځوی پیداشی اودپلار ځای‌ونیسی نو به‌څنګه‌دپښتو مینه‌نه‌لری) دومره قدر ته څه‌لری چه‌مخکښې‌دمیرویس‌خان پلار هیڅ نه‌دی ذکر شوی..»

ښاغلی زا خیلی که هغو دروستوروته وګوری چه‌دپورته جملی دمخه راغلی دی نوورڅر ګنده به‌شی چه‌داجمله دمیرویس خان په‌باب کښې نه ده بلکه د شاه‌حسین په باب کښې ده چه‌وروسته‌دستی‌ذکرشوی دی اودشاه‌حسین دپلار ذکر خو مخکښې راغلی دی مګر که‌ددې تنقید په عوض داسی تنقید شوی وای چه دشاه حسین مور مخکښې نه‌ده ذکر شوی البته دااعتراض دمنلو وړو اوزه‌ئې هم منم‌چه داجمله زما څخه تیره شوی‌ده خو بیاهم دښاغلی زا خیلی څخه تشکر کوم چه‌دده دتنقیدپه‌واسطه په‌غیر مستقیم صورت خپلی غلطی ته‌ملتفت شوم اودغیر مستقیم‌صورت څخه مقصد دادی چه‌ښاغلی زا خیلی هم پخپل تنقید کښې تیروتی‌دی اودشاه حسین خبره ئې په میرویس خان پوری تړلی ده دښاغلی‌زاخیلی دوهم تنقید چه‌وائی «دمنوری مور» پرځای که «منوره‌نیا» راغلی وای ښه‌به‌ودا تنقیداواعتراض ئې بالکل‌درست‌دی داتوری دشعری مالیخولیا له‌مخی زماڅخه غلط شوی دی باید همداسی لیکلی شوی‌وای لکه ښاغلی‌زاخیلی‌چه‌وایې له‌ده‌نه‌متشکریم چه‌دتصحیح په‌سترګه ئی‌ورته کتلی‌دی.

زمابل مضمون چه ښاغلی‌زاخیلی ګوته ورته‌نیولی ده «دیارانو فراق» یوه ترجمه‌ده چه‌وایې «خالص شعردی‌خاص‌احساساتی،ژورندی» داخودی منی‌چه شعردی اواحساساتی نورنوڅه غواړی؟په‌هر شعر کښې به‌دا لازمه نه‌وی چه‌ضرور دی فلسفی هم وی بل‌دا چه‌داشعر دنورو افکاردی زمافکرنه‌دی که زاخیلی وایی چه باید داسی شی ترجمه شی چه ددې هو اد لوستونکی استفاده ځنی وکړی‌نودلته داسی‌ډیرشیان ترجمه کیږی چه‌بیله شعری خونده یوه ذره فائده هم‌نلری که خاص د کابل مجلی ته وګورو بیا خاص ۱۶۹ ګڼی ته‌نو د«تاج محل» پرمضمون هم‌دا اعتراض واقع کیږی چه‌خاص دهند دخلکودپاره‌به‌وی ..

همداشان‌ښاغلی زاخیلی‌ددې مضمون‌لمړی‌جملې ته‌ګوته نیسی وائی :«ګمان کوم چه آسمان به خپله څهره نه‌غوړوی !»دشاعرمقصد دسهار درڼا خپریدل دی او درڼا سپینوالی د څهرې سره تناسب لری یا دمخ تشبیه له‌سهار سره نو که استعاره شی څه ناروا کار به‌نه‌وی بیاهم که‌ناروا وباله شی ترجمه ده لکه د«تاج محل» دمضمون په‌ترجمه کښې چه‌لیکل‌شوی دی: «آسمان ددرد په دې مرغلره یوه د محبته ډك چك همیشه دیاره‌لګولی !»

ښه نو، که آسمان خپله‌څهره‌نه‌غوړوی، آسمان چك هم نه‌لګوی- دا دترجمې ظلم دی چه اصلی مفهوم بې‌له‌اصلی ژبی په بله ژبه کښې نه‌راځی او که راشی نوخوندنه کوی . ښاغلی‌زاخیلی د خپل مضمون په‌پای کښې‌وایی‌چه‌د«سحرباد»او«تاج‌محل»مضمونونه می‌تاسی‌ته بریښی دی چه‌څه پرې ولیکی، پوه‌نشوم چه‌له‌دې‌مضمونونوئې ولی سترګی پټی کړی دی ؟ دا دوه احتماله لری : یابه دده خپل مضمونونه وی نو په‌دې صورت زاخیلی ښاغلی خادم شو ! اویا به دخادم صاحب څخه بیریږی . په هرصورت دتاج‌محل دمضمون په‌شاوخوا کښې څوتوری دمخه وویل شوه، اود«سحرباد»مضمون‌دتیر کلو په کوم پسرلی کښې ماترجمه کړی اود کابل په مجله‌کښې په‌پښتو نشر شوی دی چه‌اوس دستی مې‌شماره رایاده‌نه‌ده، که څوك قانع نه‌وی دهغه کال دپسرلی مجلې دی وګوری چه زه دصحافت مدیر وم، نوځکه دا مضمون بیا راوړل اوترجمه کول تکراردی ، اوهم ددې‌مضمون داجمله لږ اړول غواړی :«پروامه کوه که‌ماونه پیژنی زه پیژنم هغه‌څوك چه‌ته‌ئې په‌انتظار کښې یې ! »

کابل اوویونکی یی

انسان څرنګه شاعر کېږی ؟

یو ښتنه :

ښاغلی الفت ! له ډېری مودې راهیسته زه په دی فکر کښې ډوب یم چه انسان « څرنګه شاعر کېږی ؟ » که شعر ګوئی په علمیت تعلق لری نو زه ډېر عالمان پېژنم چه په هر علم کښې کافی دسترس لری ولی "شعرنشی ویلای ؟

او که شعر ګوئی په ماغزو ، شوق وذوق پوری تعلق لری نو زه ډېر ماغزه لرونکی خلك پېژنم چه له هرچانه ئی ماغزه ډېر ښه اوهم ښه ذوقونه لری لیکن شعر نشی ویلای اوس ښاغلی یاچا صاحب ! که زما پښتنی ته اهمیت ورکوی دالار ماته وښیه او زما دسوال ځواب و وایاست اودا معماحل کړی، چه زما اودنورو ملګرو اشتباه رفع او زمونږ قناعت حاصل "شی اوهر کله چه شاعری مو ماته راوښوولـه بیادشعر ګوئی دفن په باب کښې هم لطفاً ځینی لار ښوونی بیان کړی، ..

غلام حبیب « نوابی »

غبرګون (ځواب)

ښاغلی نوابی !

ستاپوښتنې ته زه لږ څه حیران شوم ، کشکی زما کوم داراز ورد زده وای چه سړی هغه لوستلی اوشاعر کېدای یاشاعری لکه ملائی داسی وای چه دیوڅو کتابو په لوستلو ـ حاصلیدلای .

لکه چه ستا له پوښتنې څخه هم معلومېږی، ډېر خلق شته چه په (واو، یو) نه پوهېږی، خط نشی لوستلی، خپل نوم نشی لیکلی، خلاصه اوپنج کتاب ئې په ستر ګونه دی لیدلی مګر ډېر ښه شاعران دی ، ته پښتو ټولنې اوریاست مطبوعات ته مه ګوره بلکه کلو او باندو ته واوزه او بیسواده شاعران وګوره چه څه ښه شعرونه وائی اوپه شعر کښې ئې څومره دسوز کیف او جوش لیده شی .

دغسی چه شعر په متداولو علومو پوری موقوف نه دی هوښیاری ـ ته هم کوم شدید ضرورت نلری بلکه څه قدر ته دعشق اوګمینی لیو نتوب غواړی ، لږ څه زما خبری ته ځیر شه اوپام کوه ! چه دلیو نتوب تعبیر په حماقت او سفاهت ونکړې ، زما مطلب دادی چه سړی باید دیتنګ سترګی ولری چه هم دعشق بلی ډیوی او روښانه شمع ووینی او هم دغه سره اورته ځان بی اختیاره وغور ځوی ، هغه سترګی چه سړی له دغه اوره ستنوی یاهغه ړندتیا چه ددغی رڼا دلیدو مانع کېږی دواړه دشعر په مخکښې حایل کېږی اویه مجمل تعبیر ویلی شم چه بینائی هم کله لکه ړوند والی د شاعریت مانع کېږی .

که څوك غواړی چه شاعر شی (که څه هم زه خو هیڅکله او په هیڅ راز مصلحت نه ورکوم) نو څه به کوی ؟ په هر راز چه کېږی خپل بیغمه او آرام زړه به په یوه غمجن اوناقرار زړه بدلوی مګر داغم او ناقراری به ددنیا اومادی منافعو دپاره نه وی یعنی داغم به عشق پیدا کړی وی نه حرص ، نوهر کله چه ددغه عشق لمبه په زړه بله شی او یوسوی په زړه کښې پیدا کړی ، ورووروانسان د خپل معشوق په فکر او تصور کښې شی اویه یوه خیالی دنیا کښې ګرزی ، همدغه خیال چه قوت پیدا کړی دانسان له ژبی دالفاظو « نوریه ٤٦ مخ »

دافغانستان پخوانی تاریخ

(۲٤)

ښاغلی کهزاد

د بهاراته قبیلی یوه بله لویه څانګه هم لرله چه په سرو دونو کښې د (بهارا دواجا) په نامه یاده شوېده ، او یوه پادشاه ئی چه (دیواداسا) نومېده دا رغنداب په حوزه کښې یوه سلسله جنګونه کړیدی چه پخپله موقع کښې به پرې بحث وکړو. د (بهارادواجا) عشیرې جنګیالی مړونه اولوی ریشیان میدان ته ایستلی او دریګ وید د سرود دشپږم جز د تألیف نسبت د وی ته کېږی .

د بهاراته قبیله ښایسته ښه قوی او پیاوړی وه، هر کله چه په دوی کښې لوی لوی ریشیان لکه ویسوا میترا موجود وله نورو آریائی قبایلو څخه زیات دخپل تفوق اولوړوالی په فکر کښې و ، چه دخپلو قواو د تمرکز او

«پاتهده ٤ مخ»

او کلماتو په نغمه کښې جریان پیدا کوی او شعر کیږی که دا ممکنه وی چه څوك عشق پیدا کړی او پخپل زړه کښې ناقراری اولیوالتیا واچوی نو هغه شاعر کیدی هم شی او که عشق یا هغو مره او هغسی تخیل چه د شعر د پاره ضروردی فطری برخه وی چه په ځینو کښې په زیاته اندازه او په ځینو کښې ډېره لږه ښکاره کیږی نو ځینی انسانان په هیڅ راز نشی شاعر کیدلی لکه چه یو شاعر په هیڅ ډول نه بیشعوره کیږی - زما خپله شخصی عقیده هم دې خواته ډېر زیات تمایل لری چه دیوه کارغه په زړه کښې هیڅکله د سرو ګلو مینه نشو پیدا کولی او نه د بلبلو نغمې ور ښودلی شو لکه چه بلبلان په مرداره نشوراټولولی که څوك غواړی چه ناظم شی او خپلی خبری په یوه بحر او یوه قافیه کښې راولی هغه دی عروض او قوافی ولولی بیان او بدیع او معانی دی هم زده کړی ، د شاعرانو دیوانونه دی ډېر ګوری او په شوق دی ګوری ، ممکنه ده چه څه موده ورو سته خپله وینا مسجعه او مقفی کړی او ورو ورو یی شاعرانه شعور هم چه ښائی په ډېره لږه اندازه په هرچا کښې وی ور وزل شی او شاعر هم شی مګر دا نوزوروری طالع هم غواړی .

او س خو همدومره لنډ جواب بس دی ځکه چه ښاغلی لیکونکی او ادباء ښائی چه ستا جواب پوره او په ډېر تفصیل ووائي او تا قانع کړی سملاسی جواب خو همدغومره وی. ته پدې ګڼه کښې په همدی قناعت وکړه. او په آینده کښې د مقتدرو لیکونکو رهبری اولار ښودنی ته منتظر اوسه .

(الفت)

اداری په اثر ځمکه تسخیر کړی او دفتوحاتو خاوندان شی لکه چه لس اریائی قبیلی د (ده ملك) په معروف جنګ کښې چه (پکتیان) پکتویس ، پارت (پختانه) الینایان (نورستانیان) او زمونږ دهوادنور قبایل پکښې شامل و ، چه علیحده بحث به هم پکښې وکړو . دخپل ریشی (ویسو امیترا) دتبلیغ په اثر متحد شوه او د (بهاراته جبهه) ئی د (سوادش) یوه بل اریائی شاه په مقابل کښې چه دهند په خاوره کښې ننوتلی و تشکیل کړه .

دبهاراته قبیلی له خپلو ټولو لویو او وړو ځانګو سره څه موده دسپین غره او دهندوکش په جنوبی لمنو کښې تېره کړه او په تدریج سره د (سپته سندهو) (پنجاب) وادی ته ننوتل .

ددوو مهمو قضیو له مخی چه له دوو معروفو اریائی جنګو څخه عبارت دی چه ددوی پخپل مینځکښې یو د اریانا په شرقی سرحداتو کښې د (ده ملك) د جنګ په نامه او بل ئی دغربی جنوب په حواشیو د (سراسواتی) په حوزه یعنی ارغنداب کښې واقع شو او د (دیوادسا) پادشاه په جنګونو معروف دی او په دواړو کښې ، عشایر ریشیان ، زعما ، ملکان حتی چه دبهاراته شاهان برخه لری ، بی له شبهی او تر دیده معلومیږی چه بهاراته عموماً له دوولارو ، د کوبها (د کابل دره) دوادی له لیاری او د ارغنداب دوادی او دبولان ددرې څخه د (سندهو) ماوراته انتشار وموند او ددې لا مله چه دایوه پیاوړی او غښتلی قبیله وه هندئی پخپل نامه موسوم کړ او د (اریاورته) دقدیمی مانوس نامه په وزن ئی هغه ځای (بهاراته ورته) یا (بهاراته ورشه) وباله . دانوم دهند په پخوانی ادب کښې زیات شهرت لری او دهغه ځای ملی نوم ئی ګڼلی شو ، د (ورته) او (ورشه) کلمه ددقت وړده چه له شرحی څخه ئی څه نه څه معلومات لاس ته راځی .

دمخه مو وویل چه (ورته) (ورشه) هم ار ویدل شو یده دا نه ده معلومه چه دغه د تلفظ تغیر څه وخت پېښ شوی ښائی چه دومره ډیر قدامت ونلری او که ئی ولری نو دمختلفو نقاطو او د اهالیو د تلفظ په صورت پوری به ارتباط لری ، ښائی چه دهندوکش په شمال کښې به (ورته) او په جنوب کښې به (ورشه) ویل کیده یا به دهمدغه هندوکش په جنوب کښې په شرقی برخه کښې (ورته) او د غربی جنوب په قسمت کښې (ورشه) تلفظ کیده لکه چه تر اوسه هم په دغو ځایو کښې دصوت فرق (سخت) او (نرم) مثلاً په (ښ) او (خ) کښې موجود دی .

په هر حال (ورشه) کلمه اوس هم د پښتو په (ورشو) کښې مومو (ورشو) په پښتو کښې چراګاه او دځر ځای ته وائی ، چراګاه له ډېرو پخوانیو کلماتو څخه ده او معنی ئی د اریایانو دژوند له لمړیو مراتبو سره ارتباط لری او هغه زمانه را په یاد وی چه دا قوم لا (مالدار او زراعت پیشه) و ، بلکه د مالداری جنبی ئی عمومیت درلود ، دغو اګانو پادې ئی بهترینه دارائی وه او د حیواناتو تعداد دبدایی معیار بلل کیده نو له دی کبله (ورشو) او چراګاه ددوی په نظر کښې په مادی او معنوی لحاظ یو خاص اهمیت درلود . داریایانو داجتماعی حیات په بحث کښې به وګورو چه (آغیل) او (چراګاه) داریائی قبیلو په تشکیلاتو کښې څه مهم رول لوبولی دی داخبره له امکانه لری نه ده چه د هندوکش په صفحاتو او دارغنداب په حوزه کښې چه دواړه دحیواناتو د تربیی دپاره مساعد ځایونه و ، (آریاورته) لمړی ځل داریا دچراګاه دپاره استعمال شوی وی او د لهجی په فرق د هندوکش په جنوب او دارغنداب په سواحلو کښې په هماغه خپل مفهوم (اریا ورشه) شوی وی او کله چه د (بهاراته ورته) قبیله له خپلو حیواناتو سره د (سندهو) حوزې ته ښکته شوی وی هغه ځای ئی دخپلی چراګاه په نامه (بهاراته ورشه) بللی وی .

ټوکی ټکالی

دملګرو خبری

هیله لرو چه وروسته تر دې مونږ ته ښاغلی لیکونکی ددوه ملګرو خوږی خبرې دنشر دپاره راواستوی چه علاوه په خوږوالی دپښتو داصطلاحاتو او محاورو معنی هم پکښې توضیح شوې وی او د مجلی دغه برخه دپښتو دزدکړی په لاره کښې یوه موثره تعلیمی برخه وګڼل شی. (دصحافت څانګه)

ګل روز خانه ! هر څوك وائی چه اوس د غوړ لستونی اشنائی ده ، زه خو نه پوهیزم چه غوړ لستونی دچاوی او یدې خبره کښې څه مطلب دی ؟

نوروز خانه ! څومره ساده سړی مې لاته ولیدې ، غوړ لستوړی خو دغسی وی لکه سور ګل خان اوزیړ ګل خان، چه هر څوك ورته څنګ وڅټ وهی او خلق ئې په اشنائی فخر کوی .

ګل روز خان — ماخو د هغو لستونی هیڅکله غوړو نه لیده ، هغوی هر وخت په سابون لاس مینځی او په هفته کښې دوه ځله جامې بدلوی ، نو لستونی به ئې ولی غوړیږی ، څه قصابان خو نه دی .

نوروز خان — وروره ! د غوړ لستونی معنا دانه ده چه لستونی به ئې په رښتیا لکه دمارکیټ قصاب غوړ پړوی ، چه دسړی به ترینه کرکه کیږی او هر قصاب هم داسی نه وی ، د ځینو قصابانو لستونی له مااوتانه هم پاك ښکاره کیږی او دغوړو نښه پکښې هم نه وی .

دلته مطلب له غوړ لستونی څخه مال او دولت دی

ګل روز — د مال او دولت له غوړ لستونی سره څه ؟ د سړی چه مال ډیر شی نو خپل کالی خو به نه غوړی .

نوروز — ته خو خبری ته لږ غوندې پام وکړه چه زه څه وایم ؟ مقصد دا دی چه خوار او غریب سړی غوړی نشی خوړلی او لستونی خو لا څه کوی چه ګوتې ئی هم نه غوړیږی ، نو دلته مقصد حقیقت نه دی بلکه مبالغه غرض ده .

دغسی ډیر الفاظ شته چه په ښکاره یوه معنی لری مګر غرض پکښې بل شی وی ، لکه په سترګو کښې ننوتل چه مقصد ورځنی په ښکاره دروغ ویل او په دروغونه شرمیدل دی ، نو څنګه چه کیخی او واړه میاشتی دسړی په سترګو کښې ننوزی دغسی خو څوك دچا په سترګو کښې نشی ننوتلی- که ته وائې چه په سترګو کښې ننوتل دامعنی چه سړی به له جامو سره لکه چه په یوه کوټه ننوزی دسړی په سترګو کښې هم ننوزی ، نو داګز دامیدان ته خو دچا په سترګو کښې ننووزه چه څه درسره کوی .

ګل روز — نو که دروغ ویل په سترګو کښې ننوتل وی اوس خو ځینی کسان شپه او ورځ لکه رانجه په سترګو کښې ځای لری .

وروز — نو که رښتیا ووائی له سترګونه به ولویږی ؟ (دصحافت څانګه)

دی ، بد فعله دی څه دی و څه دی؛ هلته ئې خپلی ماینې ته ویل چه لال او بیږ وهه ترټه ئې ! څه سر دی گرزوم دظریف خان اوقات تریخ سو ، هلکان یعنی خوروو رور ورته ژاړی ، ظریف خان په چرت کښې دی چه څه و کم ؟ - دلته دبوډۍ لور «مابې» خبره سوه چه دظریف خان حلق تریخ دی په تکلیف دی ؛ او بې کوره دی ؛ نبایده خدری بې خطا باسی بله ورونکی ، بیابه زما څه حال وی ؟ باره په پټه راووتله د کوره راغله دظریف خان کره داحال ئې ولید ، کوچنیان ژاړی ظریف خان کور نسته ؛ ماښام دی ، اکا او دا کا ماینه ئې چرت نه یکښې وهی ؛ باره مابې ناره وکړه ؛

ظریف خان گرزی کلی په کلی — نیازمن می غواړی په زړه ویشتلی - دغه نور خلك بیده دی

دظریف دواړه وزرختلی - اې وزرختلی

یعنی نه ئې پلارسته ، نه ئې مورسته ، نه ئې بل غمخور سته ، لکه وزر ختلی مرغه داسی دی ، خولنډه داچه مابې دلال اوبیږ پر سرلاس ورتېر کړی ایمن ئې کړله . خدری ورغلی دی هغه خان چه د ظریف خان دپلار اشنای و ، او ظریف دپاتاڅخه گرزولی و . هغه ته ئې ویلی دی چه ظریف خان داسی بد کاره دی ، دخانۍ وړنه دی ؛ خانی خونواول ستاده ، او که نه وی زما حق ده ، دده سره خانی نه ښایی ؛ په د ده یوه چاره وکه ! خان ورته ویل چه مه کوه دپلار میراث دزوی وی چه پلار ئې خان و اوس دی دې خان وی ؛ او دامناسبه نه ده چه د دې کوچنی هلك څخه خانی په زوره وا خلم ، خدری ورته ویل هو چه دی ئې اهل وای ، منگر دی ډېرنا اهله دی ، خان خو باید باانصافه عادل د پنداره وی ، دبل و ناموس ته نه گوری - ظریف خان خو ډېر بد سړی دی که ئې نه منی ، ته تجربه په وکه خان ویل ښه دی !

لنډه داچه ظریف خان ته ئې حال وکی ، چه ته لکه چه خوابدی سوی ئی - ستا پلار زما اشنای و خدای دی وبخښی ، زه پاتاته درتلم تانه پرېښوولم لکه چه چاشیطانت درته کړی دی ، منگر زما په زړه کښې ولا که هیڅ لاسته نن شپه زما مېلمه ئی ، زه هغه دپلار په سترگه درته گورم - او خامخا به راځی که نه راغلی خوامی بد یږی ؟ ! ؟ ظریف خان راغی دخدری سره ئی صلاح وکړه چه مشر دی ، دپلار پر ځای دی چه دده څنگه خوښه ده خدری ورته ویل چه شل کرته ولاړ سه ډېر ښه دی - مېلمه کړی ئې یی نوولی نه ځی ، ده خو هلته بند دخان سره پوخ کړی دی ، په زړه کښې وایی چه که ښه وی که بد ، دخپلی خانۍ دپاره ولا که دژ وند څکه ځنی وکړی لنډه داچه ظریف خان دخان کره ماښام ورغی ، چه ډوډۍ ئې وخوړله ؛ خبر مېری ئې سره وکړې ، باره ظریف خان ویل ښه دی زه به نو رخصت سم ! خان ویل په تاریکه ده دلې به بیده سې ده ویل ښه دی ؛ خان اوظریف خان اودخان ماینه دری سره پرنغری ناست دی - خان اوس په ظریف خان امتحان کوی چه څنگه سړی دی ؟ خدری رشتیا وایی که درواغ ، منگر پخپله په زړه کښې څه نه ورسره لری - باره ئې وویل چه زه ځم مسجدته دخونی څخه راووت ظریف خان ئې دخپلی ماینی سره یوازی پرېښو ، چه و در ېږه ظریف څنگه سړی دی !؟! ظریف خان اودخان ښځه پرنغری سره ناست دی ؛ ظریف خان کښته گوری ، گرد سره سترگی نه ور اړوې ، چرت ئې په مابې کښی دی - خان کله د دروازې تر چاکو ورته گوری کله غوږ و نیسی چه څه وائی او څه کوی ؟ خو تر پایه ظریف چپ ناست و ، او کښته ئې کتل هیڅ ږغ ئې نه کاوه « دخان دماینې په غاړه یوغمی دی چه ځل وبل کیږی لکه څراغ داسی رڼا کوی » ظریف خان اخرته یووار سترگی وداغمی ته ورواړ ولې بیرته ئې کښته واچولې - خان چه دا وضعیت و لید لږ څه په شکی سو - خوږغ ئې و نه کی چه ته و ده چه څه کوی ؟

ئې «بيې» کښېښوولە . لنډه داچه اوس نودخان دوه زامن يوه لورده ، داظريف خوراپر گران دی ، اوس لوی دی ښايسته زلمی دی ، د ښکار هم ډېر شوکی دی ، اودغېږې هم شوکی دی گرده ورځ دخپلو همزولو سره غېږ باسی ، سات ورسره تېر وی کورته چندانی نه راځی ، خپله ځوانی کوی .

دغه مورو پلار ئې فکر وکړ چه ظريف خان دباندی امخته سو ، سبايو څه نشی ځنی جوړ ، دابه په څه چم کورنی کړوچه پخپل کاروبارو پوهيږی ، سبابه مونږ مړه دی به لچك وی . دغه پيسې به دربدره کړی ، داکاترلاس به وی تر برونه به پرخاندی مورئی وويل چه سړيه! راسه چه کوز ده ورو کړو ، نوبه کورته راځی ، پښه به ئې تر کنده وخيژی ، دمجلسه به راوگرزی ځان په کارو پوهوی !ولی چه ښځه سړی کورنی کوی او دکور په کارو بارئې پوهوی - پلارئې ويل ډېره ښه دی آبس ظريف خان ته ئې ويل چه زويه مونږ کوزده درکوو - پلانی ښځه داسی ښايسته ده چه توبه ، هغه به دروغواړو ، پلانه ده پستانه ده ملك ئې ورته خوښی کړ - ظريف خان دنې پر ميدان ورته ناست ، وايی زه بالکل ماينه نه کوم ، اونې هوالرم زه خپل شوق کوم - ميرويس راغی ملنگ ته ئې وويل چه ته ورته ووايه ، گوندی ستا پخوله وکړی ؛ ملنگ ورته ويل ښه دی . ملنگ راغی وظريف خان ته ئې وويل چه ظريف خانه ! سبا به دی پلا مړ وی ؛ دنيا به دی دربدره وی بې کوره به ئې ، ميراث خواره به دهری خوا املې درباندی وهی ، ستا په مرگ به خوشحاله وی - چه اوس دی لا پلار ژوندی دی کوز ده به درو کړو - ښه دی مور پلار به دی هم په خوشحاله وی ارمان بې وخيژی - ظريف خان دملنگ دخبری نه اوښتی ، ويل ښه دی ، چه ستا خوښه ده زما خوښه ده ظريف خان ملنگ ته وويل چه ښځه راغواړی ، نوبايد داسی ښايسته وی چه وتلې وی . ملنگ ويل ښه دی دگرده اولس په نجونو کښې چه ښايسته وی ، اوستا خوښه وی ، هغه به درو کړو ، ده ويل ښه دی - خود کلی په نجونو کښې يوه دظريف نشوه خوښه ، مگر يوې بوډی - يوه لور درلوده چه نوم ئې «مابی» ده چه ډېره مسکينه دربدره خاك په سره ده ، يو تورخيری ټکری ئې پرسردی ؛ منگر په رنگ ترټولو ښايسته ده ظريف خان دغه پيغله ځانته خوښه کړه ، اود ظريف خان پلار وويل چه خطاوتلې چه دامسکينه اسکېرلې دی خوښه کړېده - ده ويل يه نه يم خطاوتلی - پلار ئې ويل چه ښه ده چه ستا خوښه ده زمونږ خوښه ده .

لنډه داچه دبوډی - لو رئې وروغو ښتله - دبوډی - لورهم پرمينه ده منگر اوس ځوانی ده زغ نه سره کوی ، چه را واده ئې کړه يامی ور واده کړه - پلارئې ويل چه وده پر کراره به ئې وا ده کړو - خو په دغه نن او سبا کښې نن او سبا کښې ، يو وار دظريف خان پلارنا جوړه شو ، مړشو ، وا ده ئې ورونه کړ ، ظريف خان اومه خوله هلك دی ، دپلار پاتا ئې واخيستله - دظريف دپلار يواشنای دی داهم خان دی ، ظريف دپلار په ژوند ئې وخانی ته ځان ښوراوه ؛ خدری هم دخپل ور وربه مرگ خوشحاله شو ، چه گوندی خانی ماته را ور سيږی - ظريف خان ډېر هوشيار هلك وو ، دمشر قدرئې پېژاند ، دغه خان د ظريف خان دپلار پاتاته راتی ، منگر ظريف خان داحتياطه څخه حال ور واستوه ، چه ته اوس پاتاته مه راځه بيا به کړه اټکلوو - څو ورځی باد دظريف خان مورهم مړه شوه ، دلته خدری بيخی خوشاله شو - لال او بيی دواړه کوچنې دی - دلته نواوس خدری بډی پسی وغښتلې هر ځای بې بدناماوه ، غيبت به ئې کاوه چه ظريف خان ډېر ناروا

۲

ظريف خان او مابي

چه و ، يو سړي و ، د دې سړي نوم ميرويس و (۱) ، يو ئې ورورو چه «خدري» نومېدي ميرويس مشرو خدري کشپو ، د خداي کارونه دي ، دې ميرويس اولادنه درلود دي د ټوله خپل قوم مشرو خان ئې و - ډېره دنيا او دولت خداي ورکړي دي د هندوستان سوداګري ئې کوله ، خوراډ و ډۍ مار دي ، مهمانخانه ئې چل ده ، د خداي کوټه ډوډۍ ورکوي .

يوه ورځ يو ملنګ راغی په دروازه کښې ئې هل کړه ويل راوړه د ملنګ نياز ! د ميرويس يوه مزدوره وه ، دې په پلو کښې داوړو پرځاي ايرې ور وړې د ملنګ په کچکول کښې ئې و روا چولې کچکول ئې دايرو ورډك کړ - ملنګ ورته ويل دا دا چه پکردي نه را کاوه ، هغه دبل د کور څه چه مې ټول کړي وه ، هغه دي لارا باندي ودر وله را ودي لړله ولي ! ؛ پرڅه باندي ؟ دې ورته وويل چه او روا خاي تاسي ډوګړه مستان لنډهر ، را رهي شوي ياست ځانو نه مو ملنګيان ترا شلي دي ، په باطن کښې موخاوري لانشته - ملنګ ورته وويل چه څه وا ئې دا داڅه پيښه ده ؟ هغې ورته ويل چه زمونږ خان په دغه ګرده عمر اولاد نه دي ليدلي .

ور ورئې زامن لري لوڼي لري دي هيڅ نه لري هر څه خيراتونه ئې کړي دي ، روپۍ ئې خيرات کړي دي ، منګر په چا کښې دو نه تاثير نشته چه يوه دعا وکړي چه خداي خان ته زوي ورکړي - ملنګ ورته ويل چه ته خوامه بدوه هأ دغه زما لکړه واخله ورسه باغ ته دسېب ونی ته ئې ور وغور ځوه ، هرڅه سېب چه راولو ېدله رائې وړه چه زه ئې دردم کړم ، نو ئې ورکړه چه نيمي دي وخوري نيمي دې ماينه وخوري اولمړي اولاد چه خداي ورکړ هغه زما شکرانه ده زما دي - هغې هم لکړه را وا خيستله راغله باغ ته يوه خو را بار دانه دسېب درخته ئې پيدا کړه لکړه ئې ور وغور ځوله درې دانې سېب ځنې را ولو ېدې دغه درې دانې سېب ئې ملنګ ته ورکړه ملنګ وردم کړه - ويل هأ دغه دي اوس ئې نوور کړه خان او ماينی ته چه وې خوري خداي به اولاد ورکړي ، مزدور ئې سېب راوړه خان او ماينې ته ئې ورکړه دا نکل ئې ورته وکړ چه داسي و ، داملنګ را کړه څنګه وڅنګه .

خان هم ډېر خوشاله شو - باره ده او ماينی سېب سره وخواړه - عمر دي تيريږي ، نه مياشتي نه ورځي نه ګريه تېر شوه خان او ماينی ته خداي زوي ورکړ ، نوم ئې «ظريف» کښېښو ، هي زالم خوشالي شوه ، هشت ومشت شو چه خان ته خداي زوي ورکړ .

څه سردي ګرزوم ظريف خان ته ئې دايي ګاني ونيولي هه هه هه څه سردي ګرزوم دنکل کار دي ظريف خان لوي شو شپږ اوه کاله تير شوه ، دادي يوه ورځ بيا هغه ملنګ په دروازه کښې هل کړه ، مزدور ئې پر اوازو پيژندي ، ورالائې کړه زيري ئې پروکړ ملنګ خوشاله شو - راغی خان ته ، ورته ويل څنګه پر قول ولاړ ئې ، دغه ځوي خودي زمادي ؟! خان ورته ويل چه باچاتې څه کوې ؟ دده په عوض کښې هرڅه مال ودولت چه غواړي دربې کړم او که ئې نه کوي نو دلي اوسه ، ډوډي اوپوښ به زه در کوم ظريف خان به درسره وي ، دملنګ هم خوښه شوله چه ښه دي ! دلي به اوسم !!! ظريف خان داسي ښايسته دي چه ستر ګي نه پر رونېږي ، هر څوك چه ئې ووينی زړه پر بايلي . ملنګ دالته ځاي ورته ونيو دلي اوسي .

په دي مابين کښې خان ته يوزوي اولور بله خداي ورکړه چه دزوي نوم ئې «لال» کښېښو ، اودلور نوم

(۱) څوك وائي مسلم نومېدي - څوك وائي يونس و ؛ ميرويس اوددلارام دښادي خان پلار سره خپلوان وه ، منګر ميرويس د کشنخود و ، ښادي دتلخك ددلارام و .

هههه خوشبی پس وخپل ښارته نژدی ویوه کلی ته راورسیدی ماښام ئی ویوه مسجد ته ځان ورور ساوه دډېرو مزلواو ستړیا اوخواریو اوزحمتو او لوږووتندو په سبب ئی ماشام تبه سوه ناجوړه شوداغه شپه ئی تبه سهار پسی یك بنده شوه دالته په دغه مسجد کښې پسی پرېوت خوورځی ناجوړه وو ورځ په ورځ کمبوت او کهی ته تلی مرض ئی زیاتیدی اودژوند په وروستیو لحظو کښې ئی داسې ناری په نیولی نفس وکړی .

په گورستان کښې به ناری کړم چه ارمانجن دسپینی خولی راغلی یمه
زه به ارمان له دنیا ولاړم په آخرت به سره غواړو دیدنونه

وروسته تردې ئی دسترگو تور تله او سپین ئی را تله اوداسی ئی پخپلی مینی پسې فریاد کاوه :

سترگی ئی مه پټوی خلکو روح ئی معطل دی داشنا دیدن کوینه

آخرته طالب مړشو خدای دی وبخشی گل بشره خبره شوه بغاری کړی ناری ئی کړه :

نصیبه وسو ځی ایرې سې تند یه مات سی پرتاخه لیکلی وونه
گلان دخاور ئی بید اکېږی زما لالی تر گل نازك خاورو له ځینه
پل صراط به ورته نیسم پرمرور اشنا به غیږ وگرزومه
ماول دغمه به دې ومرم مرگ په وعده دی دروغجنه سوم مینه
ما له قلم مشوانمی راوړی دیار تاریخ دزړه په وینو ولیکمه

رارهی شوله طالب جان ئی پس له مرگه ولید چه په کفن کاوه ئی مینې ئی ناره وکړه ،

پریار مې سپین کفن غوړیږې پرما اوریږی دسکرو تو بارانونه

وروسته ئی طالب جان په کفن کښې پر جنازه ئی کښېښووائی خیست هدیرې ته ئی یووړ مینه ئی په پسې ده ژاړې طالب جان قبرته داخلوی ښخوې ئی مینی ئی ناري کړه .

قبر خوسل گزه کوهی دې ځوانان کوزیږې دناکام په تنا وونه
پرتورو خاورو زما سلام دی اشنای مې گل دې گل به نه خاورې کوینه
په گورستان مې دې سلام وې چه خاوری نه کې دجانان صدف غاښونه
ولی به نه ورپسی مرمه جانان مې گل دپسرلی خاورو له ځینه

اخرته ئی دغه لاندې ناري وکړې اود مومن په قبر ئی ځان واچاوه مړه شوه .

عالمه یو تربل جاریږې مادمجلس ځوانان لیده چه خاورې خورینه

لنډه داچه وروسته ئی دواړه ارمان زده مینان هلته یو ځای ښخ کړه .

تبصره

دطالب جان دنکل دنارو وزم مخصوص وزم دی ؛ اول ناره کوی بیا کسر پسی وایی لکه دا :: ـ
ناره : حجره سته طالب ئی نسته ـ حجره سته طالب ئی نسته « دوه واره »

پر حجره ئی لکه مار ـ وگرزېدمه دا ئی کسر دی پسی وایی ئی :
ارمان ارمان ، چه پردنیا ؛ ـ نه وای بېلتونه . طالبه ورانه دی سی ستا ـ ؛ لېونی مینه .

دپشتۍ شعر	لمړی سطر	غلط		صحیح	
		عقبا		دعقبا	
صفحه	سطر	ستون	غلط		صحیح
۸	۳		زرغون		دی زرغون
»	۷		سرونه		سروونه
»	۸		لوېزی		لونېزی
۹	۱۶		نه‌وهی		وهی
۱۳	۱۱		خانه		لخانه
»	۳۲		تېرته		بېرته
»	۳۳		بېرته		تېرته
۳۴	۲۷	۲	دیولی		دیوې
۴۲	۲۰	۲	کیتری کیتری		کتری کتری
۴۸	۲	۱	ورهم		وهم
»	۸	۱	لاره ده		ولاره‌ده

پته خزانه

داکتاب دپښتو دشعراو تذکره، اوددې ژبې مهمه تاریخی وثیقه ده د کتاب پښتو متن اوپارسی ترجمه دډېرو حواشی او تعلیقاتو سره چاپ شوی دی، (۲۹۰) مخه لری اومصور دی، متعد دفهرستونه او دلغاتو او کلماتو او تاریخی مطالبو تحلیل هم لری، د مطبوعاتو دریاست له پاڼو ځی څخه ئې رانیسیء، اودمخه تردې چه تمام شی، پخپله کتابخانه کښې داکتاب وساتیء.

ملي سندری

دا کتاب په تقریباً (۲۰۰) مخکښې نوی چاپ شوی دي، ملی لنډۍ، داتڼ ناري او دبابو لالی سندرې او مفصله مقدمه لری.

څونوی تمام شوې له پاڼو ځی څخه واخلیء

ملی هنداره

(دوهم ټوک)

دکابل دمجلې په پای کښې له هره ګڼې سره څلور مخه نشر کیږی، که تاسی دغه شمارې وساتیء، نو په پای کښې به دملی هنداری ددوهم ټوک خاوندان شیء

КГ